# د تعلیم خدمت

GLOBAL UNIVERSITY

# د تعلیم خدمت

GLOBAL UNIVERSITY

# د تعليم خدمت

ليكونكی
مارجري استوارت

*Global University*
P.O.Box 5749
Nicosia, Cyprus

# د تعلیم خدمت

لومړی چاپ ۲۰۰۸

2008 All Rights Reserved ©

Pashto “The Teaching Ministry” 2008

Global University
P.O. Box 5749
Nicosia, Cyprus

## د مطالبو فهرست


لومړی لوست: تعلیم یو خدمت کیدای شي........................ ۱

دوهم لوست: مسیحي تعلیم ژوند بخښوونکی دی ............ ۱۷

دریم لوست: مسیحي تعلیم یو ځانګړی تعلیم دی ............ ۳۵

څلورم لوست: ټول تعلیم ته اړتیا لري.............................. ۴۹

پنځم لوست: هر څوك كولای شي چې ښوونکی شي ............ ۶۵

شپږم لوست: د تعلیم له پاره د لیکنې یو میز ته اړتیا نه لرئ ۸۳

اووم لوست: تاسو یوه پیغام ته اړتیا لرئ ........................ ۹۷

اتم لوست: تاسو یوې طریقې ته سخته اړتیا لرئ.............. ۱۱۳

نهم لوست: عیسی د ښو طریقو څخه استفاده وکړه .......... ۱۳۱

## لومړی لوست

# تعلیم، یو خدمت کیدای شي

آیا پوهېږئ چه خدای ستاسو څخه غواړي چه ښوونکی شئ؟ په دې لوست کې به تاسو دغه مطلب زده کړئ. تاسو به زده کړئ چې ولې خدای ستاسو څخه غواړي چه تعلیم ورکړئ او تاسو څرنګه کولای شئ چه دغه دنده د یو خدمت په توګه بشپړه کړئ. زه ډاډه یم چې تاسو به دغه لوست په خوشالۍ سره زده کړئ او د دې زده کړې تر څنګ به تاسو نوې نظریې په عمل کې پلي کړئ. په دې اړوند به د مقدس کتاب څخه ځیني مهم آیاتونه هم بیان شي. په لومړي لوست کې به مونږ د متی د انجیل د ۲۸: ۲۰- ۱۹ څخه څه زده کړو. دغه آیاتونه د تعلیم په اړوند ځیني مطالب مونږ ته بیانوي. په دې لوست کې به تاسو زده کړئ چې مسیحي تعلیم د هغو لارو څخه یوه لاره ده چې خدای غواړي خپل ځان خلکو ته ور وپېژني.

تر ټولو مهم حقایق چه باید هغه له نورو سره شریک کړو په مقدس کتاب کې پیدا کېدای شي. خدای زمونږ سره مرسته کوي چې مسیحي ښوونکي شو او د نورو سره مرسته وکړو چې حقیقت پیدا کړي.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- مسیحي تعلیم توپیر لري
  له نورو تعلیماتو څخه توپیر
  له موعظې او شهادت ورکولو څخه توپیر
- مسیحي تعلیم یو روحاني امر دی
  تعلیم ورکول یو فرمان دی
  مقدس کتاب، د ایماندارانو مرجع
  روح القدس، د ایماندارانو ملاتړ
  شاګرد جوړونه

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- ♦ د مسیحي تعلیم توپیر له نورو تعلیماتو څخه چې په بیلابیلو ډولونو سره پرمخ ځي، وپېژنئ.
- ♦ دا توضیح کړای شئ چې تعلیم له وعظ او شهادت ورکولو سره څه توپیر لري.
- ♦ هغه دلایل ذکر کړای شئ چې ولې مسیحي تعلیم یو روحاني خدمت دی.

# مسیحي تعلیم توپیر لري

## له نورو تعلیماتو څخه توپیر

په دې دنیا کښې د هرڅه او د هر مطلب تعلیم ورکول کېږي. کله چې د تعلیم په اړه خبرې کوو نو سمدستي یو ښوونځی زمونږ په ذهن کې راوګرځي، خو ډېر تعلیمات شته چې د ښوونځي او ټولګي (صنف) څخه بهر پر مخ بیول کېږي. تعلیم ولې زمونږ د ورځیني ژوندون دپاره دومره مهم دی؟ د دې پوښتنې د ځواب دپاره مونږ باید د تعلیم یو جامع تعریف وړاندې کړو: تعلیم د یو چا سره مرسته کول دي، ترڅو هغه نفر یو څه زده کړي. هغه څه چې د تعلیم له لارې زده کېږي کېدای شي چه اطلاعات، پوهه او یا کوم مهارت وي. په دې نړۍ کې د ژوند کولو په خاطر مونږ باید ډېر شیان زده کړو. له همدې امله تعلیم ډېر اهمیت لري.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۱. تشریح کړئ چې مونږ ولې تعلیم ته اړتیا لرو ...
۲. کوم عبارت کولای شي دغه جمله بشپړه کړي: که چېرې هغه څه چې مونږ زده کړي دي، نورو ته یې ورزده کړو، ...
   أ. مونږ ماهران کیږو
   ب. مونږ له نورو خلکو څخه غوره والی حاصلوو.
   ج. مونږ تعلیم ورکوو.

مسیحي تعلیم یعنې په هغې پوهې کې د نورو خلکو شریکول دي چه مونږ یې د خدای سره په خپلې اړیکې کې لرو. دا هغه خدمت دی چې خدای تعالیٰ یې مونږ ته را بخښني ترڅو د نورو سره مرسته وکړو چه له هغه سره په خپلې اړیکې کې وده وکړي. پوهه په یواځې توګه کافي نه ده، بلکه له روحاني پلوه مهمه دا ده چې وکتل شي چې پوهه د یو چا په ژوند کې څه نتیجې او بدلونونه منځ ته راوړي. مسیحي تعلیم په دې معنی دی چې مونږ د هغو تعلیماتو څخه اطاعت وکړو چې د خدای په کلام کې موجود دي. په دې اطاعت سره مونږ کولای شو خدای سره د دوستۍ اړیکې ولرو (یوحنا ۸: ۳۱ او یعقوب ۱: ۲۲ - ۲۵ وګورئ).

مسیحي ښوونکی د خپل زده کوونکي په ژوند کې د څرګندو نتیجو په لټه کې وي. تر هغې پورې چې زده کوونکی په عمل کې خپلې زده کړې پلې نکړي، هغه څه شی نه دي زده کړي. عیسی مسیح خلکو ته یواځې خپل تعلیمات نه لیږدول بلکه هغه کتل چې د هغه د تعلیم په نتیجه کې د خلکو په ژوند کښې بدلون رامنځته کیده.. مسیحي تعلیم له یو چا سره مرسته کول دي چې هغه د خدای په اړه ډیر شناخت او پیژندنه پیدا کړي او په نتیجه کې د هغه ژوند بدلون ومومي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۳. د لاندینیو عبارتونو په هکله هغه صحیح ځواب چې په قوسونو کې دی غوره کړئ

أ. د تعلیم خدمت مونږ ته څوک راکوي؟ (خدای/ انسان)
ب. مسیحي تعلیم زمونږ او نورو سره مرسته کوي ترڅو (پوهه حاصله کړو/ په روحاني توګه وده وکړو).
ج. مسیحي تعلیم له نورو تعلیماتو څخه توپیر لري، ځکه چې زمونږ سره مرسته کوي ترڅو د (نړۍ په اړه/ د خدای په اړه) پوهه حاصله کړو.

## له موعظې او شهادت ورکولو څخه توپیر

رسولانو به د انجیل شریف د زېري ورکولو دپاره له دریو طریقو څخه ګټه اخیستله. کیدای شي چې تاسو د هغو په اړه اوریدلي وي او یا تاسو هم دغه طریقې کارولي وي. دغه درې طریقې عبارت دي له وعظ، شهادت ورکولو او تعلیم څخه.

په لوقا ۲۰: ۱ کې عیسی مسیح په تعلیم برسیره، موعظه هم کوله چې په اعمال ۵: ۴۲ کې لولو چې: "او هره ورځ هغوی د خدای په کور کې او په خپلو کورونو کې تعلیم ورکول جاري وساتل او دا زېرې یې ورکاوه چې عیسی مسیح دی." وعظ کول څه معنی لري؟ آیا په دې ورستیو کې تاسو داسې کومه موعظه اورېدلې ده چې ستاسو احساسات یې تحریک کړي وي او تاسو تصمیم نیولی وي چې په خپل ژوند کې یو بدلون راولئ؟ وعظ په خپل ذات کې د انجیل د پیغام رسول دي په هغې طریقې سره چې اورېدونکي هغه ومني او د هغه په اړه یو عمل ترسره کوي. وعظ کوونکی هڅه کوي چې اورېدونکی په دې قانع کړي چې پیغام ومني او قبول یې کړي. کله کله کېدای شي چې په وعظ کې تعلیم هم موجود وي، خو د دواړو مقصد

په اوریدونکو کې د بدلون راوستل دي. په یاد ولرو چې تعلیم فقط توضیح ورکوي په داسې حال کښې چې د وعظ مقصد د پیغام اعلان، د توبې او فداکارۍ له غوښتنې سره مل وي. په اعمال ۱: ۳۴- ۴۳ کې مونږ لولو چې پطروس له هغو خلکو سره چې د کرنیلیوس په کور کې سره راغونډ شوي ؤو د مسیح په هکله خبرې کوي او ۲۹ آیت کې وایي چې هغه او نور رسولان، د هغو کارونو شاهدان ؤو چې مسیح ترسره کول. هغوی د مسیح مرګ ولید او وروسته بیا چې هغه له مړو څخه ژوندی پورته شو، هغوی هغه په خپلو سترګو ولید. پطروس اوریدونکو ته وایي چې خدای تعالیٰ هغوی ته فرمان ورکړی دی ترڅو د عیسی په اړه موعظه وکړي او شهادت ورکړي. شهادت ورکول د هغه شي د بیانولو په معنی دی چې تاسو لیدلی دی او یا مو تجربه کړی دی. شاګردانو د مسیح په ژوند کې ډېر شیان لیدلي ؤو او کله چې هغوی د دغو شیانو په اړه له نورو سره خبرې کولې، په حقیقت کې هغوی شهادت ورکاوه. که چیرې تاسو هم د هغو شیانو په اړه چې خدای پاک تاسو ته کړي دي له نورو سره خبرې کوئ، تاسو هم په حقیقت کې د هغه څه شهادت ورکوئ چې تجربه کړي مو دي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۴. د ښې خوا تعریفونه له هغو عنوانونو سره ونښلوئ چې په کیڼه خوا کې لیکل شوي دي.

أ. د یوه زیري اعلانول

ب. د هغه څه بیانول چې خدای تاسو ته کړي دي.

ج. د یوه حقیقت توضیح کول

**۵**. د هغه څه په اړه چې خدای ستاسو له پاره ترسره کړی دی یو لنډ شهادت ولیکئ

تعلیم د وعظ او شهادت په اندازه اهمیت لري. مونږ د انجیل د زېري ورکولو په خاطر دغو ټولو ته اړتیا لرو. د تعلیم ورکولو دپاره تیارۍ ته ضرورت دی او د هغې اجر د حساب څخه بهر دی. اوس هغه وخت رارسېدلی دی چې د تعلیم د خدمت دپاره، له دعا سره، د خدای لارښوونه وغواړئ.

## مسیحي تعلیم یو روحاني امر دی

د مسیح وروستني کلمات چې خپلو شاګردانو ته یې ویلي دي د دې څرګندوی دي چې د هغوی د خدمت یوه برخه تعلیم ورکولو ته ځانګړې شوې وه.

"تاسو په ځمکه خواره شئ او ټول قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، زوی او روح القدس په نامه ورته بپتسمه (د تعمید غسل) ورکړئ. او دا تعلیم ورکړئ چې په هغو ټولو خبرو عمل کوئ چې ما تاسو ته حکم کړی دی. او دا یقین ولرئ چې زه به تل ستاسو سره یم، تر آخره وخته پورې" (متي ۲۸: ۱۹- ۲۰). دغه الفاظ د مسیحي تعلیم ښکارندی دي.

## تعلیم ورکول یو فرمان دی

عیسي مسیح مونږ ته فرمان راکوي چې د مسیحیانو په توګه تعلیم ورکړو. فرمان د "واکمنۍ" او یا "په اختیار کې لرنې" په معنی دی. دغه فرمان د نورو فرمانونو په پرتله د یو شان اهمیت څخه برخوردار دی. خدای پاک زمونږ څخه د هغه کار غوښتنه نه ده کړې چې تر اوسه پورې بل څوک د هغې د سرته رسولو وس ونه لري. په زړې لوظنامې کې د موسی په ژوند کې د تعلیم ورکولو سره آشنا کیږو. د خروج د کتاب ۲۴: ۱۲ کې خدای پاک موسی ته فرمایي: " غره ته پورته شه او زما څنګ ته راشه. هلته ایسار شه ترڅو هغه د کاڼو لوحې او تورات او نور حکمونه چې مې لیکلي دي او باید د هغو تعلیم ورکړې، هغه تاته درکړم." د تعلیم بله معنی زده کړه ده. موسی ته په کار ؤو چې د خدای شریعت خلکو ته ورزده کړي.

که چیرې مونږ د شمیر، لاویان او تثنیې په کتابونو کې د موسی ژوندانه ته یوه کتنه وکړو، کولای شو چې دغه حقیقت په څرګنده توګه وګورو. د زړې لوظنامې په دوران کې ډیر کاهنان او نبیان، ښوونکي هم ؤو. په راتلونکي لوست کې به مونږ د هغوی څخه د ځینو ژوندون وڅیړو. عیسی په هماغه اندازه چې وعظ کاوه، تعلیم یې هم ورکاوه او ویل به یې چې د هغه تعلیم د خدای له طرفه دی.همدا اوس یوحنا ۱۷: ۶- ۸ ولولئ. عیسی مونږ ته فرمان راکوي چې هغه ماموریت ترسره کړو کوم چې هغه

ترسره کاوه او هغه انسانانو ته د حقیقت د تعلیم د ورکولو څخه عبارت ؤ.

د افسسیانو د کتاب په ۴: ۱۱- ۱۲ کې لولو چې خدای تعالیٰ د کلیسا د جوړونې په خاطر مونږ ته ښوونکي رابخښي. ”او هغه ځیني رسولان، ځیني نبیان او ځیني زېري آوروونکي او ځیني شپانه او استادان مقرر کړي دي. دا د دې له پاره چې د خدای خلک د خدمت له پاره تیار شي او د مسیح بدن په مونږ کې وده ومومي.“

د تعلیم خدمت هم د زړې لوظنامې او هم د نوې لوظنامې په دوران کې د خدای د نقشې یوه برخه ده او مونږ ته فرمان راکړل شوی دی چې هغه د کلیسا د کار یوه برخه وګڼو.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۲. د هر صحیح عبارت تر څنګ د ✓ علامه ورکړئ.

الف: عیسی خپلو شاګردانو ته دستور ورکړ چې نورو ته تعلیم ورکړي.

ب: عیسی په مقدس کتاب کې لومړنی ښوونکی دی.

ج: موسی د تعلیم په خدمت کې بوخت ؤ.

د: د خدای نقشه زمونږ له پاره دا ده چې د موسی په شان مونږ هم تعلیم ورکړو.

و: تعلیم یو خدمت دی

۷. فرض کړئ چې همدا اوس ستاسو څو ګاونډیان ستاسو کور ته درځي. تاسو څرنګه کولای شئ چې د تعلیم له خدمت څخه استفاده وکړئ.

## مقدس کتاب، د ایماندارانو مرجع

راځئ چې یو وار بیا د متی د انجیل ۲۸: ۲۰ آیت ته یوه کتنه وکړو. عیسی مونږ ته دغه دنده وسپارله چې خلکو ته باید تعلیم ورکړو ترڅو د هغه له فرامینو څخه درناوی وکړي. انجیل د خدای کلام دی چې د عیسی مسیح ویناوې پکې شاملې دي. اوس متي **۵**: ۱۷- ۲۰ ولولئ. عیسی فرمایلي دي چې هغه د تورات او نورو پیغمبرانو لیکنې نه منسوخوي بلکه هغه د هغه د خدمت یوه برخه ده. هغه د موسی د شریعت او د نورو نبیانو د لیکنو په اړوند وویل چې که چېرې مونږ د هغه تعلیم ورکړو نو مونږ به د خدای په پاچاهۍ کې ځای ولرو. مونږ کولای شو چې ډېرې موضوع ګانې ولولو چې زمونږ د ژوندانه له پاره ګټورې دي. د تاریخ لوستل زمونږ سره مرسته کوي چې هغه نړۍ وپېژنو چې پکې استوګنه کوو. د ریاضیاتو او نورو علومو لوستل ډېر ګټور دي. مګر د خدای د کلام لوستنه نه یوازې له شاګردانو سره مرسته کوي ترڅو خپل ژوند وپېژني، بلکه هغوی د ابدي ژوندون څخه هم خبروي.

مقدس کتاب د خدای اراده مونږ ته څرګندوي. که چېرې مونږ غواړو چې خلکو ته د خدای اراده چې د هغو د ژوندون له پاره یې لري، تعلیم ورکړو، باید د هغه له کلام څخه چې مقدس کتاب دی استفاده وکړو. مقدس کتاب زمونږ هغو

پوښتنو ته چې د دنیاوي ژوندون او ابدي ژوندون په اړه دي، ځواب ورکوي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۸. د صحیح عبارت ترڅنګ د (✓) نښه ورکړئ.
الف: عیسی فرمایلي دي چې مونږ باید د خدای د کلام تعلیم ورکړو.
ب: د خدای کلام مونږ ته وایي چې څرنګه کولای شو ابدی ژوندون ترلاسه کړو.
ج: مونږ کولای شو چې د خدای نقشه په مقدس کتاب کې پیدا کړو..

## روح القدس، د ایماندارانو ملاتړ

د متی د انجیل په ۲۸: ۲۰ کې لولو چې مونږ د تعلیم په کار کې یوائې نه یو. عیسی زمونږ سره وعده کړې ده چې "زه به تر آخره وخته پورې له تاسو سره یم". مونږ اړتیا نه لرو چې د تعلیم ورکولو په هکله د مسیح د فرمان په اړوند وېره ولرو. هغه به تل زمونږ سره وي ځکه مخکې له دې چې هغه د پلار څنګ ته لاړ شي زمونږ سره یې دغه ژمنه کړې وه: "او زه به پلار ته خواست وکړم چې تاسو ته بل مرستندوی درکړي څوک چې به تاسو سره مدام وي" (یوحنا ۱۴: ۱۶).

عیسی روح القدس د هڅوونکي او ملاتړکوونکي په نوم یاد کړی دی. دغه نوم ستاسو دپاره د تعلیم ورکولو د خدمت

په دوران کې څه مفهوم لري؟ په يوحنا ۱۴: ۲۲ کې عيسی فرمايلي دي چې کله مونږ د خدای پاک خدمت کوو نو روح القدس به زمونږ سره مرسته کوي. ''خو مرستندوی يعنی روح القدس چې پلار به يې زما په نوم استوي، هغه به تاسو ته هرڅه ښايي او بيا به درته هغه څه رايادوي کوم چې ما تاسو ته ويلي دي.'' په ياد ولرئ چې عيسی زمونږ څخه غواړي چې خلکو ته تعليم ورکړو ترڅو هغوی د هغه له فرمانونو څخه درناوی وکړي. دغه حقيقتونه کولای شو چې د خدای په کلام کې پيداکړو او که چېرې هغه په مقدس کتاب کې مطالعه کړو، روح القدس هغه څه چې بايد نورو ته يې زده کړو زمونږ په ياد کې راولي. خدای هيڅکله ستاسو څخه نه دي غوښتي چې يو کار د هغه له مرستې څخه پرته ترسره کړئ. کله چې تاسو د هغه له فرمان څخه چې د تعليم ورکولو په اړه دی، اطاعت وکړئ، روح القدس به تاسو سره وي ترڅو خپل د تعليم خدمت په ښه شان سره ترسره کړئ.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

۹. عيسی مسيح وفرمايل: خدای پاک د تعليم ورکولو په کار کې زمونږ د مرستې له پاره څوک استوي؟

۱۰. د تعليم په وخت کې روح القدس څرنګه کولای شي چې ستاسو مرستندوی او ملاتړ کوونکی وي؟

## شاګرد جوړونه

عیسی زمونږ څخه غواړي چې ټولو ته تعلیم ورکړو. په متي ۲۸: ۱۹- ۲۰ کې لولو چې: ”تاسو پر زمکه خواره شئ او ټول قومونه زما مریدان (شاګردان) کړئ“. دا په دې معنی ده چې ښځه او نارینه او ماشومان ټول تعلیم ته اړتیا لري. کله کله مونږ فکر کوو چې یواځې د کلیسا غړي د یکشنبې د غونډو په ترڅ کې تعلیم ته اړتیا لري. مګر عیسی فرمایلي دي چې: ”ټول خلک او په هرځای کې“. هر چېرې چې خلک وي مونږ باید هلته د تعلیم تیاری ولرو. په دې خاطر چې زمونږ ګاونډیان، دوستان او خپلوان په خپل ژوندانه کې د خدای په نقشې پوه شي، باید تعلیم ترلاسه کړي. میندې او پلرونه کولای شي چې ماشومانو ته تعلیم ورکړي. نورو ته د تعلیم ورکولو په خاطر ضرور نه ده چې مونږ په کلیسا کې ښوونکي اوسو. مونږ باید له دې فرمان څخه اطاعت وکړو چې تعلیم ورکړو او تعلیم حاصل کړو. لکه څنګه مو چې مخکې وویل، کله چې مونږ یو چا ته څه زده کوو ، هغه هم په خپل وار سره بل چا ته تعلیم ورکوي. لکه څنګه چې د اوبو څپې د یوه کاڼي په ګزار سره په پرله پسې توګه پراختیا مومي، زمونږ تعلیم به هم زمونږ په چاپیریال کې ډیر زیات نفوذ وکړي او پراختیا به ومومي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۱۱. آیا داسې څوک پېژنئ چې مسیحي تعلیم ته اړتیا ونه لري؟

د تعلیم خدمت له نارینه و، ښځو، هلکانو او نجونو سره مرسته کوي ترڅو په خپل مسیحي ژوندانه کې وده وکړي. د خدای اراده دا ده چې تاسو په دې سترې دندې کې ونډه ولرئ. هغه به له تاسو سره مرسته وکړي، مګر تاسو باید د خدای کلام ولولئ او د هغو خلکو په اړه فکر وکړئ چې تاسو يې پېژنئ. د هغوی له پاره دعا وکړئ. دعا وکړئ چې خدای ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو د خدای کلام چې د هغوی د ژوندانه بنسټ دی هغو ته زده کړئ او په دې هکله ورته تعلیم ورکړئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱) زمونږ سره مرسته کوي چې پوه شو چې څرنګه باید په دې نړۍ کې ژوند وکړو.

۱۰) د تعلیم په وخت کې هغه آیاتونه ستاسو په ذهن کې راولي چې اړتیا ورته لرئ.

۲) ج) تعلیم

۹) روح القدس

۳) الف) خدای

ب) له روحاني پلوه وده وکړو

ج) د خدای په اړه

۸) الف) درست

ب) درست

ج) درست

۴) الف) ۲- وعظ

ب) **۳**- شهادت

ج) ۱- تعلیم

**۲**) الف) درست

ب) غلط

ج) درست

د) درست

ه) درست

**۷**) ستاسو ځواب. تاسو کولای شئ چې د خدای د خلاصون او مینې د نقشې په هکله هغوی ته تعلیم ورکړئ.

**۵**) ستاسو ځواب. د خدای شفا او یا برکت چې هغوی ستاسو کورنۍ ته ورپه برخه کړی دی.

**۱۱**) نه، زه یې هم نه پېژنم.

# ستاسو يادداشت

# مسیحي تعلیم، ژوند بخښوونکی دی

په لومړي لوست کې مونږ زده کړل چې مسیحي تعلیم یو خدمت دی. همدا راز مونږ روښانه کړه چې د تعلیم، وعظ او شهادت ترمنځ څه توپیر وجود لري. د دې ترڅنګ مونږ زده کړه چې عیسي مونږ ته فرمان راکوي چې تعلیم ورکړو او مونږ ته یې د مرجع کتاب او ملاتړ کوونکی راکړی دی ترڅو ټول قومونه د هغه شاګردان کړو په دې لوست کې به مونږ په مقدس کتاب کې د تعلیم تاریخ ته یوه کتنه وکړو او وبه ګورو چې تعلیم د زړې لوظنامې ددوران د خلکو په منځ کې ډیر مهم ځای درلود. دغه خدمت د نوې لوظنامې په دوره کې هم دوام مومي او مونږ هم د هغوی په اندازه تعلیم ته اړتیا لرو.

د انسانانو زړه له ګناه څخه ډك دی او یواځینۍ هیله د خدای د پیغام اوریدل دي. د دې پیغام په زده کولو سره به مونږ نورو ته مثال شو. وروسته به په ډیر شوق سره دغه پیغام نورو ته تعلیم ورکړو.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- د شریعت ښوونکي
- د خدای د لارو ښوونکي

- معلم او لوی استاذ
- د کلام ښوونکي

## دا لوست به له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- په مقدس کتاب کې د تعلیم په تاریخ پوه شئ
- په تېره زمانه کې د تعلیم په ارزښت پوه شئ
- دا درك کړئ چې تعلیم ستاسو په ژوندانه کې څومره مهم مقام لري

## د شریعت ښوونکي

### تعلیم ورکول یو فرمان ؤ

د روحاني مسایلو تعلیم ورکول په حقیقت کې له هغې زمانې څخه پیل شوه چې خدای تعالی د اسرائیلو قوم غوره کړ ترڅو د هغه خاص قوم اوسي. هغوی د هغو قومونو څخه خورا زیات توپیر درلود چې بې خدایه ؤ او د هغو په شاوخوا کې یې استوګنه لرله. خدای پاك هغوی ته وویل: "ما تاسو له نورو قومونو څخه بیل کړي یاست" (لاویان ۲۰: ۲۵). هغوی هم لکه زمونږ په شان دا اړتیا درلودله چې پوه شي چې څرنګه باید ژوند وکړي. هیڅوك نشي کولای چې د قوانینو او شریعت پرته ژوند وکړي، دا ځکه چې دغه قوانین او شریعت مونږ ته زده کوي چې کوم کار وکړو او کوم کار ونکړو. خدای پاك د اسرائیلو قوم ته هغه قوانین ورکړل چې اړتیا یې ورته لرله. په

لومړي لوست کې مو ولوستل چې موسی د تیرو دوه لوحې چې د خدای فرامین په هغو کې لیکل شوي ؤو د خدای څخه ترلاسه کړل. آیا په یاد مو دي چې خدای په دې اړه موسی ته څه وفرمایل؟ د خروج له کتاب څخه ۲۴: ۱۲ ولولئ او په دې ځان پوه کړئ چې د دې قوانینو د ورکولو څخه مقصد څه ؤ. خدای وفرمایل چې دغه قوانین د قوم د زده کړې او تعلیم دپاره دي او موسی ته په کار ؤو چې د هغو تعلیم یې ورکړی وای. موسی اطاعت وکړ.

د تثنیې په کتاب ۴: ۱ کې لولو چې: "اوس ای د اسرائیلو قومه! هغه فرایض او احکام واورئ او عمل ورباندې وکړئ کوم چې زه یې تاسو ته درکوم، ترڅو ژوندي پاتې شئ او په هغه خاورې ته ورداخل شئ او هغه قبضه کړئ چې ما د هغې ژمنه ستاسو نیکونو سره کړې وه." موسی همدا شان هغوی ته وویل چې په هغو قوانینو کې نه څه اضافه کړئ او نه هم څه ورڅخه کم کړئ. د اسرائیلو قوم باید له دغو قوانینو څخه اطاعت کړی وای. په دې وخت کې موسی خپل قوم ته وویل چې هغوي باید دغه قوانین خپلو اولادونو ته هم ورزده کړي. په دې توګه د د دغو قوانینو په هکله پوهه له یوه نسله څخه بل نسل ته لیږدول کېدله.

د تثنیې د کتاب په ۶: ۱ کې لولو چې: "دا دي هغه اوامر فرایض او احکام چې یهوه ستاسو خدای امر کړی دی چې باید تاسو ته درزده کړای شي" موسی په دې خاطر چې د خدای له فرمان څخه یې اطاعت کړی وي، د روحاني مسایلو د تعلیم

خدمت يې د زړې لوظنامې په دوران کې شروع کړ او دغه خدمت تر نن ورځې پورې دوام لري. کله چې تاسو د زړې لوظنامې دوره مطالعه کوئ نو ګورئ چې خدای پاك د موسی په وسیله خپل اوامر د اسرائیلو قوم ته بیان کړل.

## تعلیم ورکول د برکت سبب شوی ؤ

کله چې کاهنانو د موسی په شان عمل وکړ، خدای پاك د اسرائیلو قوم ته برکت ورکړ. قوانینو قوم ته دا ښودله چې څرنګه یو پاك او سالم ژوند ولري، څرنګه د خپلو ګناهونو له پاره قربانۍ وړاندې کړي، څرنګه د خدای عبادت وکړي او څرنګه د یو بل سره رفتار وکړي. که چېرې دغه ټول کارونه بشپړ شوي وای نو هغوی ته یې خوشالي راوستله. موسی خپل قوم ته وویل چې که چېرې تاسو د شریعت څخه پیروي وکړئ نو د نورو قومونو خلك به په دې پوه شي چې تاسو حکیمان یئ.

په تثنیه ۴: ۷- ۸ کې لولو: "هیڅ قوم که هرڅومره لوی هم وي، زمونږ په شان خدای نه لري چې د هغو په منځ کې استوګن وي او هر وخت چې هغه وغواړي ورته ډېر ژر ځواب ورکړي. هیڅ قوم که هرڅومره لوی هم وي، داسې عادلانه احکام او قوانین چې نن ورځ ما تاسو ته زده کړل، نه لري."

کله چې یهوشافاط د یهودیې پادشاه شو نو هغه زیار وویست ترڅو د بتانو پرستش له منځه یوسي. دویم تواریخ ۱۷: ۷- ۹ ولولئ. یهوشافاط خپل نفر چېرې ولېږل؟ هغو نفرو څه وکړل؟ آیا تاسو دا کوشش کوئ چې د خدای د کلام په لوستلو

سره خلك دې ته و هڅوئ ترڅو رېښتينی خدای وستايي؟ هغو نفرو د خدای کلام د يهوديې خلکو ته ورزده کړ. او له هغې نه پس د خدای وېره د هغوی د شاوخوا ټولو قومونو په زړونو کې راپيدا شوه. له يهوشافاط سره د جګړې پرځای، نورو قومونو د هغه له پاره سوغاتونه واستول.

کله چې د خدای قوم د هغه فرمانونه زده کړي او د هغو څخه اطاعت وکړي، خدای خپله ژمنه ساتي او خپل قوم ته برکت ورکوي. او د دښمنانو په مقابل کې د هغوی ساتنه کوي.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

۱. د لاندينيو سوالونو له پاره ډېر ښه ځواب غوره کړئ

الف: د اسرائيلو قوم څوك ؤ؟ (يو بې خدايه قوم ؤ / د خدای غوره شوی قوم ؤ)

ب: خدای د شريعت له لارې د اسرائيلو قوم ته څه ور زده کړل؟ (چې څرنګه کولای شي د نورو قومونو په څېر وي / چې څرنګه کولای شي د خدای له پاره ژوند وکړي)

ج: کله چې کاهنانو د شريعت تعليم ورکاوه، د اسرائيلو په قوم څه پېښ شول؟ (هغوی د خپلو دښمنانو څخه خوندي ؤو / هغوی خدای له هيره ووېست)

د: کله چې تاسو زړه لوظنامه لولئ کوم مطلب زده کوئ؟ (د خدای قوانين / چې څرنګه يو ښوونکی اوسو)

# د خداي د لارو ښوونکي

## تعليم يوه اړتيا وه

د اسرائيلو قوم تعليم ته ډېره اړتيا درلودله. د هغې زمانې خلك لكه د دې زمانې د خلكو په شان ؤو. كله كله حتى د صحيح كار سرته رسول هم سخت دي. مونږ غواړو هغه څه ترسره كړو چې صحيح دي، مګر ماتې خورو. كله چې غواړو قوي اوسو، ګورو چې لا هم ضعيفه يو. سموئيل د اسرائيلو د قوم په اړه په دې حقيقت پوهېده.

هغه كلونه كلونه د هغوى قاضي او نبي ؤ. وروسته بيا قوم تصميم ونيوه چې د نورو قومونو په شان دې ځانته پادشاه ولري ترڅو په هغوى حكومت وكړي. سموئيل په دې كار خوشاله نه ؤ. خو هغه بالاخره شائول د اسرائيلو د پادشاه په توګه غوره كړ. سموئيل پوهيده چې د هغه قوم ډېر تعليم ته اړتيا لري ترڅو داسې ژوند غوره كړي چې خداى يې له هغوى څخه غواړي. د شاول د پادشاه كېدو څخه وروسته، سموئيل قوم ته وويل: "مګر ماته ناممكنه ده چې ستاسو دپاره له دعا كولو څخه لاس واخلم او د خداى په وړاندې داسې يوه ګناه وكړم. زه به تاسو ته د هر هغه څه تعليم دركړم كوم چې ريښتيا او صحيح دي." (اول سموئيل ۱۲: ۲۳). د هغه څه هيله لرل چې د خداي په اراده كې نه وي، څه زمونږ او څه هم د اسرائيلو د قوم دپاره ګناه ګڼل كېږي. بايد په ياد ولرو چې د خداى د قوانينو زده كول مونږ ګناه ته نه هڅوي داود نبي ويلي دي: "ستا كلام مې په خپل زړه

کې پټ ساتلی دی، هسې نه چې ستا په وړاندې ګناه وکړم“ (زبور ۱۱۹: ۱۱).

## قوم تعلیم رد کړ

د اسرائیلو قوم همیشه د خدای څخه اطاعت ونه کړ.هغوی د هر وخت د خدای له فرمانونو څخه سرغړونه وکړه او هغه یې رد کړل. هغوی نه غوښتل هغو کاهنانو ته چې د خدای د کلام تعلیم یې ورکاوه، غوږ ونیسي. کله چې هغوی اطاعت نه کاوه نو خدای هم نشو کولای هغو ته برکت ورکړي. یهواش یو له هغو خلکو څخه ؤ چې د خدای قوانین یې رد کړل. د خدای کلام فرمایي کله چې هغه د یهودا پادشاه شو: ”په هر څه چې څښتن ورباندې خوشحالیده نو یهواش به هماغسې کول ځکه چې کاهن یهویاداع هغه ته تعلیم ورکاوه“ (دوم پادشاهان ۱۲: ۲). مګر هغه نور د کاهن له تعلیماتو څخه اطاعت ونه کړ. دوهم تواریخ ۲۴: ۱۷- ۲۲ ولولئ او هغه بدلون ته پام وکړئ چې د یهواش په ژوند کې منځ ته راځي. ځکه چې هغه خلکو ته اجازه ورکوي چې بتانو ته مخه کړي او د خدای عبادت پرېږدي؟ او خدای څه وکړل؟

یهواش د دې په ځای چې کاهنانو ته چې د خدای د قوانیونو تعلیم یې ورکاوه، غوږ ونیسي، خلکو ته ئې غوږ نیوه. په دې خاطر چې خدای له خلکو سره مینه درلوده، هغوی ته یې نبیان واستول چې د هغوی لارښوونه وکړي. مګر یهواش او نورو خلکو کاهنان ووژل. کاهنان او نبیان هغه ښوونکي ؤو

چې خدای هغوی خلکو سره د مرستې له پاره استولي ؤو مګر يهواش د هغوی خبرو ته غوږ نه نيوه. د همدې ګناه له امله خدای هغوی ته سزا ورکړه او هغوی يې پريښودل چې په جګړې کې ماتې وخوري او يهواش ووژل شو. د خدای د کلام تعليم ته غوږ نيول ډېر اهميت لري. که چېرې غواړو چې هغه شان ژوند وکړو چې خدای يې غواړي، نو بايد له هغه څخه اطاعت وکړو که نه نو د هغه برکتونه به له لاسه ورکړو.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

۲. د صحيح ځواب مخې ته د ✓علامه ورکړئ

الف: سموئيل د اسرائيلو د قوم څخه وغوښتل چې يو پادشاه ولري.

ب: سموئيل فکر کاوه چې د اسرائيلو قوم تعليم ته اړتيا نه لري.

ج: د خدای د کلام تعليم زمونږ سره مرسته کوي ترڅو ګناه ونکړو.

د: د اسرائيلو قوم هميشه هغو کاهنانو ته چې د خدای د کلام تعليم يې ورکاوه، غوږ نيوه.

و: يهواش له دې امله چې د خدای له فرمان څخه يې سرغړونه وکړه، ووژل شو.

۳. که چېرې غواړو چې هغه شان ژوند وکړو چې خدای يې غواړي، نو مهمه ده چې

الف: د شريعت په مطابق ژوند وکړو

ب:: د خدای کلام ته غوږ ونیسو
ج: له نورو څخه تقلید وکړو

## لوی ښوونکی

### تعلیم پلان شوی ؤ

عیسی خپل ځان ښوونکی باله. هغه همیشه دا غوښتل چې د یهودیانو په عبادت ځایونو(د یهودیانو په کلیساګانو) او نورو ډیرو ځایونو کې تعلیم ورکړي. څلور واړه انجیلونه مونږ ته دا بیانوي چې مسیح تعلیم ورکاوه.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۴. متي ۴: ۲۳، لوقا ۶: ۶ او یوحنا ۷: ۱۴ ولولئ او لاندنیو پوښتنو ته ځواب ورکړئ:
الف: د دغو آیاتونو په مطابق مسیح په کومو ځایونو کې تعلیم ورکاوه؟
ب: ولي څلور واړه انجیلونه د مسیح په اړه دغه حقیقت بیانوي؟

عیسی خپلو شاګردانو ته وفرمایل چې هغه ښوونکی دی. هغه د خپل مرګ څخه مخکې په خپلو ورستیو خبرو کې وویل: ”تاسو ماته استاذ او مالك وایئ او دا ښه وایئ، ځکه چې زه همداسې یم“ (یوحنا ۱۳: ۱۳). عیسی نورو ته هم اجازه ورکړه چې هغه ته ښوونکی ووایي. یوه شپه نیقودیموس هغه ته راغی

او ورته یې وویل: ''ای استاذه! مونږ ته معلومه ده چې ته د خدای رالیږلی استاذ یې.'' (یوحنا ۳: ۲). عیسی هغه ته ونه ویل چې ته اشتباه کوې. بلکه ورته یې وویل چې: ''رښتیا رښتیا درته وایم'' (یوحنا ۳: ۳). هغه د یوه ښوونکي په صفت نیقودیموس ته حقیقت بیاناوه. مسیح د خپل خدمت په دوران کې تعلیم ته زیات ارزښت ورکاوه. د هغه تعلیم پلان شوی ؤ او تصادفي نه ویل کیده. یوه ورځ کله چې له یهودانو سره یې خبرې کولې، و یې ویل: ''څه چې ما له هغه څخه اورېدلي دي هغه به دنیا ته وایم'' (یوحنا ۸: ۲۶). هغه د خدای له کړنلارې څخه چې د تعلیم په اړه وه، اطاعت کاوه.

هغو خلکو به چې د مسیح تعلیم ته غوږ نیوه، په دې پوهېدل چې د هغه تعلیم له نورو تعلیماتو څخه مختلف دی. متي د غره د پاسه د موعظې په پای کې وايي: ''څه وخت چې عیسی دا خبرې بس کړې نو خلك د هغه په تعلیم حق حیران شول. ځکه چې هغه د هغوی د استادانو په شان نه بلکه د اختیار د خاوند په شان تعلیم ورکاوه'' (متي ۷: ۲۸- ۲۹). هر هغه څه چې عیسی د خپل ځان په هکله ویل او په هغې طریقې سره یې چې تعلیم ورکاوه، د دې حقیقت بیانوونکی دی چې هغه ځان ښوونکی باله. خو سره له دې هم د هغه مقام د یوه ښوونکي څخه پورته دی. هغه د خدای زوی او د نړۍ خلاصون ورکوونکی دی. عیسی زمونږ دپاره نمونه او مثال دی او که چېرې تعلیم د هغه دپاره اهمیت درلود نو زمونږ دپاره یې هم باید ولري.

## په خپله ښوونکو به تعلیم حاصلاوه

عیسی مسیح دولس شاګردان درلودل. شاګرد د زده کوونکي په معنی دی. کله چې هغوی د فلسطین له دوړو او خاورو څخه په ډکو لارو او کوڅو کې له مسیح سره قدم واهه، له هغه څخه به یې زده کړه ترلاسه کوله. هغوی د مسیح د معجزاتو او ویناوو له لارې ډیر شیان زده کول ترڅو وروسته خلکو ته تعلیم ورکړي. هر چیرې به چې عیسی تعلیم ورکاوه شاګردان به هلته موجود ؤو. هغوی به د مسیح پیغام او کړنلارو ته کلکه پاملرنه کوله. او کله کله د مسیح ډیر ستر خدمت د شاګردانو له پاره د تعلیم خدمت ؤ. وروسته له دې چې مسیح کومه معجزه سرته رسوله او یا یې خلکو ته کوم داستان وایه، خپل شاګردان به یې یوه خالي ځای ته بیول ترڅو په یواځې توګه له هغو سره خبرې وکړي. یوه ورځ عیسی یوه ځوان هلك ته چې پلید روح یې درلود شفا ورکړه. کله چې هغه او شاګردان یې یواځې ؤو هغوی له عیسی څخه وپوښتل: ”مونږ ولې وکړای نشو چې دا پلید روح وباسو؟“ عیسی ځواب ورکړ: ”دا ډول روحونه بغیر له دعا څخه په بل هیڅ قسم نشي راوتلی“ (مرقوس ۹: ۲۹).

عیسی د هغوی د پوښتنې څخه استفاده وکړه ترڅو یو تعلیم ورکړي. مرقوس ادامه ورکوي چې: ”بیا هغوی له هغې سیمې څخه د جلیل په لورې حرکت وکړ. عیسي نه غوښتل چې څوك په دې پوه شي چې هغه چیرې دی. ځکه هغه خپلو شاګردانو ته تعلیم ورکاوه“. عیسی په دې پوهیده چې

شاګردانو ته تعلیم ورکول څومره اهمیت لري. ځکه هغه په لنډ وخت کې هغوی خوشې کول. په دې توګه شاګردانو ډېر تعلیم ته اړتیا درلوده. انجیل هم په همدې ډول مونږ ته رسېدلی دی. د خدای کلام د تعلیم له لارې له یوه شخص څخه نورو ته لېږدول شوی دی. اوس زمونږ وار دی چې د هغه تعلیم ورکړو. مګر د تعلیم څخه مخکې باید ښه زده کوونکي اوسو. زمونږ سره د هغه کلام یعنې مقدس کتاب شته چې زده کړه ورڅخه وکړو او په کلیسا کې کشیشان او ښوونکي لرو چې زده کړه ورڅخه حاصله کړو. د تعلیم د ارزښت په پوهیدلو سره باید زیار وکاږئ چې تر هغه ځایه پورې چې وس لرئ مقدس کتاب له خپل کشیش (روحاني لارښود) څخه زده کړئ.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

**۵**. په دریو دلیلونو کې دا څرګنده کړئ چې ولې نور خلک مسیح د استاذ او ښوونکي په صفت پېژني؟

**۶**. د صحیح عبارت ترڅنګ د ✓ علامه ورکړئ.

الف: هغه دولس تنه چې د مسیح څخه یې پیروي کوله د شاګردانو په نامه یادیدل.

ب: شاګردانو به د مسیح پیغام او د هغه کړنلارې زده کولې.

ج: شاګرد کېدل یعنې واعظ کېدل.

د: مونږ باید د مسیح شاګردان شو

## د کلام ښوونکي

### تعلیم دوام وموند

رسولانو په مسیح ایمان درلود. هغوی د هغه فرمان چې د تعلیم په اړه ؤ قبول کړ او هغه یې د خپل ځان له پاره د نمونې په توګه و مانه. له همدې امله د رسولانو د عملونو په کتاب کې کلیسا د رسولانو د تعلیم ځای په توګه ومنل شوه. سره له دې چې د یهودیانو مذهبي رهبرانو رسولان په قمچینو ووهل او له هغو څخه یې وغوښتل چې د مسیح په اړه خبرې ونکړي خو هغوی د خپل تعلیم د رسولو کار ته ادامه ورکړه. د اعمالو په کتاب کې لولو: ”هغوی هره ورځ په عبادت خانو او په کورونو کې خپل تعلیم ته ادامه ورکوله او دا زېری یې ورکاوه چې عیسی هماغه وعده شوی مسیح دی.“

پولوس رسول ډېرې کلیساګانې جوړې کړې وې او د تعلیم د خدمت مسئولیت یې هم په غاړه ؤ. هغه د برنابا سره یوځای پوره یو کال په انطاکیې کې پاتې شو او خلکو ته یې په کلیساګانو کې تعلیم ورکاوه. پولوس یونیم کال په قرنتس کې پاتې شو او هلته یې د خدای د کلام د تعلیم کار پر مخ بیوه. هغه همدا شان درې کاله په افسس کې پاتې شو او په کورونو او عامو ځایونو کې یې تعلیم ورکاوه. لومړنۍ کلیسا ګانې د موعظې او تعلیم پر بنسټ جوړې شوي دي. رسولان په دې پوهېدل چې نوي ایمانداران باید د مسیح او د هغه د فرمانونو په اړوند تعلیم ترلاسه کړي.

## تعلیم له اجر سره یوځای ؤ

پولوس د کورنتیانو کلیسا ته لیکي: ''او خدای په کلیسا کې بیل بیل کسان مقرر کړل: اول رسولان، دویم نبیان او دریم استاذان (ښوونکي)'' (اول کورنتیان ۱۲: ۲۸).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۷. افسسیان ۴: ۱۱- ۱۲ ولولئ او لاندنیو سوالونو ته ځواب ورکړئ:
الف: آیا تعلیم د بیلابیلو خدمتونو په ترځ کې ذکر شوی دی؟
ب: د تعلیم خدمت د چا په غاړه دی؟
ج: ولی داسې خادمین کلیسا ته ورکول کېږي؟

د خدای په کلام کې تعلیم او کشیش توب څنګ تر څنګ قرار لري. ستاسو کشیش ستاسو ښوونکی دی. دا د خدای کړنلاره ده ترڅو تاسو له دې لارې برکت ترلاسه کړئ. تعلیم یو ګټور کار دی او د هغې میوه یا ثمره هغه غښتلې کلیساګانې دي چې د هغې غړو، د خدای کلام درک کړی دی. مونږ ګورو چې کله رسولانو د مسیح په اړه په وعظ او تعلیم لاس پورې کړ، د مسیحیانو شمیره زیاته شوه او د تعلیم له لارې ډېرو خلکو د مسیح په پیغام باندې ایمان راوړ. آیا غواړئ چې ستاسو کلیسا وده وکړي؟ آیا غواړئ چې ستاسو دوستان او خپلوان مسیحیان شي؟ د خدای د کلام تعلیم دې حکم ته عملي بڼه ورکوي. د خدای کلام خلک د مسیح لور ته بیایي او تر ټولو

لوی کار چې مونږ کولای شو نورو ته یې ترسره کړو دا دی چې هغوی ته د مسیح په هکله تعلیم ورکړو.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۸. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ نښه ورکړئ.

الف: آسمان ته د مسیح د پورته کېدو وروسته رسولانو د تعلیم خدمت ته ادامه ورکړه.

ب: وروسته له دې چې د یهودیاو مذهبي مشرانو رسولان په قمچینو ووهل نو هغوی د تعلیم کار په ټپه ودراوه.

ج: پولوس یوائې په هغو کلیساګانو کې چې هغه جوړولې، تعلیم ورکاوه.

د: خدای د تعلیم خدمت کلیسا ته بخښلی دی.

و: کشیشانو ته نه ښایي چې تعلیم ورکړي.

۹. د خدای په نقشه کې د تعلیم خدمت څرنګه کولای شي چې ستاسو په ژوند خپله آغیزه پرځای پرېږدي؟

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۹) مونږ کولای شو چې له ښوونکو څخه زده کړو او وروسته بیا خدای زمونږ څخه غواړي چې نورو ته تعلیم ورکړو.

۱) الف ) د خدای غوره شوی قوم

ب) چې څرنګه د خدای له پاره ژوند وکړي

ج) هغوی له دښمنانو څخه خوندي ؤو

د) د خدای قوانین

۸) الف) صحیح

ب) غلط

ج) غلط

د) صحیح

ه) غلط

۲) الف) غلط

ب) غلط

ج) صحیح

د) غلط

ه) صحیح

۷) الف) هو

ب) د ټولو انسانانو په غاړه

ج) د مقدسینو د تجهیز او د کلیسا د جوړونې په خاطر

۳) ب

۶) الف) صحیح

ب) صحيح

ج) غلط

د) صحيح

۴) الف) د يهوديانو په عبادتخانو کې

ب) ترڅو په ډاګه کړي چې تعليم د مسيح له پاره ځومره مهم دی.

۵) الف) هغه د يهوديانو په عبادتخانو کې تعليم ورکاوه

ب) هغه په خپله ويلي ؤو چې ښوونکی او استاذ دی

ج) هغه په پوره واک او اختيار سره تعليم ورکاوه

# ستاسو یادداشت

## دریم لوست

# مسیحي تعلیم یو ځانګړی تعلیم دی

په تېر درس کې مو د زړې او نوې لوظنامې په دوران کې د تعلیم اهمیت وڅېړه. په مقدس کتاب کې د تعلیم د تاریخ مطالعه کولای شي چې مونږ ته د اوسني تعلیمي خدمت دپاره لارښود وي. په دې لوست کې به په دې ټکي ټینګار کوو چې ولې تعلیم ورکوو. هر څوک تعلیم ته اړتیا لري. مګر تعلیم ورکول فرق لري او ټولو ته نه ښايي چې یوشان تعلیم ورکړو. ځینې دې ته اړتیا لري چې د خلاصون نقشه وپېژني. ځیني نور بیا په مسیحي ژوندانه کې ودې او ترقۍ ته اړتیا لري او ځینې نورو ته پکار ده چې په کلیسا کې د تعلیم له لارې خپل د خدمت ځای وپېژني. هیله من یو چې تاسو وکړای شئ د تعلیم اهمیت د هر چا په ژوندانه کې درک کړئ. مونږ ټول دې ته اړتیا لرو چې زده کړو او مونږ ته فرمان راکړل شوی دی چې تعلیم ورکړو. د تعلیم په خدمت کې د روحاني حقایقو راکړه ورکړه شامله ده.

### هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- تعلیم د خلاصون له پاره
- تعلیم د روحاني ودې له پاره
- تعلیم د خدمت له پاره

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- دا درک کړئ چې مونږ څومره روحاني تعلیم ته اړتیا لرو.
- د تعلیم له لارې د یو نفر په ژوند کې د روحانې ودې لاره تشخیص کړئ
- دا توضیح کړئ چې په کومو حالتونو کې په خپل شخصي ژوند کې تعلیم ته اړتیا لرئ.

## تعلیم د خلاصون له پاره

### انسان بغیر له خدایه

ښایي تاسو د هغه چا په اړه څه اوریدلي وي چې په ځنګل کې ورک شوی وي. هیڅوک نشته چې له هغه سره مرسته وکړي. پس له ډیرې سرګردانۍ څخه د لوږې او کمزورۍ له امله له پښو لویږي. له دغو کسانو څخه ځینې پیدا شوي دي او ځینې نور یې هماغسې ورک پاتې شوي دي. ښایي تاسو ووایئ چې دا یو ډیر غمجن داستان دی، مګر په ځنګل کې د ورکیدو څخه تریخ حقیقت هم وجود لري او هغه د هغه انسان د ژوند داستان دی چې خدای نه پیژني. ځینی خلک په خپل ټول ژوند کې د خدای په لټه کې وي. هغوی بیلابیل مذهبونه آزمویلي دي. ډیرو خدایانو ته یې دعا کړې ده. سخت کار یې کړی دی او ډیرې پیسې یې مصرف کړي دي خو هیڅکله یې هغه

آرامتیا نه ده موندلې چې د هغې په لټه کې دي. د داسې خلکو شمېر له هغو خلکو څخه ډېر زیات دی چې په ځنګل کې ورک شوي دي. بې خدایه خلک تر ابده پورې ورک دي. مسیحیان پوهېږي چې تر ابده پورې به له خدای سره وي. زمونږ په مرګ سره به ابدي ژوند پیل شي او هېڅکله به پای نه لري. ولې هغه انسان چې خدای نه پېژني، هغه به ابدي ژوندون بې له خدایه تېروي. کلام فرمايي: ”ټولو ګناه کړې ده او د خدای د جلال څخه بې برخې دي“ (رومیان ۳: ۲۳). ”د یوه انسان په وسیله ګناه دنیا ته راغله او د ګناه په وسیله مرګ او همدغه شان مرګ په ټول انساني نسل قبضه وکړه تر دې چې ټول بشریت ګناه وکړه“ (رومیان ۵: ۱۲). دغه آیتونه ښئ چې ټول انسانان ورك شوي دي او د خدای څخه لېرې دي. خو لاتر اوسه هم امید شته او خدای پاك نه غواړي چې انسانان تر ابده پورې ورك اوسي. هغه غواړي چې هغوی په خلاصون باندې پوه شي.

## خلاصون د مسیح په وسیله

د تعلیم یوه برخه دا ده چې ورك شویو خلکو ته وروښایو چې څرنګه کولای شي خدای پیداکړي. مونږ خدای د عیسی مسیح په وسیله چې زمونږ خلاصوونکی دی پیدا کړ او اوس باید دغه پیغام له نورو ورک شویو نارینوو، ښځو او ماشومانو سره چې زمونږ په شاوخوا کښې دي، شریك کړو. خلك باید پوه شي چې هر څوك چې د مسیح طرف ته راځي هغه خلاصون مومي او د خدای دغه پیغام د ټولو دپاره دی. مقدس کتاب وايي: ”خدای د دې دنیا سره داسې مینه وکړه چې خپل

یواځینی ځوی یې هم ورکړ چې هر هغه څوك چې په زوی یې ایمان راوړي هغه هلاك نشي او ابدي ژوندون حاصل کړي" (یوحنا ۳: ۱۶). فقط دوه کارونه دي چې باید یو شخص یې د خپل خلاصون دپاره وکړي: لومړی له خپلو ګناهونو څخه توبه وباسي او دوهم دا چې په مسیح باندې ایمان راوړي. توبه د پښېمانۍ او د ګناه د پرېښودلو په معني ده او ایمان، په مسیح او د هغه په ویناوو باندې د باور او اعتماد په معنی دی. مونږ د خدای د کلام څخه درې آیاتونه بیانوو چې د هغو په وسیله تاسو کولای شئ خلکو ته ووایئ چې څرنګه کولای شي خلاصون ومومي.

" تاکل شوی وخت پوره شو او د خدای پادشاهي نږدې کېدونکې ده، توبه ګار شئ او په زېري باندې ایمان راوړئ" (مرقوس ۱: ۱۵).

"په مالك عیسی باندې ایمان راوړه او ته او ستا کورنۍ به خلاصون ومومي" (اعمال د رسولانو ۱۶: ۳۱).

"هغه شهادت دا دی چې خدای مونږ ته ابدي ژوندون راکړی دی او دا ژوندون د هغه په زوی کې دی. چا سره چې د خدای زوی دی هغه ژوندون هم لري او چا سره چې د خدای زوی نشته هغه ژوندون هم نه لري" (اول یوحنا ۵: ۱۱- ۱۲).

بهتره دا ده چې تاسو دغه آیاتونه له یاده زده کړئ. وروسته بیا کله چې ګورئ چې یو څوک غواړي خلاصون حاصل کړي، د هغو څخه کار واخلئ. د "شخصي زېري رسونې" د کتاب

لوستل هم کولای شي ستاسو سره په دې برخه کې مرسته وکړي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۱. د انسان تر ټولو لویه اړتیا څه ده؟
۲. دغې اړتیا ته د خدای ځواب څه دی؟
۳. د ښي خوا عبارت د کیڼې خوا له عنوانو سره تطبیق کړئ.
الف: پښیماني او د ګناه پرېښودل ۱) ابدیت
ب: بې پایه زمانه ۲) ایمان
ج: اعتماد او باور ۳) توبه
۴. کوم عبارت کولای شي دغه جمله پوره کړي: که چېرې ستاسو دوست خدای نه پېژني تاسو باید...
الف: هغه ته د توبې او په مسیح باندې د ایمان راوړلو په اړه تعلیم ورکړئ.
ب: هغه ته د بیلابیلو مذهبونو په اړه تعلیم ورکړئ او وروسته بیا هغه ازاد پرېږدئ چې خپل تصمیم ونیسي
ج: انتظار وکاږئ ترڅو د هغه په هکله خدای ستاسو څخه تپوس وکړي.

# تعلیم د روحاني ودې له پاره

## په کلام کې وده

خدای غواړي چې د نجات څخه وروسته د روحانیت له پلوه خپلې ودې ته ادامه ورکړو. د مسیح منل د خپل نجات ورکوونکي په توګه یواځینی پیل دی. دا لکه د هغې دروازې په شان دی چې د هغې له لارې د خدای سره ژوند پیل کېږي. د مسیحي تعلیم څخه مقصد د مسیحیانو سره مرسته ده ترڅو هغوی په خپل ژوند کې وده او پرمختګ وکړي. د یو مسیحي له پاره د ودې او پرمختګ ترټولو غوره لاره داده چې هغه د خدای کلام زده کړي.

له همدې امله په کلیسا او د یکشنبې په کورسونو کې د مقدس کتاب تعلیم ورکول کېږي. د خدای د کلام په مطالعه کې او یا بل نفر ته په تعلیم ورکولو کې مقدس کتاب زموږ مرجع ده. باید نورو ته دا زده کړه ورکړو چې د خدای کلام ولولي او هرڅوك باید هره ورځ یو ټاکلی وخت د خدای د کلام د لوستلو او د دعا دپاره بیل کړي. که چېرې تاسو په خپله دغه کار کوئ کولای شئ دغه حقایق له نورو سره شریک کړئ. که چېرې یو نفر په خپل ژوند کې له یوې ستونزې سره مخامخ وي، تاسو کولای شئ د هغه سره مرسته وکړئ ترڅو په خدای باندې توکل وکړي او په مقدس کتاب کې د هغه له پاره ځواب ومومي. که چېرې یو بل نفر زیات ایمان ته اړتیا لري، تاسو کولای شئ هغه ته ووایئ چې د کلام لوستنه کولای شي په خدای

باندې زمونږ د ایمان بنسټ ټینګ کړي. مقدس کتاب په مسیحي ژوند کې د ودې کولو د تعلیم له پاره یو درسي کتاب دی. پولوس د تیموتاوس دپاره د خدای د کلام اهمیت په دې توګه بیانوي: "ټول مقدس کتاب د خدای د روح د الهام په وسیله دی او د حقیقت د تعلیم ، د ګناه د سرزنش، د عیبونو د اصلاح او په نیکۍ کښې زمونږ د تربیت له پاره فایده مند هم دی. د دې د پاره چې د خدای بنده کامل شي او د هر نیک کار د پاره بالکل تیار شي" (دویم تیموتاوس ۳: ۱۶- ۱۷).

کله چې د خدای کلام لولو او هغه زده کوو، نو روح القدس مونږ دې ته هڅوي چې د هغه په مطابق عمل هم وکړو. هغه د هڅونې له لارې زمونږ سره مرسته کوي ترڅو نیک کارونه وکړو. روح القدس په نرمۍ سره مونږ ته وایي چې نیک کارونه وکړو. مونږ کولای شو چې هغه ته منفي ځواب ورکړو خو که هغه ته اجازه ورکړو چې مونږ ته تعلیم راکړي، نو دا به په دې معنا وي چې د خدای څخه غواړوزمونږ ګناهونه و بخښي او مونږ ته لارښوونه وکړي. کله کله داسې پېښېږي چې مونږ له خپل دوست څخه یو څه امانت اخلو خو هغه ورته بېرته نه ورکوو، لیکن روح القدس مونږ هڅوي چې دا کار ونه کړو. کله چې مونږ د روح القدس له نصیحتونو څخه اطاعت کوو، نو په خپل روحاني ژوند کې وده او پرمختګ کوو او د مسیح په شان کېږو او وروسته بیا کولای شو چې د اطاعت او درناوي د اهمیت په اړه نورو ته تعلیم ورکړو.

## د روح القدس لارښوونه

د روحاني ودې په اړوند تعليم تر هغې پورې بشپړ کېداى نشي ترڅو هغو ته مو په ژوندانه کې د روح القدس د هدايت په اړه تعليم نه وي ورکړى. پطروس د پنطيکاست په ورځ داسې موعظه وکړه: "توبه ګار شئ او په تاسو کې دې هر يو د خپلو ګناهونو د معافۍ له پاره د عيسى مسيح په نوم د تعميد غسل واخلي او تاسو ته به روح القدس وبخښلى شي. د خداى وعده تاسو سره، ستاسو د اولادونو او هغو ټولو سره ده څوك چې لېرې دي يعنى د هرچا سره چې څوك زمونږ مالك خداى راوبلي" (اعمال د رسولانو ۲: ۳۸- ۳۹).

کله چې مونږ روح القدس ترلاسه کوو نو هغه زمونږ په زړونو کې دا شوق راپاروي چې د خداى څخه اطاعت وکړو. هغه زمونږ سره مرسته کوي ترڅو د خداى له پاره ژوند وکړو او د هغه خدمت وکړو او په دې توګه په خپل روحاني ژوند کې وده وکړو. روح القدس زمونږ ښوونکى هم دى. مونږ د هغه څه په اړه چې مسيح د يوحنا د انجيل په ۱۴: ۲۶ کې فرمايلي دي خبرې وکړې. يوځل بيا دغه آيت ولولئ او د دې سوالونو په اړه د خپلو ځوابونو دپاره فکر وکړئ. عيسى د روح القدس دپاره کوم نوم کېښود؟

دغه نوم تاسو ته د روح القدس په اړه څه شى په ذهن کې را ګرځوي؟ هغه دوه کارونه چې روح القدس يې تاسو ته کوي کوم دي؟ نورو ته د تعليم ورکولو په وخت کښې دغه مطالب ستاسو

سره څه مرسته کولای شي؟ روح القدس واقعاً زمونږ ښوونکی دی. کله چې مونږ هغه ته اجازه ورکوو چې مونږ ته تعلیم راکړي او مرسته وکړي ترڅو د کلام آیاتونه زده کړو، هغه مونږ نورو ته د تعلیم ورکولو دپاره چمتو کوي. روح القدس ښځې او نارینه د تعلیم خدمت ته رابولي او هغه کسان یې چې رابللي دي ورته تعلیم ورکوي.

په دې خاطر چې په خدای کې وده وکړو، مونږ باید هغه وپېژنو. که چېرې مونږ یو ښه دوست ولرو، غواړو چې د وخت په تېرېدو سره هغه ډېر وپېژنو. دغه حقیقت د خدای په اړه هم صدق کوي. مونږ هیڅکله هم نشو کولای چې د هغه په هکله په ټولو حقیقتونو پوه شو. مګر د خدای روح هغه مونږ ته راپېژني. او په دې هکله مونږ ته تعلیم راکوي.

"هغه ټول خدای مونږ ته د روح په وسیله ظاهر کړل، ځکه چې روح دغه ټولې خبرې آزمایي بلکه د خدای پټې خبرې هم معلوموي. څوك د بل انسان د زړه خبرې معلومولی شي بغیر د انسان د خپل روح څخه چې په هغه کښې دی؟ دغه شان د خدای د روح نه بغیر هیچا ته د خدای خبرې معلومې نه دي. خو مونږ د دنیاوي روح څخه نه دي موندلي بلکه د هغه روح څخه چې د خدای له طرفه دی، د دې د پاره چې هغه شیان و پېژنو کوم چې خدای مونږ ته راکړي دي" (اول کورنتیان ۲: ۱۰- ۱۲). په دې خاطر چې مونږ د یوه ښه تعلیمي خدمت څخه برخمن شو باید د خدای روح ته اجازه ورکړو ترڅو په ژوند کې زمونږ لارښوونه وکړي. وروسته بیا مونږ کولای شو چې نورو ته تعلیم

ورکړو، ترڅو د روحاني ودې ترځنګ، مسیح ته هم اجازه ورکړي چې هغوی د خدای له روح څخه ډك کړي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

تر ټولو مناسب ځواب غوره کړئ

۵. د خلاصون څخه وروسته خدای زمونږ څخه د کوم کار سرته رسول غواړي؟

الف: د خپلو دوستانو د ستونزو له پاره د حل لاره پیدا کړو

ب: هره ورځ د خدای کلام ولولو

۶. څوك کولای شي چې د خدای له روح څخه ډك شي

الف: یواځې کشیشان او ښوونکي

ب: هر هغه څوک چې مسیحي وي

۷. روح القدس زمونږ د ودې په خاطر کوم کار کوي؟

الف: مونږ دې ته هڅوي چې صحیح کارونه وکړو

ب: مونږ کاملوي او نور به ګناه ونه کړو

۸. د کلام لوستل څرنګه کولای شي چې د مسیحیانو په روحاني وده کې مرسته وکړي؟

الف: د زده کړې له پاره زمونږ ورتیا زیاتوي

ب: هغو ته به حقایق ورزده کړي

## تعلیم د خدمت دپاره

زمونږ د روحاني ودې له پاره سرحد او یا پوله موجوده نه ده. مونږ ټول په خپل مسیحي ژوند کې تر مرګه پورې ودې ته

اړتیا لرو. زمونږ د مسیحي ژوندانه له پاره د خدای یو هدف د نیکو کارونو سرته رسول دي. که څه هم د نیکو عملونو په سرته رسولو سره مونږ نشو کولای چې خلاصون ترلاسه کړو. خلاصون د خدای له طرفه دی او ځکه خو مونږ خلاصون موندلی دی، نو روح القدس مونږ هڅوي ترڅو د خدای له پاره نیك کارونه سرته و رسوو. د هغو کارونو په سرته رسولو سره چې د خدای په نزد ښه دي، مونږ کولای شو چې په خدای کې خپلې ودې ته دوام ورکړو. د هر ځله ښه کار هغه دی چې مونږ له نورو سره کله چې یو کار ورته کوو، مینه او محبت ولرو. ښایي تاسو داسې یوه کورنۍ وپېژنئ چې د هغوی مور ناروغه وي. د هغو له پاره نیك کار دا دی چې تاسو د هغې د مور ساتنه وکړئ، د هغې ماشومانو ته خواړه برابر کړئ او ښه پالنه یې وکړئ. په دې خاطر چې تاسو مسیحي یاست نو د دې کارونو په ترسره کولو سره تاسو هغې ته دا ښیئ چې خدای له هغې سره مینه لري.

زمونږ په روحاني ژوندون کې هغه وخت وده رامنځته کیږي چې مونږ خپلې پیسې او وخت د نورو سره د مرستې په لاره کې وکاروو. مونږ کولای شو دا کار په کلیسا، کورنۍ او یا د خپل کار په ځای کې ترسره کړو. په کلیسا ګانو کې دغه کار د ذکات (لسمه) او نورو سوغاتونو د ورکړې له لارې ترسره کیږي. او په دې توګه مونږ کولای شو چې د خدای له کار څخه ملاتړ وکړو. خدای له هغو خلکو سره چې په خلاص زړه او ورین تندي سوغاتونه ورکوي، مینه لري. خدای ته په سوغات ورکولو سره مونږ کولای شو چې خپل اعتبار څرګند کړو او په دې ډاډه یو

چې هغه به په دې کار سره مونږ ته برکت راکړي. کلیسا هغه ځای دی چې مونږ هلته زده کوو چې څرنګه کولای شو د خپلو استعدادونو په کارولو سره د خدای خدمت وکړو. استعدادونه هغه ځانګړي وړتیاوې دي چې خدای مونږ ته را په برخه کړي دي. د مثال په توګه ځینو خلکو ته چې ښه آواز لري د سندرو ویل یو استعداد دی. مسیحیان په دې خاطر چې پوه شي چې کوم استعدادونه لري، تعلیم ته اړتیا لري. تعلیم د دې سبب ګرځي چې د کلیسا غړي په پیوستون او هم غږۍ سره یو له بل سره کار وکړي. د یکشنبې د ورځې د کورسونو ښوونکي او خادمین تعلیم ته اړتیا لري. د هغوی د زده کړې دپاره کېدای شي یو پروګرام ونیول شي. د غونډو د سمبالولو او د خلکو د هرکلي او نورو خدمتونو له پاره خادمین باید تعلیم ترلاسه کړي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۹. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ

الف: د خلاصون څخه وروسته د روحاني ودې کار تر یوې لنډې مودې پورې دوام مومي.

ب: مسیحیان باید دا تعلیم ترلاسه کړي چې د خدای له پاره سوغات ورکړي، ځکه هغوی مجبوره دي چې دغه کار وکړي.

ج: په دې خاطر چې د خدای مینه نورو ته څرګنده کړو مونږ باید تعلیم ترلاسه کړو.

د: ښوونکو ته دا اړتیا شته چې تعلیم ترلاسه کړي.
و: که چیرې څوك غواړي چې کلیسا ته خدمت وکړي هغه ته د دې کار په خاطر اجازه ورکړئ، که څه هم هغه د دې کار له پاره تعلیم هم نه وي حاصل کړی.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱) د خدای پیدا کول
۹) الف) غلط
ب) غلط
ج) درست
د) درست
ه) غلط
۲) پر مسیح باندې ایمان لرل
۸) ب
۳) الف) ۳
ب) ۱
ج) ۲
۷) الف
۴) الف
۶) ب
۵) ب

## ستاسو یادداشت

## څلورم لوست

# ټول تعليم ته اړتيا لري

آيا تر اوسه پورې مو داسې کومه مرغۍ ليدلې ده چې وغواړي خپل بچيان له خپلې ځالې څخه بيرون وباسي؟ هغه دا کار په دې خاطر کوي ترڅو کوچني مرغان دا زده کړي چې په خپل ځان پام وکړي. مونږ هم له هماغه کوچنيوالي څخه خپلو ماشومانو ته تعليم ورکوو چې څرنګه په نړۍ کې ژوند وکړي.

مونږ وليدل چې مسيحي تعليم درې هدفونه لري. د خلاصون د اړتيا درك کول، په مسيحي ژوندون کې وده او پرمختګ او مسيحي خدمت. اوس دې ټکي ته پاملرنه کوو چې ټول تعليم ته اړتيا لري. خدای پاک چې د ټولو انسانانو خالق دی، غواړي چې ټول خلک هغه وپيژني او ورسره مينه ولري. هر څومره زيات چې مسيحي تعليم ترلاسه کړو په هماغه اندازه زمونږ څخه يو ښه ښوونکی جوړيږي. زمونږ هيله داده چې زمونږ تعليم وکړای شي د ماشومانو، تنکيو ځوانانو او لويانو ژوند بدل کړي. دعا وکړئ چې خدای د هرچا اړتيا تاسو ته روښانه کړي او دا مطلب د هر مسيحي ښوونکي له پاره لومړنی ګام دی.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- هېڅ څوک مستثنی نه دی
  عیسی، زمونږ دپاره یو مثال دی
  د هر چا اړتیا
- خلك له یو بل سره توپیر لري
  ماشومان
  تنکي ځوانان
  لویان

## دا لوست به له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- ♦ دا توضیح کړئ چې مسیحي تعلیم ولې د ټولو لپاره دی
- ♦ دا درک کړئ چې د مختلفو عمرونو د خاوندانو ډلې د تعلیم په اړه مختلف غبرګونونه له ځانه ښکاره کوي.
- ♦ د دې مطلب درك کول چې د تعلیم ورکولو له پاره زده کړه څومره مهمه ده.

## هېڅ څوك مستثنی نه دی

### عیسی، زمونږ دپاره یو مثال دی

په لومړي لوست کې مو د عیسی فرمان ولوست چې ویل یې: "تاسو په زمکه خپاره شئ او ټول قومونه زما مریدان

(شاګردان) کړئ“ دا يو لوی فرمان دی. مونږ څرنګه کولای شو چې د هغه څخه اطاعت وکړو؟ زمونږ او ستاسو څخه ډېر خلک دا وس نه لرو چې ټولې دنيا ته لاړ شو. حتی هغه خلک چې ډېر ځايونو ته سفر کوي هغوی هم نشي کولای چې ټولو ته تعليم ورکړي. که چېرې تاسو د زده کړې شوق ولرئ او نورو ته تعليم ورکړئ، نو له دې فرمان څخه مو اطاعت کړی دی. ښايي د هغوی څخه ځيني په کليسا کې وي او يا ستاسو په ګاونډ او يا د کار ځای کې وي. خو په ياد لرئ چې ډير مهم خلک چې تعليم ته اړتيا لري هغه ستاسو د کورنۍ غړي دي. ستاسو کورنۍ تعليم ته اړتيا لري. که چېرې ټول مسيحيان لکه د مسيح په شان نارينوو، ښځو او ماشومانو ته تعليم ورکړي، نو ډېر ژر به ټول خلک د خدای پيغام واوري. عيسی زمونږ دپاره يو مثال دی. د خدای د محبت په اړه د هغه پيغام او د هغه زړې د ټولو له پاره ؤ. خو هغه کله هم د فلسطين له خاورې څخه چې د اسرائيليانو ټاټوبی ؤ، بهر نشو. هغه د ټولو هغو خلکو دپاره چې د هغه په شاوخوا کښې ؤو، تعليم ورکاوه. کله کله هغه له خلکو څخه غوښتل چې د هغه تعليم ته غوږ ونيسي. ”مسيح په بله موقه ټول خلک وغوښتل او ورته يې وويل: تاسو ټول زما خبرې واورئ او ځان ورباندې پوه کړئ“ (مرقوس ۷: ۱۴). کله کله به هغه هغو خلکو ته هم تعليم ورکاوه چې د هغه طرف ته راتلل. ”او بله ورځ سهار وختی هغه بيا د خدای کور ته راغی او ټول خلک ورته راغونډ شول. هغه کښېناست او تعليم يې ورکاوه“ (يوحنا ۸: ۲).

کله چې مونږ د عیسی ژوند په انجیلونو کې لولو، نو ګورو چې هغه هېڅوک تش لاس بېرته نه دی استولی. هغه په ټولو باندې پام کاوه او د هغوی اړتیاوې یې پوره کولې. د هغه له نظره هېڅوک بې ارزښته نه ؤ. کله کله دا ساده خبره ده چې مونږ فکر وکړو چې ګڼي یو نفر د تعلیم د حاصلولو ارزښت نه لري. او یا فکر وکړو چې هغه به کله هم انجیل ونه مني. نو ځکه مونږ نه غواړو چې خپل وخت له هغه سره ضایع کړو. او کله کله مونږ وېره لرو چې لویانو ته تعلیم ورکړو. مونږ باید دا اجازه ورنکړو چې زمونږ احساسات په دې کار کې زمونږ لارښوونه وکړي. عیسی د نورو د تعلیم ورکولو دپاره له هرې موقې څخه استفاده کوله او مونږ هم باید همداسې وکړو.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۱. تشریح کړئ چې مونږ څرنګه کولای شو چې د مسیح له دغه فرمان څخه چې " تاسو په زمکه خواره شئ او ټول قومونه زما مریدان (شاګردان) کړئ" اطاعت وکړو؟

۲. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ.

الف: د تعلیم په اړه د خدای فرمان د ټولو له پاره نه دی.

ب: مونږ باید خپلې کورنۍ ته تعلیم ورکړو.

ج: د تعلیم ورکولو فرمان د متي د انجیل په ۲۸: ۱۹ کې لیکل شوی دی.

د: عیسی ځینو خلکو ته تعلیم نه ورکاوه

و: عیسی یوازې رهبرانو ته تعلیم ورکاوه.

## د هرچا اړتيا

پولوس دا تعليم ورکړ چې د خدای د محبت پيغام د ټولو دپاره دی. کله چې هغه د آتن په ښار کې د مسيح او د هغه د بيرته ژوندي کېدو په اړه خبرې کولې، خلکو له هغه څخه وغوښتل چې دغه موضوع تشريح کړي. هغه خلکو ته دا توضيح کړه چې خدای څرنګه نړۍ او د هغې مخلوقات پيدا کړل. بيا هغه وويل: ” ترڅو چې د ناپوهۍ د وخت تعلق و نو خدای ځان پرې نا غرض کړی وو، خو اوس هغه هر چرته ټولو بنی آدمو ته دا حکم ورکوي چې توبه ګار شي“ (د رسولانو عملونه ۱۷: ۳۰).

پولوس په خپل ليک کې د روم کليسا ته وليکل چې د خلاصون پيغام د ټولو دپاره دی. مقدس کتاب فرمايي: ”صحيفه وايي چې هرڅوک چې په هغه باندې ايمان راوړي، هغه به خجالت نشي. نو دلته په يهودي او په غير يهودي کې هيڅ فرق نشته ځکه چې همدغه يو خدای د ټولو مالک دی او د هرچا د پاره چې هغه ته زاري کوي، غني دی. لکه چې صحيفې وايي چې: هر هغه څوک چې د مالک په نوم زاري کوي، هغه به خلاصون بيا مومي“ (روميان ۱۰: ۱۱- ۱۳).

يوازې دا کافي نه ده چې ووايو چې ټول خلک بايد تعليم حاصل کړي، بلکه بايد دې پوښتنې ته ځواب ورکړو چې ولې ټول خلک تعليم ته اړتيا لري؟ هغه خلک چې مسيحيان نه دي، په دې خاطر چې دا درک کړي چې څرنګه کولای شي

مسیحیان شي، تعلیم ته اړتیا لري. باید هغوی ته وویل شي چې بله هیڅ داسې کومه لاره نشته چې هغوی په خپلو زړونو کې آرامتیا او هوسایي ولري. د ابدي ژوندون لاره په مسیح باندې ایمان راوړل دي. مګر د مسیحیانو په اړه څنګه؟ آیا هغوی هم تعلیم ته اړتیا لري؟ هو! مونږ ټول تعلیم ته اړتیا لرو. تر هغې پورې چې اسمان ته ونه رسېږو مونږ هیڅ یو به کامل نه شو. نو په کار دي چې په منظم ډول زده کړه وکړو. له همدې کبله پولوس هغو مسیحیانو ته چې د هغوی خدمت کوي، لیکي: "مونږ د هغه پیغام اوروو او هر چا له نصیحت کوو او هر یو ته په پوره هوښیارتیا تعلیم ورکوو چې مونږ هر څوک په مسیح کې کامل کړو او پیش یې کړو" (کولوسیان ۱: ۲۸).

پولوس په اول تیموتاوس ۴: ۱- ۲ کې د تعلیم د حاصلولو د اړتیا په هکله یو بل مثال بیانوي. هغه ولولئ او دغو سوالونو ته ځواب ورکړئ:

هغه کوم تعلیمات دي چې شیطان غواړي مونږ په هغو باندې باور وکړو؟ هغه صحیح تعلیم چې پولوس په دې هکله بیانوي څه شی دی؟ تیموتاوس څه غوښتل چې خپلو مسیحي ورونو ته یې ترسره کړي؟ او کوم کار د خپل ځان دپاره وکړي؟ شیطان غواړي چې غلط تعلیم خپور کړي. هغه غواړي چې خلك داسې فکر وکړي چې ګڼې واده کول یوه غلطي او تېروتنه ده او یا د ځینو خواړو خوړل حرام دي. که چېرې هغه بریالی شي چې زمونږ فکر د دغو شیانو لورې ته واړوي، او که چېرې زمونږ ذهن د دې مسایلو طرف ته واوړي، نو نور مونږ د خدای

د حقایقو په اړه فکر نه کوو او په دې توګه مونږ د روحانې ودې څخه بې برخې کېږو. له همدې کبله پولوس تیموتاوس ته وایي چې د خلکو سره د خدای د حقیقت په اړه خبرې وکړي ځکه ټول دې ته اړتیا لري چې حقیقت و پېژني او که چېرې حقیقت ونه پېژني نو شیطان به د هغوی ذهنونه له دروغو څخه ډك کړي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

تر ټولو ښه ځواب غوره کړئ

۳. تاسو کولای شئ .................................. په تعلیم ورکولو سره د اوسني عصر پولوس واوسئ،.

الف: خلک په روم کښې

ب: هغه خلک چې مسیح پېژني

ج: هغه ټول خلک چې مسیح ته اړتیا لري

د : خلک په آتن کې

۴. ټول دې ته اړتیا لري چې تعلیم حاصل کړي ترڅو ..................................

الف: د خدای په هکله زیات معلومات ولري

ب: حکمت ولري

ج: د عیسی مسیح په وسیله ابدي ژوندون ولري

۵. د شیطان په دروا‌غو باندې د غلبې په خاطر باید ..................................

الف: د خدای د حقیقتونو تعلیم ورکړل شي

ب: د نړۍ د تاریخ تعلیم ورکړل شي

ج: د صداقت او ایمانداری تعلیم ورکړل شي

## خلک له یو بل سره توپیر لري

مونږ ټول نه یواځې په روحاني وده کې بلکه د درك او پوهې له پلوه هم سره فرق لرو. ټول خلك تعلیم ته اړتیا لري، خو دا ښکاره خبره ده چې مونږ نشو کولای حقایق یو ماشوم ته په هغه شان بیان کړو چې یو لوی سړي ته یې بیانوو. اوس به مونږ دا موضوع وڅېړو چې څرنګه باید هغو مختلفو قشرونو ته چې د سن په لحاظ سره توپیر لري، تعلیم ورکړو.

## ماشومان

مسیح ماشومانو ته زیات ارزښت ورکاوه. کله چې شاګردانو په دې بحث کاوه چې د هغو څخه څوك به په آسمان کې لویي ولري، مسیح هغو ته یو ماشوم وښود او ویې ویل: "هغه څوك چې زما په نوم دغه ماشوم قبول کړي هغه ما قبلوي او هغه څوك چې ما قبلوي، هغه هغه څوك قبلوي چې زه یې استولی یم. ځکه چې په تاسو ټولو کې ورکوټی په تاسو ټولو کې لوی دی" (لوقا ۹: ۴۸).

د مسیح له ویناو څخه مونږ دا درك کوو چې باید د تعلیم په خدمت کې د ماشومانو دپاره هم یو خاص ځای په پام کې ونیسو. مګر څرنګه کولای شو دغه کار شروع کړو؟ مور او پلار باید له هماغه ماشوموالي څخه کلیسا ته د خپلو ماشومانو په بیولو سره هغو ته تعلیم ورکړي. په دې خدمت کې د یکشنبې د

ورځې تعليمي پروګرامونه هم بايد يوځای شي. له هماغو ماشوموالي څخه بايد مونږ هغو ته د مسيح په هکله سندرې ووايو او د هغه په اړه له هغوی سره خبرې وکړو. په دې توګه به ماشومان عيسی د خپلې کورنۍ د غړي او د يو دوست په توګه وپېژني.

ماشومان به د خپل چاپېريال د پېژندلو په روحيه لوی شي. هيڅ مور او پلار له خپل دوه کلن ماشوم څخه دا تمه نه لري چې هغه دې يو کور جوړ کړي. د مثال په توګه ماشوم لومړی په يوه لرګي باندې لوبې کول زده کوي، وروسته بيا زده کوي چې څرنګه له يوه څټک او ارې څخه کار واخلي. د يو ماشوم په ژوند کې وده او پرمختګ هم هماغه شان وي. يو دوه کلن ماشوم د مسيح په مرګ او بېرته راپورته کېدو باندې نه پوهېږي. هغه په دې باور کوي چې عيسی د هغه ملګری دی. په لاندينۍ طرحې کې مونږ د روحاني مسايلو په هکله هغه تفاوتونه ګورو چې د بيلابيلو عمرونو سره تړاو لري.

# د زده کړې تفاوتونه

| | ۲ - ۳ کالو پورې | ۴ - ۵ کالو پورې |
|---|---|---|
| خدای | داسې احساسوي چې خدای حقیقي دی | خدای ته د پلار په توګه فکر کوي |
| عیسی | احساسوي چې مسیح یو ښه دوست دی | د عیسی حضور احساسوي |
| انجیل | یو ځانګړی کتاب دی | یو ځانګړی کتاب |
| دعا | په ساده توګه دعا کوي | په ساده توګه دعا کوي |
| روحاني وده | - | ښه او بد تشخیصوي |

# د زده کړې تفاوتونه

| | ۶ - ۸ کالو پورې | ۹ - ۱۱ کالو پورې |
|---|---|---|
| خدای | خدای ته د محبت او قدوسیت په سترګه ګوري | خدای ته د یو لوی قاضي په سترګه ګوري |
| عیسی | هغه د خلاصوونکي په توګه قبلوي | د هغه د ښه شناخت په لور وده کوي |
| انجیل | د هغه لوستل شروع کوي | په منظم ډول آیت لولي او هغه یادوي |
| دعاد | د دعا په نسبت باور لري | همیشه د دعا له پاره تیار دی |
| روحاني وده | د خدای کمك درك کوي | روحاني اړتیاوې تشخیصوي |

که چېرې تاسو د ماشومانو ښوونکی یاست او یا مور او پلار یاست، دغه طرحه ولولئ ځکه ستاسو سره به مرسته وکړي

ترڅو درك كړئ چې كوم روحاني حقیقتونه د مقدس كتاب څخه ماشومانو ته زده كړئ.

## هغه څه چې باید ترسره یې كړئ

۶. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه وركړئ

الف: عیسی وویل له دې كبله چې ماشومان ډېر كوچني دي نو هغوی ته تعلیم وركولو ته اړتیا نشته

ب: مونږ باید د خپل تعلیم په خدمت كې ماشومانو ته هم پاملرنه وكړو.

ج: ماشومان په دوه كلنۍ كې تیار دي چې د مړو د راپورته كېدو په اړه واوري.

د: مونږ همیشه كولای شو چې د ماشومانو سره د مسیح د محبت په اړه خبرې وكړو

۷. څرنګه چې دا نشي كېدای چې همیشه له ماشومانو څخه دا تمه ولرو چې هغه سختې مسئلې درك كړي، نو بهتره ده چې

الف: انتظار وباسو ترڅو هغوی لوی شي او بیا وروسته هغوی ته د خدای په هكله تعلیم وركړو.

ب: د مسیح د مینې او محبت په هكله د ډېرو ساده حقایقو څخه پیل كړو.

## تنكي ځوانان

د نوې ځوانۍ په دوران كې ډېر بدلونونه منځ ته راځي. یو نفر د خپل ماشومتوب د ایمان په اړه پوښتنې كوي، نو له

همدې کبله باید ښوونکي د هغوی سره د مرستې له پاره دا لاندیني ګامونه پورته کړي.

۱) **د هغوی پوښتنو ته ځوابونه:** دا مهمه نه ده چې یو ځوان کومه پوښتنه کوي، مګر هغه یو ځواب ته اړتیا لري. کله کله ځواب ورکول ډېر ګران وي مګر د خدای په مرسته مونږ کولای شو چې داسې ځوابونه برابر کړو چې روښانه کړي چې خدای ډېر ښه دی.

۲) **د هغوی خبرو ته غوږ ونیسئ.** د یو ځوان ذهن سخت کار کوي او د ژوندون په هکله د هر څه د څېړلو په حال کښې وي او واضیح ده چې غواړي هغه څه یې چې لیدلي او تجربه کړي دي، بیان کړي. دا کېدای شي چې د یوې علمي موضوع څرګندونه وي او یا د یوه ماشین په اړه توضیحات وي. هغه غواړي چې خپل عقاید تاسو ته بیان کړي او دې ته اړتیا لري چې مونږ ور ته غوږ ونیسو.

۳) **د یو مثال وړاندې کول:** یو ځوان باید وګوري چې مسیحیت په حقیقت کې وجود لري نو له همدې کبله خپلې تجربې او د دعا ځوابونه له هغه سره شریك کړئ. که چېرې هغه مسیح ستاسو په ژوندون کې وګوري نو ستاسو تعلیم به هم زده کړي.

۴) **د هغه په ژوند کې د خدای د حقیقت کارول:** له هغه سره دعا او کار وکړئ. وروسته هغه کولای شي چې په خپله د خدای د وعدو رښتینوالی په خپل ژوند کې زده کړي. هغه دې

ته اړتیا لري چې د خدای کار په خپل ژوند کې وګوري. دا کار په هغه کښې د ایمان د راپیدا کیدلو سبب ګرځي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۸. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ
الف: نوي ځوانان دې ته اړتیا لري چې د خدای کار زمونږ په ژوندانه کې وګوري.
ب: باید دا هڅه ونکړو چې د ځوانانو ټولو پوښتنو ته ځوابونه ورکړو.
ج: دا مهمه ده چې یو ټاکلی وخت د ځوانانو د خبرو اوریدو ته ځانګړی کړو.
د: د یو نوي ځوان د زده کړې دپاره مهمه لاره دا ده چې مونږ د هغوی دپاره یوه ښه نمونه اوسو.
۹. د یوه نوي ځوان روحاني وده مختلفه وي، ځکه
الف: په حقیقت کې هغه هیڅکله په هغه تعلیم چې حاصل کړی یې دی، نه دی پوه شوی.
ب: خپلو مشرانو ته غوږ نه ږدي
ج: هغه د خپل ماشومتوب د ایمان په اړه پوښتنې کوي

## لویان

لویان مقدس کتاب په هغې طریقې سره درک کوي چې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو له درك او پوهې څخه لوړ دی. مګر سره له دې هم هغوی ته په کار دي چې تعلیم حاصل کړي او د هغه په مطابق ژوند وکړي او که نه نو هغوی به په روحاني

لحاظ وده او پرمختګ ونکړي. مګر کله چې هغوی د خدای د کلام څخه اطاعت وکړ کولای شي چې ډېر ژور حقیقتونه زده کړي او خپلې ودې ته ادامه ورکړي. د خدای د کلام تعلیم باید په لویانو کې د هغوی د ژوند د بدلون سبب وګرځي. لویانو ته باید تعلیم ورکړای شي چې مسیح د کلیسا سر او د هغوی د ژوند مالك دی. که څه هم مونږ له یو بل سره فرق لرو مګر مسیح کولای شي مونږ هر یو ته وښئ چې څه ډول ژوند وکړو. کله چې مونږ د هغه څخه اطاعت کوو هغه زمونږ د ژوند مالك کېږي. د یو لوی او ایماندار شخص په توګه مونږ کولای شو چې د کلام ښوونکي اوسو. ښوونکي شاګردانو ته د یو شي په زده کړې کې د خدای مرسته کوونکي بلل کېږي. څومره زیات چې مونږ د شاګردانو اړتیاوې درك کړو هغومره زیات کولای شو چې هغو ته ښه تعلیم ورکړو چې وکولای شي د هغوی اړتیاوې پوره کړي. خدای غواړي چې ټول خلك تعلیم حاصل کړي، مګر د زده کوونکو په هکله باید په ډاګه کړو چې هغوی ته باید د هغوی د اړتیاوو او د پوهې د سطحې په مطابق تعلیم ورکړو.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

د ورکړل شویو ځوابونو څخه تر ټولو ښه ځواب غوره کړئ

۱۰. لویانو ته کولای شو (په چټکه توګه / د ژورو حقیقتونو) تعلیم ورکړو.

۱۱. کله چې یو بالغ شخص د خدای د کلام له حقیقتونو څخه اطاعت ونکړي (د هغه روحاني وده په ټپه ودریږي / کېدای شي چې هغه ته نور تعلیم هم ورکړای شي)
۱۲. ښوونکي (یواځې لویان / د خدای مرسته کوونکي) دي.
۱۳. اوس مو چې د بیلابیلو ډلو تر منځ د سن تفاوت مطالعه کړ، که چېرې وغواړئ یو چا ته تعلیم ورکړئ، څه به وکړئ؟

## ځیل ځوابونه مقایسه کړئ

۱۳) لومړی باید هغه پېژنو چې آیا هغه مسیحي دی که نه او وروسته بیا د هغه د سن په مطابق د هغه سره د ضرورت وړ تعلیم پر مخ بوزو.
۱) هغو خلکو ته په تعلیم ورکولو سره چې مونږ یې پېژنو
۱۲) د خدای سره مرسته کوونکي یا همکاران
۲) الف) غلط
ب) درست
ج) درست
د) غلط
ه) غلط
۱۱) د هغه روحاني وده په ټپه ودریږي
۳) ج
۱۰) ژور حقیقتونه
۴) ج

۹) ج

۵) الف

۸) الف) درست

ب) غلط

ج) درست

د) درست

۶) الف) غلط

ب) درست

ج) غلط

د) درست

۷) ب

# هر څوک کولای شي چې ښوونکی شي

ځینې لوی برکتونه د هغو مسیحیانو په برخه وي چې تعلیم ورکوي. کله چې تاسو یو شخص وینئ چې مسیح یې د خپل خلاصوونکي په توګه منلی دی، ستاسو زړه د یوې واقعي خوشالۍ څخه ډک شي او که چېرې هغه په خدای کې وده وکړي نو دغه خوشالي به نوره هم زیاته شي. په دې لوست کې به دغه ټکی زده کړو چې ولې هرڅوک کولای شي چې تعلیم ورکړي. مونږ وایو چې نشو کولای دغه کار تر سره کړو مګر خدای به زمونږ سره مرسته وکړي. که چېرې تاسو د خدای د نقشې څخه اطاعت وکړئ نو الهي ښادي به ستاسو په برخه شي. د دې څخه بله هېڅ داسې لویه خوشالي نشته چې له یو چا سره مرسته وکړئ چې هغه د خدای په ارادې باندې پوه شي او تاسو کولای شئ چې دغه کار تر سره کړئ.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- خپل ځان د خدمت په کار کې ښکېل کړئ
- وقف شوي اوسئ
- له هرې موقعې څخه استفاده وکړئ
- خپل نعمتونه پراخ کړئ

## دا لوست به له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- دا توضيح کړئ چې څرنګه هر مسيحي کولای شي د تعليم په چارو کې ښکېل وي
- هغه وقف کيدنه چې هر مسيحي ښوونکی ورته اړتيا لري، درك کړئ
- د ورځيني فعاليتونو سره د تعليم تړاو پيدا کړئ
- د تعليم په خدمت کې خپل مقام تشخيص کړئ

## خپل ځان د خدمت په کار کې ښکېل کړئ

مونږ پوهېږو چې د خدای د کلام ښوونکی بايد مسيحي وي. داسې ښوونکي هم شته چې سره له دې چې مسيح يې د خپل خلاصوونکي په توګه نه دی قبول کړی خو بيا هم د مقدس کتاب تعليم ورکوي. مګر هغوی د خدای روح ته اجازه نه ورکوي چې د خدای د کلام په درك کولو کې له هغه سره مرسته وکړي. پولوس وايي: "څوك د بل انسان د زړه خبرې معلومولی شي بغير د انسان د خپل روح نه چې په هغه کې دی؟ دغه شان د خدای د روح نه بغير هيچا ته د خدای خبرې معلومې نه دي" (اول کورنتيان ۲: ۱۱). په تير درس کې مو روح القدس د خپل ملاتړ کوونکي په توګه وپېژاند. د خدای د روح د کار يوه برخه د مقدس کتاب په درك کولو کې زمونږ سره مرسته ده. همدا شان مونږ په لومړي درس کې زده کړل چې عيسی ټولو مسيحيانو ته فرمان ورکوي چې لاړ شي او تعليم ورکړي. کله

چې مونږ مسيحيان كېږو زمونږ څخه دا تمه كېږي چې تعليم وركړو. تاسو به وايئ چې ''زه دا كار نشم كولای'' او يا ''زه په كافي اندازه د خدای په كلام باندې نه پوهېږم''. خدای ستاسو څخه دا تمه نه لري چې د تعليم څخه مخكې په ټولو شيانو باندې پوه شئ. مونږ هيڅ يو نشو كولای چې د خدای د كلام په ټولو حقيقتونو باندې پوه شو خو خدای زمونږ څخه غواړي چې په هغه څه چې پوهېږو نورو ته يې هم زده كړو. كله چې مونږ له ګناه څخه خلاصون مومو نو بايد د خپلو دوستانو او د كورنۍ له غړو سره د هغه څه په اړه چې خدای زمونږ دپاره كړي دي خبرې وكړو او دغه كار زمونږ د تعليم د خدمت پيل دی. كله چې مونږ ورو ورو په مسيحي ژوندون كې وده او پرمختګ كوو زمونږ وړتيا نورو ته په تعليم وركولو كې هم زياتېږي. ځيني خلك وايي چې: ''زه نشم كولای چې تعليم وركړم ځكه چې كامل نه يم'' او يا ''زه په خپل مسيحي ژوندون كې ډېر ناتوانه يم او تر اوسه پورې هم ګناه كوم''. دغه مطلب به تاسو ته دا خبره درپه ياده كړي چې هغه شاګردان چې مسيح غوره كړي ؤو، هم كامل نه ؤو او همدې شاګردانو بايد د مسيح په هكله تعليم وركړی وای.

اوس به مونږ د هغو څخه پر ځينو باندې يوه لنډه كتنه ولرو. د مسيح درې نږدې شاګردان پطروس، يعقوب او يوحنا نوميدل. يعقوب او يوحنا سره ورونه ؤو. عيسی هغوی ته د ''بوانرجس'' لقب وركړی ؤ چې د ''تندر د زامنو'' په معنی ده (مرقوس ۳: ۱۷). عيسی په دې دليل هغوی د تندر د زامنو په

نامه یاد کړل چې کله یعقوب او یوحنا له خپلې مور څخه وغوښتل چې له عیسی سره خبرې وکړي. هغوی په خپله له دې کار څخه وېره لرله ځکه هغوی غوښتل چې د مسیح په راتلونکې پاچاهۍ کې دې غوره مقام ولري او دا یوه خود خواهانه غوښتنه وه. بل وخت هغوی په هغو خلکو باندې چې دوی ته یې ښار ته د ننوتو اجازه نه ورکوله، دومره په قهر شول چې د مسیح څخه یې غوښتنه وکړه چې په هغوی باندې دې د آسمان څخه اور نازل کړي او ټول دې نیست او نابود کړي. یعقوب او یوحنا یواځې د خپل ځان په هکله فکر کاوه مګر عیسي هغوی په دې خاطر غوره کړل ترڅو د هغه په باره کښې نورو ته تعلیم ورکړي. پطروس هم یوه سخته تجربه لرله. هغه یو ځل وویل چې تیار دی چې د مسیح په خاطر ځان د مرګ منګولو ته وسپاري مګر وروسته له څو ساعتو څخه یې یوې ځوانې انجلۍ ته وویل چې هغه مسیح هېڅ نه پېژني.

ستاسو په یاد دي چې د مسیح د پورته کېدو څخه پس، پطروس وغوښتل چې د مسیح څخه پیروي وکړي. سره د دې چې پطروس کامل نه ؤ مګر عیسی د هغه څخه وغوښتل چې د نورو ښوونکی اوسي. مونږ هېڅ یو کامل نه یو. مونږ ټولو ګناه کړې ده. مګر لکه څنګه چې مسیح خپل شاګردان چې کله کله یې ګناه هم کوله غوره کړل، مونږ یې هم غوره کړي یو. که څه هم مونږ کامل نه یو مګر د خدای له کلام څخه په اطاعت کولو سره مونږ د مسیح په شان کېږو. عیسی پوهېږي چې مونږ د خپلې هڅې او زیار په واسطه نشو کولای چې کامل شو. مګر

هغه زمونږ څخه غواړي چې د هغه څخه اطاعت وکړو او ګناه ونه کړو او له همدې امله یې روح القدس استولی دی ترڅو زمونږ سره مرسته وکړي. کله چې مونږ پوهېږو چې زمونږ ګناهونه بخښل شوي دي نو په دې پوهېږو چې خدای پاک زمونږ سره مینه کوي.

دا هغه پیغام دی چې هر مسیحي کولای شي هغه نورو ته زده کړي. خدای کولای شي هغوی هم وبخښي ځکه له هغوی سره مینه لري. هغه څه مو چې زده کړل هغه نورو ته هم ورزده کړئ. د ښوونکي د پیغام په اړه به په راتلونکي لوست کښې ځینې شیان ولرو.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۱. په هو او یا نه سره ځواب ورکړئ.

الف) آیا هغه شخص چې روح القدس نه لري د دې وس لري چې د مقدس کتاب تعلیمات درک کړي؟

ب) آیا ټول مسیحیان په هر هغه څه چې د خدای له کلام څخه ورته اړتیا لري، پوهېږي؟

ج) آیا شاګردان کامل ؤو؟

الف: د) آیا مسیح د خپلو فرمانونو د تعلیم ورکولو دپاره له کاملو شخصیتونو څخه استفاده وکړه؟

ب: ه) آیا خپلو دوستانو ته باید ووایو چې خدای له هغوی سره مینه لري؟

۲. تشریح کړئ کله چې خدای تاسو ته نجات درکړ، څه کار یې تاسو له پاره وکړ؟ دغه موضوع څرنګه خپل یو ملګري ته چې مسیحي هم نه دی بیانوئ؟

۳. زه کولای شم چې د مسیح په هکله تعلیم ورکړم ځکه (ممکنه ده چې د یوه څخه زیات ځوابونه صحیح وي)

الف: کامل یم

ب: ګناهکار یم.

ج: د هغه په باره مې مطالعه کړې ده

د: زما سره روح القدس شته چې زما ملاتړ کوونکی دی.

## وقف شوي و اوسئ

تاسو که هر څوک یاست، خدای کولای شي چې ستاسو څخه نورو ته د تعلیم ورکولو په خاطر استفاده وکړي. مګر تاسو باید د هغه د هغه فرمان څخه د اطاعت په خاطر چې د تعلیم په هکله تاسو ته درکړل شوی دی، خپل ځان وقف کړئ. د وقف معنی (( د یوه ځانګړي مقصد دپاره خپل ځان بیلول دي)). کله چې یو نفر کشیش کېږي هغه خپل ژوند د دې خدمت دپاره وقف کوي. هغه د کشیشتوب دپاره کړنلارې جوړوي او مطالعې کوي. که چېرې هغه یو ه بله دنده لکه دهقاني، تجارت او یا ډاکتري غوره کړې وای، نو د هغو دپاره به یې هم کړنلارې جوړولې. مونږ ټول دې قسم وقف کیدنې ته اړتیا لرو چې د تعلیم خدمت پر مخ یوسو. حتی که تاسو د یکشنبې د کورسونو ښوونکي هم نه یاست، کولای شئ چې له ښوونکو

سره مرسته وكړئ. د تعليم د خدمت څخه د ملاتړ ډېره ښه لاره دا ده چې مونږ ښه زده كوونكي اوسو او د هغو حقيقتونو څخه چې زده كوو يې اطاعت وكړو. د هغو خلكو دپاره چې د يكشنبې د كورسونو ښوونكي دي، تعليم د كشيشتوب په څير يو دايمي خدمت نه دى. خو مونږ چې هر قسم تعليم وركوو، نو د هغه دپاره يو پلان او مطالعې ته ضرورت لرو او د هغې له پاره خپل ځان وقف كړو. په دې خاطر چې ښوونكي شو ولې مطالعې ته اړتيا لرو ؟ يو ښوونكى دې ته اړتيا لري چې ځيني شيان درک او هغه عملي كړي. او هغه دا دي:

۱- يو ښوونكى بايد دا ومني چې ټول خلک تعليم ته اړتيا لري.

۲- هغه بايد پوه شي چې انسان د خداى څخه پرته ''ورک شوى'' وي.

۳ – هغه بايد پوه شي چې مسيحيان روحاني ودې ته اړتيا لري.

۴- بايد پوه شي چې د كوم مطلب تعليم وركوي نو له دې كبله لاژمه ده چې مقدس كتاب ولولي.

۵- ښوونكى بايد هر هغه څه چې نورو ته زده كوي په خپله هم وربانديې عمل وكړي او هغه په خپل ژوند كې عملي كړي.

ټول مسيحيان بايد په دې مطلب پوه شي او د تعليم په خدمت كې د هغه څخه كار واخلي. تعليم كولاى شي چې يوه مبارزه وي. كه چېرې مسيحي تعليم په كليسا او يا د يكشنبې

په کورسونو کې ورکول کېږي، هغه تعلیمي نعمت ته چې د روح القدس له خوا ورکول کېږي، اړتیا لرو. په دې اړه به خبرې وکړو. مګر هغه مسیحیان چې نور نعمتونه لري او د تعلیم له نعمت څخه بې برخې دي، باید د مسیح له هغه فرمان څخه اطاعت وکړي چې وایي ټولو ته تعلیم ورکړئ. کله چې مونږ د دې خدمت دپاره ځان خدای ته سپارو، هغه زمونږ سره مرسته کوي. د زبورونو لیکوال په تېرو زمانو کې وایي: ''خپل کارونه خدای ته وسپاره او په هغه توکل وکړه او هغه به یې درته ترسره کړي'' (زبور **۳۷: ۵**).

خدای پاک هغه شخص هیڅ کله نه نا امیده کوي چې دې ته تیارېږي چې خپل ځان د مسیح د فرمان د اطاعت له پاره وقف کړي. هغه انتظار کوي چې ستاسو سره مرسته وکړي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

**۴.** د ورکړل شویو ځوابونو څخه تر ټولو ښه ځواب غوره کړئ.

الف: ښوونکي باید د ګناهکارانو په اړه په کومو مطالبو پوه شي؟ هغوی دې ته اړتیا لري چې (کامل شي / تعلیم حاصل کړي)

ب: د یو ځانګړي مقصد له پاره ځان بیلول د (وقف / زده کړې) په معنی ده.

ج: مخکې له دې چې نورو ته د خدای د کلام د تعلیماتو په اړه تعلیم ورکړو باید (په ټولو شیانو پوه شو / په خپله د حقیقت څخه اطاعت وکړو).

۵. د لاندينيو عبارتونو څخه كوم يو دغه جمله بشپړولی شي. هغه مسيحيان چې په يكشنبه يي كورسونو كې ښوونكي نه دي، كولای شي د ښوونكو سره ډېره ښه مرسته وكړي.
الف: په دې ډول چې له خپل كشيش څخه وغواړي چې د هغوی له پاره دعا وكړي ترڅو د تعليم نعمت حاصل كړي.
ب: په دې توګه چې اطاعت كوونكي زده كوونكي اوسي.
ج: د خدای كلام مطالعه كړي، ترڅو د كليسا كشيشان شي.

## له هرې موقعې څخه استفاده وكړئ

كله چې د تعليم په هكله فكر كوو نو د يكشنبې د ورځې كورسونه زمونږ په ذهن كې راګرځي. مونږ د كتابونو، ميز او چوكۍ په هكله فكر كوو. خو مونږ د خپل ژوندانه په هر اړخ كې تعليم ته اړتيا لرو. مور او پلار په كور كې، كارګران، مغازه لرونكي، تاجران او لنډه دا چې ټول خلك كولای شي ځانله يوه موقعه پيدا كړي ترڅو نورو ته تعليم وركړي. مونږ هميشه ميز او كتاب ته اړتيا نه لرو او هر مسيحي كولای شي چې په هره موقعه كې د مسيح په هكله خبرې وكړي. كله چې مونږ د مسيح ژوند ته ګورو نو وينو چې هغه په مختلفو ځايونو كې تعليم وركاوه. يوه شپه نيقوديموس چې يو يهودي مشر ؤ، د عيسی څنګ ته راغی ترڅو د هغه سره خبرې اترې وكړي.

مسيح له دې موقعې څخه استفاده وكړه چې هغه ته تعليم وركړي چې څرنګه كولای شي خلاصون ترلاسه كړي. په بل وخت

کې، عیسی له خپلو شاګردانو سره د سامریې په لاره تېرېده. شاګردان ښار ته لاړل ترڅو خواړه تیار کړي او عیسی د ستومانۍ له کبله د یوه کوهي څنګ ته آرام وکړ. لږه شیبه وروسته یوه ښځه راغله چې له کوهي څخه اوبه وباسي. عیسی له هغې سره خبرې پیل کړې او هغې ته یې تعلیم ورکړ. مسیح یوازې د یهودیانو په عبادت ځایونو کې تعلیم ور نه کړ، بلکه د سیند پر غاړه، کورونو او حتی کله به چې د خپلو شاګردانو سره په لاره روان ؤ، نو تعلیم به یې ورکاوه. هر چېرې به چې خلکو د هغه خبرو ته غوږ نیوه، هلته به یې خبرې کولې. آیا تر اوسه پورې داسې شوي دي چې له هغو خلکو سره چې ستاسو سره ډوډۍ خوري، د خدای د کلام په هکله مو ورسره خبرې کړې وي؟ ښایي هغوی ستاسو دوستان او یا د کورنۍ غړي وي. د مقدس کتاب څخه د څو آیاتونو لوستل او د هغو په هکله غږېدل ډېر ګټور دي. دا د تعلیم ورکولو یوه طریقه او لاره ده. له دوستانو سره د کار په ځای کې او یا په کوم بل ځای کې غږېدل کېدای شي یوه ډېر ښه موقعه وي چې د خدای د کلام په هکله له هغوی سره خبرې وکړئ.

خلک په خپل ورځنیي ژوند کې له ډېرو ستونزو سره مخامخ دي او تاسو کولای شئ چې هغوی ته هغه خدای ور وپېژنئ چې دا وس لري چې د هغوی سره مرسته وکړي او د هغوی دعا ګانې قبولې کړي. زه یوه ښځه پېژنم چې تل به یې د خپلو دوستانو سره داسې ستړي مشي کوله او پوښتنه به یې ورڅخه کوله: ”نن خدای پاک ستاسو دپاره کوم کار کړی

دی؟“ او دغه پوښتنه په روحاني مسايلو باندې د بحث دپاره لاره خلاصوله. هغه څه چې خدای مسيحيانو ته ورزده کړي دي ، هغوی يې يو او بل ته لېږدوي. په راتلونکي لوست کې به په کورنيو ګروپونو کې د مقدس کتاب د تعليم په هکله خبرې وکړو. مونږ ته د تعليم ورکولو دپاره ډېرې موقعې شته. هر چېرې چې يوه ډله ګورو نو هلته ضرور يو څوک زمونږ د تعليم دپاره انتظار وباسي.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

۶. د صحيح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ
الف: د تعليم ورکولو له پاره ميز او کتاب ته اړتيا لرو.
ب: مسيحيان کولای شي په هر ځای کښې تعليم ورکړي.
ج: مسيح مونږ ته ښئ چې څرنګه کولای شو د ژوند له فرصتونو څخه د تعليم ورکولو په کار کې استفاده وکړو.
د: د تعليم ورکولو يوه لاره دا ده چې د خپلو ستونزو په هکله له نورو سره خبرې وکړو.

۷. د ځينو هغو فرصتونو نوم واخلئ چې تاسو کولای شئ د خپل تعليم د خدمت په دنده کې ورڅخه استفاده وکړئ.

## خپل نعمتونه پراخه کړئ

په نوې لوظنامې کې پولوس رسول درې ځله د روح د نعمتونو نومونه اخلي او هر ځل پکې د تعليم له نعمت څخه يادونه کوي.

که چیرې زمونږ نعمت نورو ته د خدای د پیغام رسول وي، د هغه ایمان په مطابق چې مونږ یې لرو باید هغه پرمخ یوسو. که چیرې د خدمت نعمت لرو نو باید د نورو خدمت وکړو، او که د تعلیم نعمت لرو نو باید په ښه شان سره تعلیم ورکړو. (رومیان ۱۲: ۷)

"خدای په کلیسا کې ځانګړي خلک په لاندیني تفصیل سره ګومارلي دي: اول رسولان، دوهم نبیان او دریم استاذان یا ښوونکي ... " (اول کورنتیان ۱۲: ۲۸).

"او هغه ځیني رسولان، ځیني نبیان او ځیني زیري آورونکي او ځیني کشیشان او استاذان (ښوونکي) مقرر کړي دي" (افسیان ۴: ۱۱).

د رسولانو په زمانه کې د تعلیم نعمت د کلیسا د بنسټ له پاره لازم ؤ او نن ورځ هم مونږ هغه ته اړتیا لرو. مګر د پورتنیو آیاتونو په لوستلو سره مونږ پوهېږو چې ټول خلک د تعلیم نعمت نه لري. د کلیسا د جوړښت له پاره نور نعمتونه هم شته او هر مسیحي کولای شي یو او یا څو نعمتونه ولري او کیدای شي چې مونږ ټول یو قسم نعمت ترلاسه نکړو. په مختلفو نعمتونو سره مونږ کولای شو چې بیلابیل خدمتونه ترسره کړو. که چیرې د یو نفر نعمت خدمت وي نو باید خدمت وکړي او یا د مسیحیانو سره په بیلابیلو طریقو سره مرسته وکړي.

ښایي همدا شیبه خپل لوستل بس کړئ او د خدای څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسو نعمت تاسو ته په ډاګه کړي او یا له

هغه څخه وغواړئ چې تاسو ته يو خاص نعمت در په برخه كړي. مګر د تعليم نعمت څه شى دى؟ دا د نورو نعمتونو په څېر يو مافوق طبيعي وړتيا ده. هغه وړتيا چې خداى يې مونږ ته را بخښي ترڅو د هغې په وسيله الهي حقيقتونه توضيح كړو او وښايو چې څرنګه كولاى شو دغه حقيقتونه په خپل ژوند كې وكاروو. يو مسيحي ښوونكى هميشه د نورو څخه زيات د خداى په كلام نه پوهېږي مګر دغه نعمت د هغه سره مرسته كوي چې نورو ته تعليم وركړي ترڅو هغوى په خپل ژوند كې وده وكړي. دا مطلب حقيقت لري چې ټول مسيحيان كولاى شي چې ښوونكي وي. پولوس رسول د كولسې كليسا ته ليكي: ”د مسيح كلام دې ستاسو په زړونو كې ډېر ځاى ومومي او په خپلو كې يو بل ته تعليم وركوئ او نصيحت كوئ... “ (كولسيان ۳: ۱۶).

دا ډول تعليم بايد په كور كې، د كار په ساحه كې او يا په كوم بل ځاى كښې وشي. مګر په كليسا كې ښوونكي په ځانګړي ډول د تعليم نعمت ته اړتيا لري. هر مسيحى بايد خپل نعمت معلوم كړي او هغه ته پراختيا وركړي. ځيني خلك د تعليم نعمت لري خو له هغه څخه بې خبره دي. كه چېرې د تعليم شوق لرئ نو تعليم وركړئ. ښه ده چې همدا اوس دا كار پيل كړئ او دا د تعليم د نعمت د پېژندنې له پاره ډېره ښه طريقه ده. كه چېرې تاسو دا كار پيل كړئ نو خداى به ستاسو د تعليم نعمت ته بركت وركړي او نور خلك به دا حقيقت په خپلو سترګو وګوري. كه چېرې پوهېږئ چې د تعليم نعمت لرئ نو

هغه وکاروئ او استفاده ورڅخه وکړئ. پولوس تیموتاوس ته لیکي چې د خپل نعمت څخه کار واخلي. مونږ نه پوهیږو چې د تیموتاوس نعمت څه ؤ. مګر هغه څه چې پولوس تیموتاوس ته وویل زمونږ دپاره هم ګټور دي.

"په دې وجه زه تاته دا خبره دریادوم چې ته د خدای هغه نعمت وځلوه کوم چې زما د لاس د کېښودولو په وسیله تاته حاصل دی" (دویم تیموتیوس ۱: ۲).

د نعمت د ساتلو بهترینه لاره دا ده چې د هغې څخه د کلیسا په خدمت کې کار واخلو. پطرس مونږ ته وایي: "هر چا ته چې هر څومره نعمت ورکړل شوی دی هغه دې د خدای د مختلفو نعمتونو د ښو مختارانو په شان د یو بل په خدمت کې ولګوي" (اول پطروس ۴: ۱۰).

د تعلیم د نعمت او یا هر بل نعمت څخه په کار اخیستلو سره چې خدای پاک مونږ ته رابخښلی دی، هغه نعمت وده کوي او زمونږ څخه به یو ښه ښوونکی جوړ شي او دا به زده کړو چې څرنګه باید تعلیم ورکړو.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۸. څه ډول خلک باید په کلیسا کې د تعلیم د خدمت له پاره وګومارل شي؟
۹. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ

الف: په مقدس کتاب کې یواځې یو ځل د تعلیم نعمت ته اشاره شوې ده.

ب: هر مسیحي د تعلیم نعمت لري.

ج: د یکشنبې د کورس ښوونکي د خدای د کلام د توضیح له پاره د تعلیم نعمت ته اړتیا لري.

د) د تعلیم نعمت یوه طبیعي وړتیا ده چې کولای شو هغه زده کړو.

و: په ډېرې مطالعې سره مونږ کولای شو چې درک کړو چې آیا د تعلیم نعمت لرو او که نه.

ه: که چېرې د تعلیم نعمت لرئ باید له هغه څخه نورو ته د خدمت په لاره کې استفاده وکړئ.

۱۰. د تعلیم نعمت او د تعلیم خدمت دواړه د ...... د جوړښت په لاره کې کارول کېږي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱۰) کلیسا

۱) الف) نه

ب) نه

ج) نه

د) نه

ه) هو

۹) الف) غلط

ب) غلط

ج) درست

د) غلط

ه) غلط

و) درست

۲) زما ګناهونه یې بخښلي دي او ما ته یې ښودلې ده چې زما سره مینه لري.

۸) هغه خلک چې د تعلیم نعمت لري. خدای پاک مسیحیانو ته بېلابېل نعمتونه ورکړي دي ترڅو کلیسا جوړه کړي.

۳) ج او د

۷) په دې ځای کې تاسو څو نمونې ګورئ. کولای شئ چې نورې نمونې هم اضافه کړئ.

کله چې مونږ خپل دوستان ګورو، له نورو سره د کار کولو په دوران کې، د ډوډۍ خوړلو په موقعه...

**۴)** **الف) تعليم حاصل كړي**

**ب) وقف**

**ج) په خپله د حقيقت څخه اطاعت وكړو**

**۲)** **الف) غلط**

**ب) درست**

**ج) درست**

**د) غلط**

**۵)** **ب**

## ستاسو يادداشت

# د تعلیم له پاره د لیکنې یو میز ته اړتیا نه لرئ

کله چې مونږ په مسیح باندې د خپل خلاصوونکي په توګه ایمان راوړو، یوه لویه خوشالي مونږ ته را په برخه شي. آیا هغه پېښه مو یاد ېږي چې په هغه وخت کې تاسو غوښتل له ټولو سره د خپل د خلاصون د تجربې په هکله خبرې وکړئ. اوس هم کولای شئ هماغه خوشالي ولرئ او په پوره شوق سره هغه د نورو سره شریکه کړئ.

تر اوسه پورې مونږ د دوو موضوع ګانو په هکله خبرې کړې دي، لومړی دا حقیقت چې ټول تعلیم ته اړتیا لري او دوهم دا چې ولې دغه اړتیا وجود لري. دا مو هم درك کړه چې تاسو په هر مقام او موقف کې قرار لرئ کولای شئ چې د تعلیم په کار کې بوخت شئ. په دې لوست کې مونږ د دوو ډلو په هکله خبرې کوو چې تاسو کولای شئ هغو ته په خپلو کورونو کې تعلیم ورکړئ او دغه تعلیم تاسو ته هغه خوشالي درپه برخه کوي چې د هغه خوشالۍ نه هم لویه ده چې تراسه پورې مو تجربه کړې ده. هیله من یو چې د دې لوست د لوستلو څخه پس دا وس پیدا کړئ چې د تعلیم بېلابېلې طریقې په عمل کې پلې کړئ.

## هغه څه چې په دې لوست کې به يې ولولئ

- مور او پلار د ښوونکو په مقام کې
  - مور او پلار او مقدس کتاب
  - د مور او پلار ژوند
  - د مور او پلار کلام
- دوستان د زده کوونکو په توګه

## دغه لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- په کورونو کې د تعليم خدمت توضيح کړئ
- دا توضيح کړئ چې څرنګه کولای شئ مقدس کتاب په کورنۍ مطالعه کې خپلو دوستانو ته تعليم ورکړئ.
- دا درک کړئ چې څرنګه کولای شئ له خپل کور څخه د خدای د کلام د تعليمي مکان په توګه کار واخلئ.

## مور او پلار د ښوونکو په مقام کې

### مور او پلار او مقدس کتاب

د ماشومانو تعليم د هغو د ميندو او پلرونو له خوا هميشه د خدای د نقشې يوه برخه وه چې د خپل قوم دپاره يې درلوده. کله چې موسی د اسرائيلو قوم ته وويل چې د خدای له فرمانونو

څخه اطاعت وکړي، هغه همدا شان دا هم وویل چې دغه تعلیمات دې خپلو اولادونو او لمسیانو ته هم انتقال کړي.

"ولې دې ته مو پام وي چې داسې نشي چې د خپل ژوند په اوږدو کې هغه څه مو چې په خپلو سترګو لیدلي دي هغه له هېره وباسئ. تاسو باید دا ټول شیان خپلو بچیانو او لمسیانو ته تعلیم ورکړئ. هغه ورځ دریاده کړئ چې د سینا په غره کې د خدای په حضور کښې ولاړ وئ او هغه ما ته وویل: خلك زما حضور ته راوغواړه او زه به هغو ته تعلیم ورکړم ترڅو زده کړي چې همیشه زما درناوی وکړي او زما حکمونه خپلو اولادونو ته زده کړي" (تثنیه ۴: ۹- ۱۰)

موسي خپل قوم ته تعلیم ورکوي چې خپلو بچیانو او لمسیانو ته ووایي چې خدای د سینا په غره کې له هغوی سره وکتل. دا کار د قوم له پاره یوه ډېره مهمه پېښه وه او هغوی ته یې په ډاګه کوله چې همیشه دې د خدای درناوی وکړي. میندو او پلرونو خپلو بچیانو ته د دې حقایقو په بیانولو سره مرسته کوله ترڅو هغوی خدای په خپل ژوند کې د یو ریښتني حقیقت په توګه ومني او پوه شي چې خدای قادر دی چې له هغوی سره ملاقات وکړي. څه موده وروسته موسی د اسرائیلو قوم ته وویل چې څرنګه باید دغه حقیقتونه خپلو بچیانو ته انتقال کړي.

"هغه قوانین چې نن یې تاسو ته درکوم باید همیشه ستاسو په ذهن کې موجود وي. هغه خپلو بچیانو ته زده کړئ او د هغو په هکله همیشه خبرې کوئ، که په کور کې یاست او یا بهر ،

څه په خوب کې یاست او یا هم سهار وختي په بېدارۍ کې“ (تثنیه ۶: ۷- ۸).

د اسرائیلو قوم به خپلو بچیانو ته د خدای د حکمونو د تعلیم له پاره په ورځ کې کوم لنډ وخت نه ځانګړی کاوه بلکه دا د هغوی د ورځیني ژوند یوه برخه ګرځېدلې وه.

که څه هم ماشومانو ته لازمه ده چې د خدای حکمونو ته غوږ کېږدي، مګر میندو او پلرونو ته هم لازم دي چې په خپل وار سره د خدای د ښېګڼو په باره کښې د هغوی سره خبرې وکړي. هغوی باید یواځې په خپله خبرې ونکړي بلکه خپلو ماشومانو ته هم باید موقعه ورکړي چې سوالونه وکړي او هغوی ته داسې ځوابونه ورکړي چې د خدای مینه پکې څرګنده شي.

په راتلونکي کې به داسې وخت راشي چې ستاسو اولادونه به ستاسو څخه پوښتنه وکړي: ”د دغو قوانینو څخه چې خدای مونږ ته راکړي دي، مقصد څه دی؟“ (تثنیه ۶: ۲۰).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۱. تثنیه ۶: ۲۱- ۲۵ ولولئ او دې لاندینیو سوالونو ته په ""هو"" او یا ""نه"" سره ځواب ورکړئ:

الف: آیا مور او پلار باید خپلو بچیانو ته ووایي چې خدای څرنګه هغوی د مصر د پاچا څخه وژغورل؟

ب: آیا خدای له مور او پلار څخه غواړي چې خپلو بچیانو ته ووایي چې هر څه چې هغوی غواړي کولای یې شي ؟
ج: کله چې د هغه قوم په مصر کې غلامان ؤو، آیا خدای خوشاله ؤ؟

۲. څه فکر کوئ که چېرې مور او پلار د هغو کارونو داستانونه چې خدای د هغوی دپاره کړي دي خپلو ماشومانو ته بیان کړي، دا کار به په هغوی باندې څه آغېزه ولري؟

کلونه کلونه وروسته داود نبي ولیکل: ''نسل تر نسله به انسانان د زمکې پر مخ ستا عملونه وستایي او ستا لوی لوی کارونه به بیان کړي'' (زبورونه ۱۴۵: ۴).

خدای غواړي چې د هغه لوی لوی کارونه دې هېر نکړای شي او قوم یې تل هغه په یاد وساتي او هغه وخت مونږ پوهېږو چې د چا څخه اطاعت وکړو. د دې داستانونو څخه مونږ زده کوو چې هغو خلکو چې د خدای څخه اطاعت وکړ هغوی برکت ترلاسه کړ.

دا کافي نه ده چې خپلو ماشومانو ته یوائې ووایئ چې کوم کار وکړي او کوم کار ونکړي. هغوی باید پوه شي چې دا حکم چا کړی دی او ولې باید له هغه څخه اطاعت وکړي. له همدې امله مونږ د مقدس کتاب څخه خپلو ماشومانو ته د خدای په هکله داستانونه بیانوو.

## د مور او پلار ژوند

مور او پلار د ماشومانو دپاره یو مثال دی۔ لکه څنګه چې مور او پلار په خپل کور او خپلې کورنۍ باندې پام کوي باید دا وښايي چې عملاً د خدای له فرمانونو څخه اطاعت کوي. ماشومان دغه حقیقت د خپلو میندو او پلرونو په ژوند کې ویني او د هغوی په ژوند کې برکتونه ګوري. هغوی ډېر ژر زده کوي چې د خدای څخه اطاعت کول ضروري دي او هغه به هغه چا ته قوت او خوشحالي ورکوي څوک چې د هغه اطاعت کوي. ماشومان دا زده کوي چې د ستونزو په وخت کښې به خدای له هغوی سره مرسته کوي او نه پرېږدي چې هغوی تیندك وخوري. عیسی خپلو شاګردانو ته یواځې په الفاظو کښې نه بلکه په خپلو عملونو سره هم تعلیم ورکړ. کله چې هغه د خپلو شاګردانو سره د قانا واده ته لاړ هلته یې یوه معجزه وښودله. شراب خلاص شوي ؤو او مسیح د منګیو اوبه په شرابو بدلې کړې او هغوی وکولی شول چې میلمستیا پای ته ورسوي. یوحنا وایي: "د جلیل په قانا نومي ځای کې د عیسی دا لومړنۍ معجزه وه چې هغه ورباندې خپله لویي ښکاره کړه او د هغه مریدانو په هغه ایمان راوړ" (یوحنا ۲: ۱۱). د عیسي دغه عمل وښودله چې د خلکو اړتیاوې د هغه دپاره ډېر اهمیت لري او د هغوی سره مرسته کوي. شاګردانو د هغې معجزې په لیدلو سره په هغه باندې ایمان راوړ. مونږ په خپل کور کې په خپلو عملونو او کردارونو سره خپلو ماشومانو ته دا ثابتوو چې مسیحیان یو.

په خپلو عملونو سره هغوی ته تعلیم ورکوو. په دې خاطر چې ماشومان دا زده کړي چې له خپلو ګاونډیانو سره مینه وکړي، نو مونږ باید د خپلو ګاونډیانو سره مینه ولرو.لاژمه نه ده د هغوی په هکله بد او رد ووایو او یا خپل ګاونډیان خپل کور ته دعوت نکړو. ځکه په دې صورت کې ماشومان زمونږ په هغو خبرو چې ګنې خپلو ګاونډیانو سره مینه وکړو، باور نه کوي او هغه نه مني. بنایي ماشومان د خدای د فرمان په هکله زمونږ څخه پوښتنه وکړي. یوحنا رسول زمونږ د اعمالو د ارزښت په هکله داسې وایي: ”زما بچیانو! مینه دې تش په خبرو او یا په ژبه نه وي بلکه هغه په رښتیا او په عملي توګه په کار ده“ (اول یوحنا ۳: ۱۸).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

ترټولو ښه ځواب غوره کړئ

۳. کله چې ماشومان وګوري چې د هغوی میندې او پلرونه په خپل ژوند کې له خدای څخه اطاعت کوي، هغوی زده کوي چې:

الف: کله چې یو نفر د خدای څخه پیروي کوي هغه هیڅ ډول ستونزې نه لري.

ب: هغه به له خپلو دوستانو سره ستونزې ولري.

ج: خدای په سختو حالاتو کې هم خپله خوشحالي او قوت له هغوی څخه نه سپموي.

۴. زمونږ اعمال زمونږ ماشومانو ته دا ښئ چې مونږ ایمان لرو

الف: زمونږ ګاونډیان باید ډېر زیات زمونږ لیدنې ته راشي.

ب خدای هغو خلکو ته چې د هغه څخه اطاعت کوي، برکتونه ورکوي.

ج: زمونږ ماشومان زمونږ په شان عمل کوي مګر زمونږ په شان خبرې نه کوي.

۵. شاګردان څنګه پوه شول چې د خلکو اړتیاوې د مسیح له پاره اهمیت لري.

الف: د هغه له ویناوو څخه

ب: د هغه له اعمالو څخه

## د مور او پلار کلام

موسی د اسرائیلو د قوم میندو او پلرونو ته وویل چه باید د خدای فرامین خپلو ماشومانو سره د خبرو کولو له لارې هغوی ته ورسوي او ورزده یې کړي. کله چې ډوډۍ خورئ او یا په کور کې کار کوئ نو اکثراً ماشومان ستاسو څخه ځینې پوښتنې کوي او تاسو باید د هغوی سره د خدای د مینې او یا د هغه د فرمانونو په هکله خبرې وکړئ. داسې فرض کړئ چې ستاسو ماشوم د یو بل ماشوم سره دعوی کوي. تاسو کولای شئ چې هغه ته داسې تعلیم ورکړئ چې خدای زمونږ څخه غواړي چې حتی له خپلو دښمنانو سره مینه ولرو. بې له شکه ستاسو په ژوند کې ډېرې پېښې رامنځته کیږي او هر یو تاسو ته یوه

موقعه په لاس درکوي چې د خدای د لارو چارو په هکله د خپلو ماشومانو سره خبرې وکړئ. په کور کې د خدای د کلام لوستل یو ډېر مهم کار دی. ماشومان دې ته اړتیا لري چې د خدای کلام وپېژني.د هغه په کلام کې ډېر حقیقتونه پیداکوو چې زمونږ سره مرسته کوي خپل ژوند جوړ کړو. د کلام د لوستلو څخه وروسته باید یو څه وخت د آیاتونو په باره کښې د خبرو کولو له پاره ځانګړی کړو. په دې وخت کښې ماشومان ځینې پوښتنې کوي چې پوهې میندې او پلرونه په ډېر غور سره د هغوی پوښتنو ته ځوابونه ورکوي. د مور او پلار له خوا د ماشومانو تعلیم داسې یو حکم دی چې د سلیمان د متلونو په کتاب کې هم ورته اشاره شوې ده. هغه ماشومان چې له خدای څخه اطاعت وکړي، هغوی به هغه برکتونو به ترلاسه کړي چې د هغو وعده شوې ده. مور او پلار ته پکار دي چې باید هغوی ته تعلیم ورکړي. د سلیمان په متلونو ۱: ۸- ۹ کې لولو: ”ای زما زویه! هغه څه ته پام وکړه چې ستا مور او پلار یې درته وایي. ځکه دا به ستا شخصیت ته وده ورکړي او د جواهرو د تاج په شان به ستا خوی ښکلی کړي.“

اکثراً مونږ ګومان کوو چې د نوې لوظنامې د تیموتاوس په شان یو زوی ولرو. له هغه څه نه چې پولوس رسول د تیموتاوس له پاره لیکي مونږ پوهېږو چې هغه د خپلې مور او نیا څخه تعلیم حاصل کړی دی. زه ډاډه یم چې هغوی به هغه ته هم د خبرو او هم د عمل له لارې تعلیم ورکړی وي. ”او ما ته ستا هغه بې ریا ایمان رایادېږي کوم چې اول ستا نیا لوئیس او ستا مور

یونیکي درلود. او زما یقین دی چې ته یې هم لرې“ (دوهم تیمو تاوس ۱ : ۵).

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۶. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ

الف: مور او پلار باید هر وخت چې کولای شي د خدای په هکله له خپلو اولادونو سره خبرې وکړي.

ب د ماشومانو پوښتنو ته باید ځواب ورنکړای شي.

ج: تیمو تاوس د خپل یو دوست څخه د خدای په باره کښې زده کړل.

د: د خدای په باره کښې له اولادونو سره غږېدل زمونږ د اعمالو په اندازه اهمیت لري.

۷. د څو موضوع ګانو نوم واخلئ چې تاسو کولای شئ د خپلو ماشومانو سره د خبرو کولو له لارې هغوی ته ورزده کړئ.

## دوستان د زده کوونکو په توګه

د رسولانو د عملونو په کتاب کې مونږ د یو نفر په باره کښې چې کورنیلیوس نومېږي یو داستان لولو. پطروس د هغه کور ته لاړ ترڅو هغه ته د انجیل زیری بیان او په دې باره کښې ورته تعلیم ورکړي. کله چې پطروس هلته ورسېد نو د کورنیلیوس په کور کې یې ډېر خلک ولیدل. ”په بله ورځ هغه قیصریې ته را ورسېد او کورنیلیوس د هغوی په تمه ؤ او خپل

خپلوان او نږدې دوستان یې راغوښتي ؤو" (د رسولانو عملونه ۱۰: ۲۴).

دا لومړی ځل دی چې په مقدس کتاب کې د خدای د کلام د کورنۍ مطالعې په هلکه یو رپوټ خپور شوی دی. کورنیلیوس د پطروس څخه د یو ښوونکي په توګه دعوت کوي او وروسته بیا خپل دوستان، خپلوان او د کورنۍ غړي د هغه د خبرو د اورېدو له پاره راغواړي. خدای ټولو ته د روح القدس د تعمید غسل ورکوي او هغوی په اوبو کې تعمید اخلي.

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې مسیحیان خپل ګاونډیان او دوستان د خدای د کلام د اورېدو دپاره خپلو کورونو ته دعوتوي ترڅو هغوی راشي او درک کړي چې د خدای کلام څه وایي. که چېرې داسې یو امکان موجود وي نو ښه به دا وي چې هر څوك دې له خپل ځانه سره یو ټوک مقدس کتاب ولري ترڅو د غونډې په ترڅ کې له هغه څخه آیاتونه ولولي. ښه به دا وي چې د مطالعې دپاره له یوه لارښود څخه استفاده وشي چې د هر لوست څخه سوالونه وکړي او د غونډې ګډون کوونکي د مقدس کتاب څخه په استفادې سره دغو پوښتنو ته ځواب ورکړي. په دې توګه د ډلې مشر ډاډه کېږي چې ټولو ځوابونه پیدا کړي دي. هر مسیحي کولای شي چې د مقدس کتاب مطالعه په همدې شکل سره رهبري کړي. په دې ډول تاسو کولای شئ چې هر هغه نفر ته چې ستاسو کور ته درځي تعلیم ورکړئ.

همدا درس چې اوس یې تاسو مطالعه کوئ، یوې مېرمنې په اندیونیزیا کې مطالعه کاوه او په ترڅ کې یې هغه مسیحي

شوه. وروسته بیا هغې غوښتل چې خپل ایمان د نورو سره هم شریک کړي. نو په دې توګه یې یوې بلې مېرمنې ته چې پېژندله یې، بلنه ورکړه چې د هغې کره راشي او وروستی درس ولولي. په دې توګه **۲۵** نفره مسیحیان شول. په کور کې د مقدس کتاب مطالعه هغه ګټوره طریقه ده چې په ترڅ کې یې تاسو کولای شئ له خپلو ګاونډیانو سره د خدای په هکله خبرې وکړئ.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۸. د ورکړل شویو ځوابونو څخه ترټولو ښه ځواب غوره کړئ.

الف: ولې کورنیلیوس د پطروس څخه وغوښتل چې د هغه کورته راشي او تعلیم ورکړي؟

(ترڅو د انجیل په هکله واوري / ترڅو له یو لوی واعظ څخه څه واوري)

ب: څوک کولای شي چې د مقدس کتاب د لوستلو پروګرام په خپل کور کې ولري؟

(یوازې یو واعظ / هر مسیحي)

ج: په کور کې د مقدس کتاب د مطالعې په دوران کې کومه موضوع باید مونږ وڅېړو؟

(دوستان / د مقدس کتاب څخه یو درس)

د: د هغو سوالونو دپاره چې د خپل ژوندانه په اړه یې لرو، تر ټولو ښه ځوابونه چېرې موندلی شو؟

(په مقدس کتاب کې / په خپل ګاونډ کې).

۹. له همدا اوس څخه په خپلو کورونو کې د مقدس کتاب لوستل پیل کړئ. هغه اساسي ګامونه چې باید په دې لاره کې پورته کړئ کوم دي؟

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۹) خلکو ته بلنه ورکړئ، ښوونکو ته بلنه ورکړئ او یا دا چې په خپله تعلیم ورکړئ. د خپل ځان سره مقدس کتاب راوړئ او په ضمن کې له ځینو لارښودونو څخه هم استفاده وکړئ.

۱) الف) هو
ب) نه
ج) نه

۲) الف) درست
ب) غلط
ج) غلط
د) درست

۸) الف) ترڅو د انجیل په اړه واوري
ب) هر مسیحي
ج) د مقدس کتاب څخه یو درس
د) په مقدس کتاب کې

۲) دا درک کوي چې خدای څوک دی او له هغوی څخه د کوم کار کول غواړي.

۲) ستاسو خپل ځواب. تاسو کولای شئ چې د ځینو موضوعګانو په اړه لکه د خدای محبت او د هغه نمونې، د خدای کلام څه شی دی او څه معنی لري او څرنګه کولای شو هغه په خپل ورځینې ژوند کې وکاروو، خبرې وکړئ.

۳) ج

۴) ب

۵) ب

## اووم لوست

# تاسو یوه پیغام ته اړتیا لرئ

هر کال خلك له مختلفو تخمونو څخه استفاده کوي ترڅو هغه په خپل باغ کې وکري. دا څرګنده ده چې که چېرې مونږ غواړو چې لوبیا وروزو نو باید لوبیا وکرو. مګر مسئله یواځې د دانې په کښت کې نه ده بلکه باید زمکه هم په بیل او قلبې سره د کښت له پاره تیاره کړو. مخکې له دې چې تخم وکرو، باید په زمکه کې لښتي جوړ کړو. د تعلیم دپاره هم تیاری همداسې وي.

یو صحیح پیغام باید غوره شي او وروسته بیا هغه تیار شي. په یوه صنف کې ښوونکی د کلام تخم د خپلو شاګردانو په زړونو کې کري. په تعلیمي چارو کې د دغو ټولو کړو وړو څخه مقصد فقط یو شی دی او هغه په مسیح کښې د یو کامل ژوندون څخه برخمن کیدل دي. د محصول د ټولولو په وخت کې بزګر په ډېرې خوشالۍ سره پټي ته ځي ترڅو خپله لوبیا راټوله کړي. د یو ښوونکي دپاره یوه لویه خوشالي شته او هغه دا ده چې هغه ګوري چې هغه خلک چې الهي تعلیم یې حاصل کړی دی، د خدای د نقشې په مطابق ژوند کوي.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- د کلام پیغام
- ستاسو د ژوند څخه پیغام
- د زده کوونکي دپاره پیغام

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- ♦ د ښوونکي د پاملرنې اهمیت چې له پیغام سره یې باید ولري، درک کړئ.
- ♦ توضیح ورکړئ چې څرنګه د یو ښوونکي پیغام کولای شي په ډېر ښه شکل سره وړاندې شي ترڅو د زده کوونکي په ژوند کې د بدلون سبب شي.
- ♦ د زده کوونکو په ژوندانه کې د ښوونکي د مثالي نمونې د کېدو په اهمیت پوه شئ.

## د کلام پیغام

خدای مونږ ته ترټولو مهم پیغام را بخښلی دی چې باید هغه ټولې نړۍ ته ورزده کړو. پیغام هغه کلمات دي چې د یو نفر نه بل نفر ته منتقل کېږي. خدای دغه مهم پیغام مونږ ته را بخښې مګر مونږ باید هغه درک کړو او وروسته بیا هغه هغو خلکو ته بیان کړو چې پېژنو یې. زمونږ پیغام د انجیل پیغام، یعنې د خدای کلام دی. د دې پیغام په وړاندې زمونږ جهت ګیري او احساس د نورو په زده کړه کې خورا زیات تاثیر لري.

آیا تاسو دا خوښوئ چې مقدس کتاب ولولئ؟ د زبورونو لیکونکی وایي: "ستا شریعت څومره په ما ګران دی. ټوله ورځ زما په فکرونو کې دی" (زبور **۱۱۹ : ۹۷**). د دې پیغام د تعلیم ورکولو په خاطر د مطالعې تر څنګ باید دعا هم وکړو. دعا زمونږ فکر او زړه د روح القدس د تعلیم په لور خلاصوي. د خدای کلام مطالعه کړئ او د روح القدس څخه وغواړئ ترڅو د هغې د معنی تعلیم تاسو ته درکړي. داود نبي دعا کوي: "زما سترګې پرانیزه ترڅو ستا په شریعت کې عجیبه شیان وګورم" (زبور **۱۱۹ : ۱۸**). پرېږدئ چې د پیغام د مطالعې په وخت کښې همدغه زمونږ دعا وي. پولوس رسول د کورنتس کلیسا ته په خطاب کې لیکي: "مطلب دا چې خدای د مسیح په وسیله دنیا د خپل ځان سره پخلا کوله او د هغوی ګناهونه یې د هغو په ذمه وانه چول او د پخلا کولو پیغام یې زمونږ په حواله کړو" (دوهم کورنتیان **۵ : ۱۹**).

د دې پیغام د درك کولو دپاره مونږ هغه څه ته چې پولوس رسول د اول کورنتیانو په رسالې کې لیکلي دي، ګورو: "ای ورونو! کله چې زه تاسو ته راغلم او په تاسو کې مې د خدای د راز زېری خپور کړ، نو هغه څه د اوچتې درجې تقریر او یا د حکمت په زور نه ؤ. ځکه چې ما دا اراده کړې وه چې ستاسو په منځ کې د عیسی مسیح بلکه په صلیب شوي مسیح نه بغیر نور هېڅ ونه پېژنم" (اول کورنتیان **۲ : ۱ - ۲**).

خلک د مسیح بخښنې ته اړتیا لري. دا کار یوائې په صلیب باندې د هغه د مرګ له لارې ممکن دی. عیسی

یواځینی شخص دی چې زمونږ ګناهونه بخښي او یواځې هغه کولای شي زمونږ سره مرسته وکړي ترڅو په مسیحي ژوند کې وده وکړو.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۱. دوهم تیموتاوس ۲: ۱۴- ۱۹ ولولئ اوووایئ چې لاندیني کوم عبارتونه دغه جمله تکمیلوي:

هغه نفر چې د خدای له طرفه د یو پیغام تعلیم ورکوي

الف: دا ښیئ چې هغه څومره پوهېږي

ب: خپل پیغام بیانوي

ج: د بیا پورته کېدو (قیام) د حقیقت په هکله خبرې کوي

۲. ښوونکی هغه وخت کولای شي خدای خوشاله کړي چې:

الف: دا بیان کړي چې قیام داسې یوه عقیده ده چې په تېرې زمانې پورې اړه لري.

ب: د خلکو دپاره د کلام حقیقت بیان کړي

ج: د نوي ژوندون د پیغام له بیان څخه ډډه وکړي

۳. هغه پیغام چې باید د تعلیم په خدمت کې هغه بیان کړو دا دی چې:

الف: خدای زمونږ ګناهونه نه بخښي

ب: ولې باید تعلیم ورکړو

ج: خلک څرنګه کولای شي چې په مسیح کې نوی ژوندون ولري.

د دوهم تیموتاوس ۲: ۱۴- ۱۹ آیاتونه دا بیانوي چې څومره مهمه ده چې یو ښوونکی دې په ډېر هاند سره په خپل پیغام باندې کار وکړي. که چېرې غواړو چې خدای زمونږ تعلیم ته برکت ورکړي، نو باید په غور سره د کلام د حقیقت تعلیم ورکړو. کله کله خپل عقاید په ساده ګۍ سره دومره مهم شمېرو چې د خدای د کلام په ځای د هغو تعلیم ورکوو. که څه هم خدای زمونږ څخه غواړي چې فکر وکړو مګر زمونږ تفکر باید د خدای د کلام په چوکاټ کې وي. که یو مطلب هرڅومره ښکلی وبرېښي خو که چېرې هغه د خدای په کلام کې نه وي، باید د هغه تعلیم دې ورنکړای شي. د مسیح پیژندنه د ابدي ژوندون په معنی ده او له همدې امله زمونږ پیغام مهم دی.

## هغه څه چې باید هغه ترسره یې کړئ

۴. د ورکړل شویو ځوابونو څخه ترټولو ښه ځواب غوره کړئ

الف: د خدای کلام باید په کومې طریقې سره مطالعه کړو؟ (انتقادي / د دعا په حال کې)

ب: هغه موعظه او پیغام چې پولوس د هغو تعلیم ورکاوه څه ؤ؟ (د هغه شخصي عقاید / د مسیح په هکله حقایق)

ج: که چېرې د خدای د کلام حقیقت ایماندارانو ته بیان نشي، څه پېښېږي؟ (وده کوي / نشي کولای وده وکړي).

# ستاسو د ژوند څخه پیغام

د تعلیم څخه هدف د تعلیم اخیستونکو په ژوند کې د یوه بدلون راوستل دي. دغه هدف باید ستاسو په ذهن کې موجود وي. که په کور کې تعلیم ورکوئ، که خپلو دوستانو ته او یا په یکشنبه اي کورسونو کې، باید هغه څه چې وایئ په خپل ژوند کې هم وربانديې عمل وکړئ. که چېرې له خلکو څخه غواړئ چې د مسیح څخه اطاعت وکړي، تاسو باید لومړی دغه کار ترسره کړئ.

دا کافي نه ده چې فقط په څه حقیقتونو باندې پوه شو او هغه نورو ته د خپل تعلیم په ترڅ کې بیان کړو. ځکه دا تعلیم واقعي نه دی. که چېرې تاسو د خدای په قدرت سره بدلون ونه مومئ نو نشئ کولای چې له نورو څخه د داسې بدلون تمه ولرئ. خلک دې ته اړتیا لري ترڅو د کلام حقیقتونه ستاسو په ژوندانه کې وګوري او که چېرې دغه کار وشي نو هغوی هم دې ته لیواله دي چې داسې یو بدلون دې د هغوی په ژوندانه کې رامنځته شي. دغه موضوع مونږ کولای شو چې په فلیپیان ۲: ۱۵- ۱۲ کې وګورو.

"... او د خدای د کاملو بچیانو په شان ژوند کوئ او د خلکو په منځ کې د آسمان د ستورو په شان وځلېږئ او د ژوندون کلام د تل دپاره خلکو ته وړاندې کړئ...."

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

**۵**. دا ډېره مهمه ده چې د تعلیم د خدمت په ترڅ کې ...

الف: د ډېرو حقیقتونو تعلیم ورکړو ترڅو نور خلک د هغو په اړه فکر وکړي.

ب: د خپل ژوند په مثال ګرځولو سره هغوی ته تعلیم ورکړو چې مسیح څرنګه ژوندونو ته بدلون ورکوي.

**۲**. په خپل ژوند باندې فکر وکړئ. آیا ستاسو ژوند د نورو دپاره کوم پیغام لري؟ د دې درس د مطالعې سره سم په دې اړه دعا وکړئ.

هغه تعلیم چې پولوس رسول تیموتاوس ته په اول تیموتاوس ۴: ۱۱- ۱۲ کې ورکوي، ولولئ. زمونږ ژوند هم کیدای شي د تیموتاوس په شان د نورو دپاره مثال وي. ځیني وخت مونږ وایو چې د خدای کلام ژوندی دی، مګر دغه حقیقت په دې معنی دی چې د کلام قوت کولای شي زمونږ ژوندانه ته بدلون ورکړي. د دې کار د عملي کېدو دپاره باید د کلام له فرمانونو څخه اطاعت وکړو او د هغو په وعدو باندې ایمان ولرو. تاسو د یو ښوونکي په صفت د خدای د کلام د بدلون ورکوونکي پیغام رسوونکي یاست. د دې کار دپاره باید خپل درک او احساس چې د کلام په وړاندې یې لرئ، نورو ته څرګند کړئ. ما د خپل ژوند د بدلون تجربه د خلکو سره د لاندیني آیت له شریکولو څخه حاصله کړې ده.

”ځکه کوم روح چې خدای مونږ ته راکړی دی، د وېرې دپاره نه، بلکه د قدرت، د مینې او په نفس باندې د واک لرلو طاقت د پاره دی“ (دوهم تیموتاوس ۱ : ۷).

زما زړه د ډېرو ورځو څخه د ویرې څخه ډک ؤ، خو دغه آیت راسره مرسته وکړه. یوه ورځ ما د یوې مېرمنې سره ملاقات درلود چې د خپلې ناروغۍ له امله یې له خپلې راتلونکې څخه وېره درلوده. دغه آیت مې د هغې له پاره ولوست او ورته مې دعا وکړه چې خدای هماغه شان چې ما ته یې تسلی راکړې ده هغې له یې هم ورکړي. د هغه څه په شریکولو سره چې ما تجربه کړې ؤو، خدای پاک هغې ته هم قوت وروبخښه.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۷. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ.

الف: تیموتاوس باید صبر کړی وای ترڅو د هغه عمر زیات شوی وی. هغه وخت یې کولای شول چې تعلیم ورکړي.

ب: د هغه ویناوې او عمل د ایماندارانو دپاره یو مثال ؤ.

ج: که چېرې تیمو تاوس خپل ځان او خپل تعلیم ته کتلي وای، دا به ورته په ډاګه شوې وای چې نور خلک کولای شي په هغه باندې انتقاد وکړي.

د: هغه څه چې تیموتاوس ویل باید عملي کړي یې هم وای.

و:که چېرې د هغه ژوند بدلون موندلی وای، هغه کولای شول چې د نورو له پاره یوه ښه نمونه وي.

په ژوندون کې بدلون د دې حقیقت ښکارندوی دی چې زده کړې صورت موندلی دی. بدلون په فکر او په اعمالو کې لیدل کېږي. د تعلیم څخه زمونږ مقصد د دې بدلون لیدل دي.

په دې ځای کې مونږ هغه پنځه ټکیو ته اشاره کوو چې د تعلیم په خدمت کې ضروري دي.

۱- لومړی باید زده کوونکي په دې پوه شي چې مونږ هغوی ته د کوم مطلب په هکله غواړو تعلیم ورکړو. او هغه د خدای د خلاصون پیغام دی.

۲- پیغام باید څو وارې تکرار کړو. ضروري نه ده چې پیغام دې همیشه په یو شکل سره وویل شي. بلکه کولای شو له بېلابېلو طریقو څخه کار واخلو. په راتلونکي لوست کې به د تعلیم څلور طریقې وڅېړو.

۳- باید په دې ډاډه شو چې هغوی زمونږ په تعلیم باندې پوه شوي دي. د دې مطلب د ښه درک کولو په خاطر باید له هغو شیانو څخه شروع کړئ چې زده کوونکي لا مخکې د هغو به باره کښې معلومات لري. دغه طریقه مرسته کوي چې زده کوونکي یو موضوع په ښه توګه درک کړي.

۴- باید له زده کوونکو سره مرسته وکړو چې زمونږ په پیغام باندې ایمان راوړي. باید له روح القدس څخه وغواړو

ترڅو اورېدونکي دې ته وهڅوي چې زمونږ د پيغام په نسبت مثبت غبرګون وښيئ.

**۵**- بايد له زده کوونکو سره مرسته وکړو ترڅو ذکر شوي حقيقتونه په خپل ژوند کې عملي کړي. کله چې دغه کار صورت ونيسي، د هغوی ژوند تغيير کوي. بايد هغوی ته ښکاره کړو چې څرنګه کولای شي حقيقتونه په خپل ورځيني ژوند کې پلي کړي.

يعقوب داسې توضيح ورکوي: "خو کوم سړی چې کامل شريعت ته چې خلکو ته آزادي ورکوي په غور سره ګوري، هغه به په خپل کار کې بختور وي، ځکه چې هغه څه چې هغه اوري نو هېروي يې نه، بلکه عمل ورباندې کوي" (يعقوب ۱: **۲۵**).

زه خپلې کوچنۍ لور ته د بوټانو د بندونو د تړلو طريقه ښايم ځکه تر هغې پورې چې هغې په خپله دغه کار نه وي ترسره کړی، هر څه چې ما زيار ايستلی دی چې هغې ته يې زده کړم هغه يې نه دی زده کړی. او که چېرې دغه کار هغه په خپله وکړي نو معلومېږي چې هغې دغه تعليم زده کړی دی. په همدې توګه مونږ روحاني حقيقتونه زده کوو. هغه څه چې د خدای له کلام څخه زده کوو، په خپل ژوند کې عملي کوو.

## هغه څه چې باید هغه ترسره یې کړئ

۸. بې له دې چې بېرته درس ته وګورئ، د هغې جملې په مخ کښې چې دا بیانوي چې یو ښوونکی باید څرنګه تعلیم ورکړي د ✓ علامه ورکړئ.

الف: دهغه څه په هکله چې تعلیم ورکوي هغه دې په عمل کې هم پلی کړي.

ب: هېڅکله باید خپلو زده کوونکو ته اجازه ورنکړي چې د هغه په تېروتنو او اشتباهاتو باندې پوه شي..

ج: خپلې تجربې او حتی خپلې نیمګړتیاوې دې د خپلو زده کوونکو سره شریکې کړي.

د: د پیغام په هکله خپل احساسات د هغوی سره شریک کړي.

و: هغه څه چې پخوا یې تعلیم ورکړی دی هغه نه تکراروي

ه: بیانوي چې د درس پیغام څرنګه کولای شي د زده کوونکو په ژوند کې عملي بڼه خپله کړي.

## د زده کوونکي له پاره پیغام

### د پیغام تیارول

لکه څنګه چې مو مخکې په دې کورس کښې وویل چې مقدس کتاب د مسیحي تعلیم دپاره یو درسي کتاب دی، نو له همدې کبله ښوونکي ته په کار دي چې تر هغه حده چې کولای شي د هغه په هکله باید معلومات ولري. دا کوم آسانه

کار نه دی او ډېرې مطالعې ته اړتيا لري. حتی پس له کلونو څېړنې او مطالعې څخه هم مونږ نشو کولای وواېو چې په هغو ټولو باندې پوه شو. ښوونکي يو درسي کتاب لري چې دا بيانوي چې څرنګه بايد پيغام توضيح کړو. که چېرې د هغه څخه استفاده وکړئ او د هغه لاښوونې په عمل کې پلي کړئ، نو ډېر به ګټور وي. هغه آياتونه چې په دې لوست کې ورکړل شوي دي هغه په مقدس کتاب کې ولولئ. د هغو شخصيتونو ژوند چې په مقدس کتاب کې يې يادونه شوې ده يوه کتنه وکړئ، او هغه حقيقتونه ورڅخه واخلئ چې تاسو او ستاسو زده کوونکو سره مرسته کوي. کله چې لوست مو ترتيب کړ په خپلو زده کوونکو باندې فکر وکړئ. له خپل ځان څخه پوښتنه وکړئ چې دا درس به له هغوی سره څه مرسته وکړي او د هغوی اړتياوې څه دي. د دې پوښتنو ځوابونه نه يوائې ستاسو درس خوندور کوي بلکه له زده کوونکو سره هم مرسته کوي چې هغوی په روحاني ژوندون کې وده او پرمختګ وکړي. د درس جوړونې د غوره طريقو زده کول د تعليم په خدمت کې د روح القدس کار نه کمزوری کوي. د خدای روح زمونږ سره مرسته کوي چې ډېر ښه ښوونکي و اوسو. پولوس تيموتاوس ته وويل:

"خپل ځان د خدای په وړاندې مقبول او د يو داسې کارکن په شان د پېش کولو کوشش وکړه چې د خپل کار نه نۀ شرمېږي او څوک چې د حق کلام تعليم په صحيح طور ورکوي" (دويم تيموتاوس ۲: ۱۵).

## د زده کوونکي په ژبه غږېدل

زده کړه آسانه نه ده. مګر که چېرې له هغې موضوع څخه یې پیل کړو چې زده کوونکي له پخوا څخه د هغې په هکله معلومات درلود، د زده کړې کار به آسانه شي. وروسته بیا د هغه سره نوي حقایق شریک کړو. د دې کار د ترسره کولو په خاطر باید د توضیح دپاره کلمات په ډېر غور سره غوره شي. زمونږ ژبه او زمونږ کلمات د حقیقتونو د انتقالولو دپاره یوه آله او یا وسیله ده. مونږ پوهېږو چې څه وایو مګر کله کله زده کوونکی زمونږ مطلب نشي درك کولای. په مسیحي تعلیم کې داسې الفاظ شته چې د مسیحي پوهې ځانګړي الفاظ دي مګر غیر مسیحیان د هغو په معنی نه پوهېږي.

ډېرکارونه چې مونږ یې په خپل طبیعي ژوند کې ترسره کوو، زمونږ د ایمان پر بنسټ ولاړ دي. ایمان په دې باور دی چې یو کس او یا یو شی هغه څه کوي چې د هغه ژمنه یې کړې ده. په خدای باندې ایمان دا دی چې هغه هغه څه کوي چې د هغه ژمنه یې کړې ده. دا مهمه ده چې د زده کوونکي ژبه وپېژنو. که چېرې داسې یو لفظ استعمال کړو چې زده کوونکی نشي کولای هغه په سمه توګه درک کړي، نو ښه به دا وي چې هغه کلمه ورته توضیح کړو. په خاصه توګه هلکانو ته باید په ډېر غور سره تعلیم ورکړو. که چېرې د هغو د پوهې سطح مونږ ته معلومه وي نو کولای شو له هغو کلماتو څخه کار واخلو چې د هغوی دپاره معنی ولري. په دې توګه هغوی کولای شي چې د خدای د کلام حقیقت په ښه توګه درک کړي. دې مطلب ته

پاملرنه چې آیا زده کوونکی په آیت کې د یوې ځانګړې کلمې په معنی پوه شوی دی که نه، ډېره مهمه ده. که چېرې هغه په معنی نه وي پوه شوی نو هغه به ستاسو په پیغام هم پوه نشي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

تر ټولو سم ځواب غوره کړئ. هر سوال ممکن له یو څخه زیات سم ځوابونه ولري.

۹. په دې خاطر چې زده کوونکی په درس ښه وپوهېږي

الف: باید د درس په معنی ښه پوه شو

ب: د زده کوونکي اړتیاوو ته پاملرنه وکړو

ج: باید دې ته پاملرنه وکړو چې د مقدس کتاب د کومې ترجمې څخه استفاده کوو

۱۰. د درس د تیارولو د ډېرې ښې طریقې زده کول

الف: مرسته کوي ترڅو په درس په سمه توګه وپوهېدلای شي

ب: ډېر وخت نیسي

ج: زده کول به مشکل کړي

۱۱. د زده کوونکي په ژبه خبرې کول یعنی

الف: د ټولو شیانو په اړه توضیح ورنکړو

ب: اجازه ورکړو چې هغه داستانونه ووایي

ج: د زده کوونکي د مسیحي ودې او ژبې سطح وپېژنو.

۱۲. د هغو خلکو په باره کښې فکر وکړئ چې تعلیم مو ورته ورکړی دی. آیا له داسې کلماتو څخه مو کار اخیستی دی

چې باید هغه مو ورته توضیح کړي وای؟ آیا موضوع مو په سمه توګه ورته توضیح کړې ده؟

که چېرې د تعلیم ورکولو موقعه مو ترلاسه کړه نو د درس د تیارولو دپاره دغه لاندیني ګامونه پورته کړئ.

۱) دعا وکړئ ترڅو په درس باندې ښه پوه شئ

۲) په درس پورې اړوند آیاتونه ولولئ

۳) درسي کتاب ولولئ

۴) هغه حقیقتونه چې د درس په ترڅ کې ورته اشاره شوې ده او تاسو باید د هغو څخه اطاعت وکړئ، هغه یادداشت کړئ.

۵) دا یادداشت کړئ چې دغه درس د زده کوونکو کومو اړتیاوو ته ځواب ورکوي.

۶) د هر زده کوونکي او د هغه د اړتیا دپاره دعا وکړئ

۷) د هغو لغاتونو څخه یو لست جوړ کړئ چې ممکنه ده زده کوونکي د هغو په معنی پوه نشي.

۸) د هرې کلمې معنی پیدا کړئ

۹) د درس څخه یوه خلاصه جوړه کړئ

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱۲) ستاسو خپل ځواب

۱) ج

۱۱) ج

۲) ب

۱۰) الف

۳) ج

۹) ب

۴) الف) د دعا په حال کې

ب) د مسیح په هکله حقیقتونه

ج) نشي کولای وده وکړي

۸) الف) درست

ب) غلط

ج) درست

د) درست

ه) غلط

و) درست

۵) ب

۷) الف) غلط

ب) درست

ج) غلط

د) درست

و) درست

۲) ستاسو خپل ځواب

# تاسو یوې طریقې ته سخته اړتیا لرئ

آیا د یوه خوندور خوراک څخه خوند اخلئ؟ زه خو ډیر خوند ورځینې اخلم. د خوراک د تیارولو دپاره یوه صحیح طریقه او یوه غلطه طریقه شته. صحیح طریقه مرسته کوي ترڅو د خوراک خوند ښه شي. مونږ ټول خوندور خواړه خوښوو. مونږ غواړو چې زمونږ روحاني خواړه خوندور وي ترڅو زده کوونکي د هغو سره علاقه پیداکړي او د روحاني پلوه وده وکړي. له همدې امله په تعلیمي چارو کې مناسبو طریقو ته اړتیا لرو. همدا اوس مونږ ولیدل چې زمونږ سره یو پیغام شته چې د نړۍ سره یې شریک کړو، چې دا تر ټولو مهم تاریخي پیغام دی.

دا هم ډیره مهمه چې هغه څنګه وړاندې کړو. طریقې په خپل ذات کې روحاني او یا غیر روحاني نه دي. خو زمونږ سره مرسته کوي ترڅو خپل پیغام په هغه شکل سره بیان کړو چې خلک هغه درک کړي او ویې مني. د خدای د کلام د حقایقو د توضیح دپاره باید له ډیرو ښو طریقو څخه استفاده وکړو.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- تاسو واقعاً یوې طریقې ته اړتیا لرئ
- تر ټولو ښه طریقه غوره کړئ

د لکچر ورکولو طریقه

د قصې ویلو طریقه

د بحث کولو او د نظر د تبادلې طریقه

د سوال او ځواب طریقه

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- دا توضیح کړای شئ چې ولې د تعلیم بېلابېلې طریقې دومره اهمیت لري
- د خپل تعلیم د ښه ځرګندونې دپاره له بېلابېلو طریقو څخه استفاده وکړئ
- د زده کوونکو د تعلیم دپاره یوه مناسبه طریقه غوره کړئ.

## تاسو واقعاً یوې طریقې ته اړتیا لرئ

آیا تر اوسه داسې پېښ شوي دي چې په مسیحي درس کې مو ګډوون کړی وي او څه مو نه وي زده کړي ؟ سره له دې چې ښوونکي درس مخکې له مخکې مطالعه کړی دی او د خدای سره هم مینه لري، ولې نه دی توانېدلی چې خپل مقصد په سمه توګه خپلو زده کوونکو ته منتقل کړي. او یا هغه څه چې ویلي یې دي نه دی توانېدلی چې د زده کوونکو پام ورته واړوي. کله کله دا سې کیږي چې ښوونکی خپل درس څنګه چې لازمه ده نه دی تیار کړی. په تېر درس کې مو زده کړل چې څه ډول باید یو

درس تیار کړو. د یوه کمزوري پیغام وړاندې کول د یوې مناسبې طریقې د نه کارولو نتیجه ده. دا هغه طریقې دي چې د یو پیغام موضوعات او عقاید باید د هغو له لارې په منظم ډول وړاندې شي. تاسو نه یواځې باید د درس پیغام په ښه توګه درك کړئ بلکه باید په دې هم پوه شئ چې څرنګه کولای شئ دغه درس په ښه شان سره پرمخ یوسئ. پیغام هغه شی دی چې مونږ د هغه تعلیم ورکوو مګر طریقې هغه لارې دي چې مونږ د هغو څخه په استفادې سره پیغام وړاندې کوو. د تعلیم په خدمت کې د یوې مناسبې طریقې کارول زیات اهمیت لري. ځیني خلك وايي چې مونږ مختلفو طرڅقو ته اړتیا نه لرو. هغوی وايي چې د خبرو په وخت کښې روح القدس د هغوی سره مرسته کوي چې څه ووايي. خو باید پوه شو چې تعلیم ورکول په هغې طریقې سره لازم دی چې زمونږ د روحاني ودې سبب وګرځي. هغه خلک چې د ښو طریقو څخه استفاده نه کوي پس له څو کالو څخه بالاخره په دې پوهېږي چې د هغوی زده کوونکو ډېر شیان نه دي زده کړي. دا چې مونږ د تعلیم دپاره له بېلابېلو طریقو او روشونو څخه کار اخلو دا د خدای د ارادې په خلاف نه دی. عیسی خپلو شاګردانو او هغو خلکو ته د تعلیم ورکولو دپاره چې د هغه شاته به روان ؤو د بېلابېلو طریقو څخه استفاده کوله. په راتلونکي لوست کې به مونږ دا طریقې وڅېړو. د روح القدس د خدمتونو څخه یو د مسیحیانو لارښوونه ده. که چېرې د روح القدس څخه وغواړئ، هغه به د درس ورکولو ډېره ښه طریقه تاسو ته وښیئ.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۱. هغه طریقه چې مونږ یې د تعلیم په کار کې ورڅخه کار اخلو:

الف: هغه شی دی چې مونږ هڅه کوو تعلیم ورکړو

ب: هغه لارې دي چې د هغو په وسیله تعلیم پرمخ بیول کیږي

ج: هماغه زمونږ پیغام دی

۲. د تعلیم دپاره د مناسبو طریقو کارول ضروري دي ځکه چې ښوونکی به

الف: له خپله ځانه راضي وي

ب: درس په چټکۍ سره ورکړي

ج) په زده کوونکو کې روحاني وده وګوري

## تر ټولو ښه طریقه غوره کړئ

څومره به ښه وي چې د درس د پرمخ بیولو په اړوند په مختلفو طریقو پوه شئ. د تعلیم ورکولو په کار کې مونږ کولای شو چې له بېلابېلو طریقو څخه استفاده وکړو. د طریقې په غوره کولو کې باید د زده کوونکو سن یا عمر ته هم پاملرنه وکړئ ځکه د ماشومانو او لویانو د زده کړې ورتیا سره فرق لري. د هغو د زده کړې دپاره باید بېلابېلې طریقې غوره کړئ. اوس مونږ غواړو چې د تعلیم ورکولو څلور طریقې وڅیړو. په

دې غور وکړئ چې څرنګه کولای شئ د هغو څخه د تعلیم په خدمت کې ګټه واخلئ.

## د لکچر ورکولو طریقه

لکچر ورکول د یو مقصد څرګندول او یا د زده کړې په خاطر د یوې موضوع شاوخوا غږېدل دي. لکچر ورکول کیدای شي اوږد او یا لنډ وي او د لویانو دپاره یوه ډېره ښه طریقه ده. ځکه چې ماشومان په سختۍ سره خبرو ته غوږ نیسي. د دې طریقې د کارولو دپاره څو دلیلونه موجود دي.

۱- د وخت د ضایع کېدو د مخنیوي دپاره: ښوونکی د زده کوونکو دپاره هغه حقاقتونه بیانوي چې هغوی په خپله باید د هغو د پلټنې دپاره ډېر وخت مصرف کړي.

۲- دغه طریقه مرسته کوي ترڅو ښوونکی له اصلي موضوع څخه بهر نشي. کله کله زده کوونکي په خپلو سوالونو سره ښوونکی له یوې موضوع څخه بلې موضوع ته اړوي. مګر د لکچر په وخت کښې ښوونکی کولای شي چې د اصلي موضوع په اړه نوي حقیقتونه او یا مشخص ټکي بیان کړي. په هغه شکل سره چې درس د یوې موضوع په شاوخوا وڅرخېږي.

۳- د لکچر ورکولو د طریقې څخه په استفادې سره کېدای شي چې لویو لویو ګروپونو ته تعلیم ورکړای شي. د یو سل کسیز ګروپ دپاره یو لس کسیز ګروپ په ښه شان سره کولای شي چې لکچر ورکړي. د لویو ګروپونو دپاره د تعلیم د نورو طریقو څخه استفاده ډېره سخته ده.

برسیره په پورتنيو ښيګڼو چې د لکچر ورکولو په طريقه کې ده ځينو نورو ټکو ته هم بايد پاملرنه وکړو چې عبارت دي له:

۱- له دې کبله چې د لکچر ورکولو په وخت کښې زده کوونکو ته ډېره کمه موقعه ترلاسه کېږي چې خبرې وکړي، نو د لکچر موضوع بايد ډېره په زړه پورې وي او که نه نو زده کوونکي ستومانه کېږي او نور نشي کولای چې هغه څه چې ورته تدريس کېږي زده کړي. د زده کړې له پاره فکر کول لاژمي دي. حتي خپله لکچر هم کېدای شي داسې ترتيب شي چې آورېدونکي فکر کولو ته اړ کړي. په راتلونکي درس کې به تر يوه حده پورې په دې موضوع خبرې وکړو.

۲- که چيرې د درس په وخت کښې ښوونکی د نورو څخه زياتې خبرې کوي نو دا به ښه وي چې کله کله خپلو زده کوونکو ته هم موقعه ورکړي چې خبرې وکړي او خپل نظر څرګند کړي او يا دې له هغوی څخه پوښتنې وکړي. واضيح ده چې د زده کوونکو توضيحات بايد د موضوع په هکله وي.

۳- د لکچر په حالت کې بايد پام وکړو چې د پيغام په هکله حقيقتونه په ښه توګه بيان کړو. البته دغه ټکی د نورو طريقو په هکله هم صدق کوي. د لکچر په جريان کې بايد زمونږ پيغام د زده کوونکي د فکر او احساس سره اړيکي ټينګې کړي.

۴- د هغه څه په هکله چې ويل کېږي فکر وکړئ. دا ډېره مهمه ده چې په لوړ آواز او واضيح توګه خبرې وکړو. (په دې اړه د تېر شوي درس مطالعه ډېره ګټوره ده).

که چېرې غواړئ چې لکچر ورکړئ په غور سره فکر وکړئ چې څرنګه غواړئ خپل پيغام بيان کړئ. تاسو کولای شئ په فهرست بندۍ او يا د موضوعاتو په منظمه توګه ترتيبولو سره دغه کار ترسره کړئ. د مثال په توګه د درس په پيل کې بيانوئ چې کومه موضوع غواړو وڅېړو. وروسته بيا په منظمه توګه نورې موضوعګانې مطرح کوئ. بله ګټوره طريقه د زده کوونکو څخه د سوالونو پوښتل دي چې د درسي موضوع سره تړاو لري. د هغوی ځوابونو ته غوږ ونيسئ او هغه وليکئ. د لکچر په پای کې اجازه ورکړئ ترڅو زده کوونکي خپل نظريات بيان کړي. دا د زده کوونکو د پېژندنې دپاره ډېره مهمه وسيله ده او په دې توګه تاسو کولای شئ چې د هغوی روحاني وده تشخيص کړئ. په ياد لرئ چې د تعليم څخه مقصد د خلکو روحاني وده ده.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

۳. د لکچر ورکولو طريقه دکوم سن او عمر لرونکو خلکو ته ګټوره ده؟

۴. د لاندنيو کومو عبارتونو دپاره لکچر ورکول د تعليم ورکولو يوه مناسبه طريقه ده؟

الف: ماشومان ستاسو ګېرچاپېره راټول شوي دي او روح القدس تاسو ته لارښوونه کوي ترڅو هغوی ته تعليم ورکړئ.

ب: شل او یا دیرش تنه مسیحیان سره راټول شوي دي او تاسو غواړئ د هغوی سره د مسیح د ژوند په باره کښې خبرې وکړئ.
ج: کله چې ستاسو ملګری ستاسو څخه غواړي توضیح ورکړئ چې هغه څرنګه کولای شي مسیحي شي.
د: ښوونځی ستاسو څخه غواړي چې یوې غونډې ته چې د فارغ التحصیلو زده کوونکو دپاره جوړه شوې ده خبرې وکړئ.

## د قصې ویلو طریقه

قصه ویل د تدریس یوه ډیره پخوانۍ طریقه ده. عیسی په دې کار کې استاد ؤ. د هغه قصې ډیرې په زړه پورې وې. هغه دغه قصې د خلکو د ورځني ژوند سره په تړاو کې کولې. د هغه قصې د ټولو دپاره د پوهیدلو وړ وې. په راتلونکي لوست کې به مونږ دا مطلب و څیړو. ماشومان، لویان او تنکي ځوانان ټول د قصې سره مینه او علاقه لري او هغه خوښوي. د یوې قصې له لارې تاسو کولای شئ چې د ژوندانه حقیقتونه بیان کړئ. د قصې پیښې کولای شي چې د زده کوونکو پام ځان ته راوګرځوي او د زده کړې چټکوالی زیاتوي. د کوچنیو ماشومانو دپاره د درس ورکولو ډیره ښه طریقه همدغه قصه ویل دي. مګر د لویو ماشومانو او لویانو دپاره مونږ کولای شو په دریو شکلونو سره د قصې څخه کار واخلو.

۱- په پیل کې، د درس د معرفي کولو په خاطر

۲- د درس په منځ کې د پام وړ موضوع د توضیح کولو په خاطر

۳- د درس په پای کې د زده کوونکو په ورځیني ژوندانه کې د هغې د تطبیقولو په خاطر.

د ځینو عبارتونو توضیح کول لکه محبت، ایمان او یا قدرداني کله کله ډېره سخته وي. مګر په یوه قصه کې مونږ کولای شو چې هغه په ډېره ښه توګه توضیح کړو. آیا یو ماشوم به د زمریانو په کوهي کې د دانیال د قصې په اورېدلو سره احساساتي نشي؟ دغه قصه د ټولو خلکو دپاره د ایمان معنی لري او دا ښیئ چې خدای د خپل قوم څخه ساتنه کوي. باید دا ټکی په پام کې ونیسو چې په مسیحي تعلیم کې د قصې ویل یوائې د زده کوونکو د خوند اخیستنې له پاره نه ویل کېږي. هره قصه چې د عیسی له خوا ویل شوې ده په هغې کې یو پیغام نغښتی دی، او هغه غوښتل چې په دې توګه خپلو اورېدونکو ته تعلیم ورکړي. زمونږ قصې هم باید د یو حقیقت بیانوونکي وي او زمونږ د تعلیم په ښه درک کې مرسته وکړي. په مقدس کتاب کې د خلکو د روحانې ودې دپاره قصې موجودې دي. تاسو هم کولای شئ چې د مسیح په شان داسې قصې پیدا کړئ چې د خلکو د ورځیني ژوند سره تړاو ولري. ښایي هغه د یوې ورځپاڼې له خبرونو څخه پیداکړئ. د قصې په غوره کولو کې دغه لاندینۍ پوښتنې له ځانه څخه وکړئ.

۱- آیا دغه قصه د هغه تعلیم سره چې مونږ یې په دې درس کې ورکوو مرسته کولای شي؟

۲- آیا د عمر په لحاظ د یو ګروپ دپاره چې مونږ ورته تعلیم ورکوو، کومه معنی لري؟

۳- آیا په دې قصه کې کومه واقعه شته؟ آیا په هغې کې څه پېښېږي؟

۴- آیا زه او زده کوونکي له دې قصې څخه خوند اخلو؟

مخکې له دې چې یوه قصه زده کوونکو ته ووایئ، هغه دوه یا درې ځله له خپل ځان سره ولولئ. که چېرې ستاسو دپاره یې معنی درلوده نو د اورېدونکو له پاره هم معنی لرلی شي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

**۵**. د ورکړل شویو ځوابونو څخه ترټولو ښه ځواب غوره کړئ.

الف: عیسی په دې خاطر قصه ویله ترڅو (خلک راضي کړي / د الهي حقیقت تعلیم ورکړي)

ب: قصه ویل د محبت د توضیح دپاره یوه ډېره ښه لاره ده ځکه چې (د محبت کولو یوه نمونه ښیيئ / ډېر عقاید بیانوي).

ج: لیکن د ماشومانو دپاره دا ښه ده چې د درس له هماغه پیل څخه ورته قصه ووایو؟ (ځکه چې د زده کړې پروسه چټکوي / ځکه چې هغوی به درس ته غوږ ونیسي)

۲. د ایمان د موضوع په هکله یو لنډ درس تیار کړئ او یوه قصه هم ورسره یوځای کړئ. قصه د هغو دریو شکلونو څخه په یوه شکل بیان کړئ کوم چې تاسو ولوستله.

## د بحث کولو او د نظر د تبادلې طریقه

بحث یعنې د هغو حقیقتونوو او عقایدو شریکول کوم چې مونږ زده کړي دي.

"د کلام د تعلیم حاصلوونکي دې خپل ټول ښه شیان چې لري یې د خپل ښوونکي سره شریک کړي" (غلاطیان ۶: ۶).

یو ښه بحث مرسته کوي چې زده کوونکی په ښه توګه په درس باندې پوه کړي. یو ځل ما څو اونۍ د یو ګروپ سره د مباحثې کولو کار پرمخ بیوه، زمونږ د بحث موضوع دا وه چې مسیحي توب څه معنی لري. مونږ پوهېدو چې زمونږ په خوا کې یوه کورنۍ ژوند کوي چې زمونږ مرستې ته اړتیا لري. د کورنۍ مور په روغتون کې بستري وه او د کورنۍ پلار له دې امله چې د زړه تکلیف یې درلود ، نشو کولای چې کار وکړي. د زده کوونکو سره مې په دې اړه خبرې وکړې او تصمیم مو ونیوه چې هر هغه څه چې مو زده کړي دي په عمل کې یې پلي کړو. هغوی ته مو خواړه یوړل او په خوشالۍ سره مو د هغوی خدمت وکړ.

بحث په دې معنی نه دی چې یوائې د هغه څه په هکله چې زده کړي مو دي خبرې اترې وکړو. واقعي بحث هغه وخت شروع

کېږي چې په يوې ډلې کې هر څوک کوشش وکړي چې يو حقیقت درک کړي.

د تعلیم ورکولو دغه طریقه له نورو طریقه څخه مشکله ده. ځکه باید دا تیاری ولرئ چې د نورو د نظریاتو لارښودنه وکړئ او موضوع په غور سره تیاره کړئ. د یو ښه بحث دپاره بیلابیلو عواملو ته اړتیا لرو چې عبارت دي له:

۱- د بحث وړ مسئلې باندې باید په بشپړه توګه ټول پوه شي. سوالونه باید په هغې طریقې سره مطرح نشي چې يو مشخص ځواب ولري او بحث محدود کړي.

۲- بحث باید د درس یوه برخه وي. کېدای شي چې د صنف ټول وخت او یا د هغې یوه برخه ونیسي.

۳- بحث باید په هغې طریقې سره مطرح شي چې ټول وکړای شي په آزاده توګه خپل عقاید او نظریې بیان کړي.

۴- د بحث دپاره باید کافي وخت په پام کې ونیول شي. که چېرې يو زده کوونکی يو مطلب د بحث له لارې زده کوي څومره به ښه وي چې هغه ته د هغه د ورځینې ژوند سره تړاو ورکړو.

۵- زده کوونکی باید په صادقانه توګه وغواړي چې په حقیقت باندې پوه شي.

۶- د غونډې مشر ته نه ښایي چې د زده کوونکو په خبرو اترو باندې نیوکې او یا انتقاد وکړي. انتقاد د دې سبب ګرځي

چې هغه نفر نا اميده شي او هغه به په راتلونکو غونډو کې خبرې ونکړي.

بايد په ياد ولرو چې په کوچنيو ډلو کې تر ټولو غوره طريقه د بحث کولو له طريقې څخه کار اخيستل دي. که چېرې په يوه غونډه کې د ۱۲ او يا ۱۴ څخه زيات نفر ګډون لري، نو د هغوی ټولو برخه اخيستنه په بحث کښې ګرانه ده. يو لوی صنف کولای شو چې په کوچنيو صنفونو وويشو او هر صنف د يوه مشر له خوا اداره شي. ډېر خلک په دې خوشالېږي چې خبرې اترې وکړي، او که چېرې يو ګټور بحث مطرح شي، نو دا به د زده کوونکو سره مرسته وکړي چې په روحاني شيانو باندې په پوهيدلو کې وده او پرمختګ وکړي.

## هغه څه چې بايد ترسره يې کړئ

۷. هغه درې ټکي چې د يوه ښه بحث دپاره ضروري دي، بيان کړئ.
۸. داسې فرض کړئ چې د بحث کولو له لارې غواړئ چې د ايمان تعليم ورکړئ. د بحث د پيل دپاره به له کومو پوښتنو څخه استفاده وکړئ؟

## د سوال او ځواب طريقه

د سوال او ځواب طريقه په دې مطلب باندې د پوهيدلو دپاره چې زده کوونکي څومره په خپل مسيحي ژوند کې وده کړې ده، يوه ډېره ښه طريقه ده. هغه سوالونه چې هغو ته د

ځواب ورکولو په اړه باید فکر وکړو په ډېره ښه توګه مونږ ته ښیئ چې یو نفر څومره مطالب زده کړي دي او په خپل ژوند کې یې پلي کوي، او همدا شان د زده کوونکي علاقمندي د درس د موضوع سره زیاتوي او هغه اړ باسي چې د نویو حقایقو په لټه کې شي. ښه سوال لکه د یو ماهي نیونکي د دام د مړي په شان دی چې د خلکو پام ځان ته راړوي او هغوی په فکر کې ډوبوي. ستاسو څخه وغوښتل شول چې د ایمان په اړه د بحث دپاره څو سوالونه غوره کړئ. ځکه په بحث کې سوالونه ډېر مهم نقش لري. او دغه دوه د یوبل لازم او ملزوم دي. تاسو کولای شئ خپل بحث د سوالونو له لارې پرمخ بوزئ. د هغو خلکو دپاره چې تعلیم ورکوي درې ډوله سوالونه ګټور وي چې عبارت دي له:

۱- سوال د حقیقت بیانوونکی. له یو نفر څخه غواړو چې هغه حقیقت بیان کړي چې له درس څخه یې زده کړی دی. دا ډول سوالونه مهم دي ځکه مخکې له دې چې پوه شو چې څرنګه کولای شو حقایق په خپل ژوند کې پلي کړو، باید لومړی هغه وپېژنو.

۲- سوال د مسئلې بیانوونکی. دا ډول سوالونه د هغو مسئلو په اړه دي چې باید هغه حل کړو. تاسو د پوښتنو په وسیله زده کوونکی هغه لوري ته رهنمایي کوئ چې هغه په خپله د مسئلې د حل له پاره د حل لارې ومومي.

۳- پلي کوونکي سوالونه. د دې سوالونو له لارې مونږ د زده کوونکي څخه غواړو چې د درس پیغام په خپل ژوند کې پلی کړي. پلي کوونکی سوال کېدای شي د هغه نفر دپاره مطرح

شي چې غواړي په مسیح باندې ایمان راوړي. د دې دول پوښتنو څخه په استفادې سره له زده کوونکي څخه غواړو چې د هغه څه په مطابق چې زده کړي یې دي، عمل وکړي.

د خپل تعلیم په خدمت کې د سوالونو څخه په استفادې سره تاسو کولای شئ چې د خپلو زده کوونکو د زده کړې سطح معلومه کړئ. هغوی هم په دې خاطر چې غواړي یو څه زده کړي، له تاسو څخه پوښتنې کوي. ښه زده کړه هغه وخت منځ ته راتلی شي چې ښوونکی او زده کوونکی دواړه سوالونه مطرح کړي.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۹. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ

الف: په یوه بحث کې تاسو کولای شئ چې د سوالونو په کولو سره په دې پوه شئ چې زده کوونکي د کومې موضوع په اړه فکر کوي.

ب: سوالونه په دې خاطر مطرح کېږي چې زده کوونکی د حقیقت په اړه په بیا فکر کولو مجبوروي.

ج: د حقیقت بیانوونکې پوښتنه هغه پوښتنه ده چې د هغې په وسیله زده کوونکی په خپل ژوند کې حقیقت پلی کوي.

د: یو ښه سوال د زده کوونکي پاملرنه او علاقه راپاروي.

۱۰. د غلاطیان ۲: ۲ څخه په استفادې سره هغه درې ډوله سوالونه چې پورته ورڅخه یادونه وشوه ولیکئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱۰) ستاسو خپل ځواب. کېدای شي له دې پوښتنې څخه استفاده وکړئ:
کله چې ما د مسیح پیغام زده کړ، نو څه کار باید وکړم؟ (د حقیقت د بیانوونکي پوښتنه)
آیا د هغې نه پس دا صحیح ده چې ووایو چې مونږ ټول د تعلیم خدمت لرو؟ (د مسئلې بیانوونکی سوال).
یو تن څرنګه کولای شي د یو ښوونکي تر نظر لاندې د تعلیم خدمت پر مخ یوسي؟ (تطبیقوونکی سوال).

۱) ب

۹) الف) درست
ب) درست
ج) غلط
د) درست

۵) الف) د الهي حقیقت تعلیم ورکړي
ب) د محبت کولو یوه نمونه ښیيئ
ج) ځکه چې هغوی به درس ته غوږ ونیسي

۲) ج

۸) ستاسو خپل ځواب. کېدای شي ووایئ: ایمان څه شی دی؟ که چېرې ایمان د خدای نعمت دی، نو څرنګه کولای شو هغه ترلاسه کړو؟ ولې ایمان درلودل ضروري دي؟

۳) لویان

۷) د ښو او مشخصو سوالونو پوښتل، د بحث صحیح تنظیمول او لارښوونه، له ټولو څخه په بحث کې د ګډون غوښتنه.

۴) ب او د

۲) ستاسو ځواب. تاسو کولای شئ چې د متي د انجیل ۱۳: ۳۱- ۳۲ څخه یو مثال چې د شړشمو د تخم په باره کښې دی مطرح کړئ او د دې داستان څخه کولای شئ چې په درې واړو شکلونو سره استفاده وکړئ.

## ستاسو یادداشت

## نهم لوست

# عیسی د ښو طریقو څخه استفاده وکړه

د ونو قطع کول کېدای شي چې یو خطرناک کار وي. هغه خلک چې دغه کار کوي، رسمي اجازه لیك لري. هغوی ونې په دې شکل سره قطع کوي چې په زمکه باندې ولوېږي نه دا چې د خلکو کورونه وران کړي. عیسی هم د تعلیم ورکولو دپاره واک او اختیار درلود. هغه هم ځانته یو مقصد درلود او هغه مقصد ته د رسېدو دپاره یې له ځینو طریقو څخه استفاده کوله. هغه زمونږ دپاره یو مثال دی. د دې درس د مطالعې ترڅنګ دعا وکړئ چې مسیح تاسو ته لارښوونه وکړي ترڅو ددې هفتې په ترڅ کې یو چا ته تعلیم ورکړئ او د مسیح څخه په پیروئ سره یوه ډېره ښه طریقه د دې کار دپاره غوره کړئ.

## هغه څه چې په دې لوست کې به یې ولولئ

- عیسی په پوره واک او اختیار سره تعلیم ورکاوه
- عیسی یو مقصد درلود
- عیسی له بیلابیلو طریقو څخه استفاده وکړه

## دا لوست به ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو ...

- د یو ستر ښوونکي په عنوان د مسیح په مثال ورکولولو سره پیغام نورو ته بیان کړئ.

- د مسیح په مثال ورکولو سره په خپل تعلیمي خدمت کې ځینې مقصدونه په ګوته کړئ.
- هغه بېلابېلې طریقې وپېژنئ چې مسیح په خپل تعلیم کې له هغو څخه استفاده کوله.

## عیسی په پوره واک او اختیار سره تعلیم ورکاوه

د مسیح په دوران کې کاهنان د شریعت ښوونکي ؤو، او دا کار د هغوی دپاره یو مهم امر ګڼل کېده. مګر کله چې مسیح کوم تعلیم ورکاوه خلکو به د هغه په تعلیم کې یو فرق لېده. ”خلک د عیسی په تعلیم حیران شول ځکه چې هغه د شرعې د عالمانو په شان نه بلکه په پوره اختیار سره خبرې کولې“ (مرقوس ۱: ۲۲). د مسیح تعلیم دا ښیئ چې هغه پوره واک او اختیار درلود. هغه اختیار او قدرت چې کاهنانو به تل هیله درلوده چې د هغه څخه برخمن شي. مسیح پوهېده چې دغه واک او اختیار هغه ته د خدای له طرفه بخښل شوی دی او پوهېده چې هغه د حقیقت تعلیم ورکوي. خلکو به هم دغه موضوع درك کوله او هغه ته به یې غوږ نیوه. هغه عسکر چې د مسیح د ګرفتارولو له پاره استول شوي ؤو، وروسته له دې چې بېرته ستانه شول، خپلو رهبرانو ته یې وویل: ”هېڅوک داسې خبرې نه کوي لکه چې دا سړی یې کوي“ (یوحنا ۷: ۴۶). عیسی به د کاهنانو په شان تعلیم نه ورکاوه ځکه هغوی یوازې د هغو شیانو تعلیم یې ورکاوه چې پخوا یې زده کړي ؤو. مګر عیسی خلکو ته روښانه کوله چې د خدای شریعت څرنګه

کولای شي زمونږ په ورځیني ژوند کې عملي شي او د هغه د عملي کېدو مقصد څه شی دی. هغه خلکو ته ویل چې خدای د هغوی سره مینه لري او هغوی دې هم باید له یوبل سره مینه او محبت ولري. عیسی ته ځکه دا واک او اختیار ورکړل شوی ؤ چې هغه د خدای زوی ؤ. کله چې یهودیانو د هغه څخه پوښتنه وکړه چې هغه څوک دی، د هغه ځواب هغه الفاظ ؤو چې د هغه آسماني پلار له آسمانه هغه ته ورکړي ؤو.

''کله چې تاسو ابن آدم د ځمکې څخه پورته کړئ نو پوه به شئ چې زه چې یم هغه یم. زه په خپل اختیار هېڅ نه کوم. خو هرڅه چې زه وایم، د هغې تعلیم ماته زما پلار راکړی دی'' (یوحنا ۸: ۲۸)

کله چې عیسی وویل: ''زه چې یم هغه یم'' هغه د هغه نامه څخه استفاده وکړه چې خدای په خروج ۳: ۱۴ کې د سوزېدونکي بوټې له منځ څخه موسی سره د خبرو کولو په وخت کښې خپل ځان ته ورکړ. هغو یهودیانو چې د مسیح څخه یې پېروي کوله په دې پوهېدل چې د هغه د واک او اختیار سرچینه له کومه ځایه څخه ده.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

۱. د صحیح عبارت مخې ته د ✓ علامه ورکړئ

الف: د شریعت ښوونکو بالکل د مسیح په شان تعلیم ورکاوه.

ب: حتی هغه خلک چې په دې یې ایمان نه درلود چې مسیح د خدای زوی دی، هم په دې پوهیدل چې هغه په پوره اختیار او واک سره تعلیم ورکوي.

ج: عیسی غوښتل چې د تعلیم له هغه واک او اختیار څخه برخمن شي چې د شریعت ښوونکي ؤو.

د: عیسی د هغه څه تعلیم ورکاوه چې د هغه آسماني پلار غوښتل.

و: عیسی د دې دپاره د الهي حقایقو په هکله تعلیم ورکاوه چې د خلکو په ژوندون بدلون راشي.

۲. هغه درې طریقې ولیکئ چې د مسیح د تعلیم د فرق بیانوونکې وي، او هغه د خپلو تعلیمي طریقو سره مقایسه کړئ.

## عیسی یو مقصد درلود

عیسی په خپل خدمت کې یو مقصد درلود او هغه د الهي حقیقتونو د پېژندنې او منلو له پاره د خلکو لارښوونه وه. هغه یوې ډلې ته چې د هغه ترشا روان وه وویل: "زه د آسمان څخه د خپلې رضا د پوره کولو له پاره نه یم راکوز شوی بلکه د هغه چا د رضا د پاره چې زه یې استولی یم...ځکه چې دا زما د پلار خوښه ده چې هر هغه څوک چې زوی ویني او په هغه ایمان راوړي، هغه دې د تل ژوندون خاوند شي" (یوحنا ۶: ۳۸ او ۴۰).

د مسیح ټول ژوند او خدمت په تعلیم، موعظو او معجزو کې تیر شو. دا ټول کارونه په دې خاطر ؤو چې خلك په هغه ایمان راوړي او هغه د خپل خلاصوونکي په توګه ومني. مسیح هر چېرته چې لاړ، زیری یې خلکو ته موعظه کړ. مرقوس وایي چې: "...عیسی جلیل ته راغی او د خدای د زیري وعظ یې کاوه" (مرقوس ۱: ۱۴). څه شیبې وروسته د هغه شاګردانو هغه ته وویل چې شاوخوا کلیو ته لاړ شي او موعظه وکړي. کله چې د جلیل د سیند غاړې ته ورسېد، یوه ډله په هغه پسې روانه وه "او هغه هغوی ته تعلیم ورکړ" (مرقوس ۲: ۱۳). کله چې په انجیلونو کې مونږ د مسیح ژوندون لولو نو ګورو چې هغه هر چېرې چې ته، د انجیل زیری به یې موعظه کاوه او د هغه تعلیم به یې ورکاوه.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

د لاندینیو سوالونو دپاره تر ټولو ښه ځواب غوره کړئ

۳. عیسی غوښتل چې خلك څه شی وپېژني؟
الف: څرنګه کولای شي چې واك او اختیار ولري
ب: د هغه آسماني پلار
ج: څرنګه هغوی کولای شي چې د هغه څخه پیروي وکړي.

۴. هغه تر ټولو مهم خدمت چې مسیح غوښتل ترسره کړي، کوم ؤ؟
أ. د هغو خلکو سره چې د هغه شا ته روان ؤو، خبرې وکړي.

ب. د رئيسانو سره خبرې وکړي
ج. له خلکو سره د زړې په اړه خبرې وکړي

## عيسی له بيلابيلو طريقو څخه استفاده وکړه

عيسی نه يوائې په دې پوهېده چې د څه شي تعليم ورکړي، بلکه په دې هم پوهېده چې څرنګه تعليم ورکړي. هغه د هغو طريقو څخه استفاده وکړه چې په تېر لوست کې مو د هغو په هکله خبرې وکړې. آيا دا طريقې مو په ياد دي؟ راځئ يو وار بيا هغو ته يوه کتنه وکړو.

۱- عيسی لکچر ورکاوه: په انجيلونو کې د مسيح د لکچر ورکولو ډېرې نمونې ګورو. د هغو څخه يوه د غره په سر باندې موعظه ده چې د متی د انجيل په ۵- ۷ بابونو کې (همدا اوس يې ولولئ) هغه ګورو. آيا دا په ډاګه کولای شئ چې مسيح څرنګه د بيلابيلو مسايلو په هکله خبرې وکړې. متی ۷: ۲۸-۲۹ ته يو کتنه وکړئ چې وايي: ''څه وخت چې عيسی دا خبرې بس کړې نو خلك د هغه په تعليم حق حيران شول. ځکه چې هغه د هغوی د استاذانو په شان نه بلکه د اختيار د خاوند په شان تعليم ورکاوه'' عيسی پوهېده چې څرنګه له دې طريقې څخه په خپل تعليم کې استفاده وکړي.

۲- عيسی داستانونه ويل: د هغه داستانونه د مثلونو په نامه يادېږي. په انجيلونو کې ټول ۶۱ مثلونه لرو. هغه د بوټو، حيواناتو، خلکو او نورو مطالبو په هکله دي. د مسيح مثلونه د ژوندانه د پېښو سره تړاو لري. د هغو څخه په استفادې سره

روحاني حقیقتونه بیانېدل او هر مثل د یو حقیقت تعلیم ورکاوه. د مثال په توګه د نیك سامري مثل چې د لوقا د انجیل په ۱۰: ۳۰- ۳۶ کې راغلی دی د یوې پوښتنې په ځواب کې وړاندې شوی دی. داسې پوښتنه چې هدف یې د مسیح په دام کې اچول ؤو. دا مثل د یو روحاني حقیقت بیانوونکی ؤ، پرته له دې چې کوم بحث په هغې کې نغښتی وي.

۳- عیسی ډېر ځله په خپل تعلیم کې د سوال او ځواب له طریقې څخه استفاده کوله. د ښه سامري په مثل کې او همدا شان د غره په سر باندې په موعظه کې مونږ دغه مطلب په ځرګند ډول لېدلای شو. په دې کار سره به اورېدونکو د مسیح د تعلیماتو معنی درك کوله.

کله چې هغوی ته یې وویل چې د خوراك او پوښاك له پاره اندېښنه مه کوئ، نو پوښتنه یې وکړه: "آیا ژوند د خوراك ښاك څخه او وجود د جامو څخه قیمتي نه دی؟" (متی ۶: ۲۵). عیسی په دې خاطر چې اورېدونکي فکر وکړي نو د هغوی څخه به یې پوښتنې کولې، ځکه هغه غوښتل چې هغوی د تعلیم په معنی پوه شي. بل وخت مسیح غوښتل چې د مالیې د ورکولو په باره کښې خپلو شاګردانو ته تعلیم ورکړي. له هغوی څخه یې ډېرې پوښتنې وکړې او له پطروس څخه یې وپوښتل چې ستا نظر څه دی؟ (متي ۱۷: ۲۵).

عیسی د مالیاتو په هکله د پطروس عقیدې او نظریې ته اړتیا نه لرله بلکه هغه غوشتل چې پطروس په دې موضوع

باندې فکر وکړي. هغه پوهېده چې فکر کول په زده کړه کې ډېر مهم رول لري.

۴- عیسی همدا شان بحث هم کاوه. په دې اړه یوه ډېره ښه نمونه د سامرۍ ښځې سره د هغه بحث دی (یوحنا ۴). عیسی د ښځې څخه وغوښتل چې هغه ته اوبه ورکړي او په ډېرې نرمۍ سره یې ورسره خبرې وکړې. ښځې غوښتل چې د خبرو موضوع بدله کړي. مګر بالاخره پوه شوه چې هغه کس چې د هغې سره خبرې کوي څوك دی او کوم مطلب غواړي هغې ته تعلیم ورکړي. کله چې د مسیح شاګردان ستانه شول، ویې لیدل چې مسیح لګیا دی له یوې سامرۍ ښځې سره خبرې کوي. "عیسی وویل چې: زما خوراك څښاك هغه دی چې زه د هغه رضا وکړم او هغه کار پوره کړم د کوم دپاره چې را استول شوی یم" (یوحنا ۴: ۳۴). عیسی پوهېده چې څه کوي او هغه پیغام به یې په ښه توګه درك کاوه چې د هغه موعظه یې کوله. همدا شان په دې هم پوهېده چې په کوم شکل سره خپل پیغام اعلان کړي، ترڅو ښځې او نارینه وربادندې ایمان راوړي. کله چې تاسو د هغه ژوند مطالعه کوئ نو ډېر غور وکړئ چې هغه څه ډول د بېلابېلو خلکو دپاره مختلفې تعلیمي طریقې کارولې.

## هغه څه چې باید ترسره یې کړئ

**۵.** لاندینیو سوالونو ته ځواب ورکړئ

الف: ولې د تعلیم ورکولو په وخت کښې دې ته اړتیا لرئ چې د خپل قدرت سرچینه وپېژنئ؟

ب: ولې باید خپل مقصد وپېژنئ؟
ج: ولې د تعلیم ورکولو دپاره یوې ښې طریقې ته اړتیا لرئ؟

۲. د تعلیم ورکولو هغه طریقه خپله کړئ چې مسیح ورڅخه کار اخیست او هغه د خپل تعلیم په خدمت کې وکاروئ. د خدای پیغام په هغې طریقې سره تیار کړئ چې خلك د حقیقت پیژندلو او قبلولو ته رهنمایي کړي.

عیسی همدا شان خپلو شاګردانو ته وویل: "آیا تاسو دا نه وایئ چې څلور میاشتینې نورې پاتې دي او بیا به لو شروع شي؟ خو زه تاسو ته دا وایم چې وګورئ چې هغه بیا د لو د پاره تیار شوی دی" (یوحنا ۴: ۳۵).

هغه د ځانونو د لو په اړه خبرې کولې چې په حقیقت کې دا لو نه دی. نن ورځ هم که چېرې څوك د مسیح په هکله تعلیم ورکوي، خلك په مسیح باندې ایمان راوړي. ستاسو په خوا کې څوک اوسیږي؟ آیا تر اوسه پورې یې د مسیح په باره کښې څه اورېدلي دي؟ آیا په دې پوهېږي چې تاسو مسیحي یئ؟ هغه مطالب چې تاسو زده کړي د هغه او د نورو د تعلیم ورکولو دپاره وکاروئ. ډېر حاصل باید ټول شي. تاسو ولې د تعلیم د خدمت له لارې د خدای لوګري نه کېږئ؟

اوس مونږ د تعلیم د خدمت د درس پای ته نږدې شوي یو. ښایي دا مناسبه وي چې فکر وکړئ چې څرنګه کېدای شي چې د تعلیم خدمت ستاسو د ژوند یوه برخه وګرځي. لطفاً لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

| | هو | نه |
|---|---|---|
| زه د تعليم اخيستنې څخه خوند اخلم<br>زه احساسوم چې مسيحي تعليم ته اړتيا لرم<br>وروسته له دې چې له يو چا څخه مې تعليم واخيست، مسيحي شوم.<br>يو نفر پېژنم چې غواړم هغه ته د مسيح په باره کښې تعليم ورکړم.<br>د مقدس کتاب د يوه آيت معني مې له يو چا سره کار کړې دی.<br>په دې باره کې مې فکر کړی دی چې يو چا ته چې د خپل ژغورونکي په توګه د مسيح د منلو په درشل کې قرار لري، څه ووايم<br>د مسيحي تعليم په سبب زما ژوندون بدلون وموند.<br>ما پخوا د يو داستان په ويلو سره د يو چا سره مرسته وکړه چې يو درس زده کړي.<br>ما د سوال او ځواب د طريقې په کارولو سره د چا سره د يو درس په هلکه بحث کړی دی.<br>له خدای څخه مې غوښتي چې زما سره مرسته وکړي ترڅو يو چا ته تعليم ورکړم.<br>دغې سلسلې زما سره مرسته کړې ده ترڅو د مسيحي تعليم د خدمت په اهميت باندې پوه شم. | | |

د خدای څخه وغواړئ چې ستاسو سره مرسته وکړي چې ته د خدمت کولو یو ځای پیداکړئ ترڅو په خپله خوښه هغه څه چې هغه یې غواړي، ترسره کړئ. که چېرې د خپل ژوند په باره کښې له نورو سره خبرې وکړئ، خوشالي به ستاسو په برخه شي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱) الف) غلط
ب) درست
ج) غلط
د) درست
ه) درست

۵) الف) ځکه په دې ډاډه کېږو چې د خدای قدرت زمونږ ملاتړکوونکی دی
ب) ځکه په دې توګه مونږ پوهېږو چې په خپل تعلیم کې د کومو نتیجو په لټه کې یو.
ج) ترڅو زده کوونکي درس زده کړي

۲) عیسی د خدای په قدرت سره تعلیم ورکاوه. تاسو هم کولای شئ چې داسې تعلیم ورکړئ. هغه د الهي حقیقتونو تعلیم ورکاوه او تاسو هم باید حقیقتونه بیان کړئ. هغه حقایق د خلکو د ورځیني ژوندون په هکله حقیتونه بیانول ترڅو د هغو په مطابق ژوند وکړي. تاسو هم باید د خلکو

دپاره بیان کړئ چې څرنګه کولای شي د حقیقت په مطابق ژوند وکړي.

۴) ج

۳) ب

# د تعليم خدمت

آيا غواړئ پوه شئ چې:

- مسيحي تعليم څه شی دی؟
- څرنګه کولای شئ نورو ته تعليم ورکړئ؟
- نورو ته د تعليم ورکولو ډېره ښه طريقه کومه ده؟

که چېرې ستاسو ځواب هو وي نو دا کتاب ستاسو دپاره ليکل شوی دی. د دې کتاب ورکړل شوي دستورونه ستاسو سره مرسته کوي ترڅو د خدای د کلام د تعليم ورکولو دپاره خپل استعداد قوي کړئ. تاسو به همدا شان دې ته هم متوجه شئ چې ستاسو ورځينی ژوند څرنګه نورو ته يو لړ حقيقتونه ورزده کوي.

دغه کتاب په ډېرې ښې طريقې سره ليکل شوی دی چې لوستل او د هغه د مطالبو زده کول آسانه دي. يوائې دا کافي ده چې د هغه لارښوونې په عمل کې پلي کړئ او خپل ځان و آزمايئ.

دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې يوه برخه ده چې د "مسيحي ژوند" په نامه يادېږي. د مسيحي ژوند سلسله ټول اتلس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه ولولئ.